# نیکه

نصير احمد احمدي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



»»»

د ډول غږ یودم ودرېد، د نارینه وو غوړې ځنې د دوی پر خولو شویو ټندو راکښته شوې، ښځو چیغې کړې، ماشومانو کورونو ته منډه واخیسته.

د اتڼ گرده داېره ماته شوه...ټولو غوندۍ ته کتل...

آس وشنېد، وړې تیزې ورغړېدې، کڼ سپاره کلي ته راغلل، سپرو زرې اغوستې وې، د پلته یې ټوپکو اوږدې نلۍ یې تر اوسپنیزو خولیو لوړې ښکارېدې، په چرمي تېکو (پوښونو ) کې ټومبلو تورو ټال خوړ ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسونه تر لوګي وهلو تورو دېګونو راوګرځېدل، د آسونو د ټنډو په تار تار سره بخونه زېړو وېښتو کې د لمر ژېړه رڼا پرته وه... د خولو کونجان یې سپینو ځګونو نیولي وو...ولاړو کلیوالو په وېره ورته کتل ...

یو چاغ پوځي له تور آسه کښته شو، له سره یې اوسپنیزه خولی لیرې کړه، یوه دېګ ته ودرېد، تر دېګ سرې لمبې راګرځېدې...

پوځي له خپلې ملا اوږده چاړه را خلاصه کړه، د دېګ سر یې پرې وښویاوه، خپلو ملګرو ته یې وکتل، یودم یې وخندل:

_د پسه ښوروا!

کلیوالو ته یې سترګې ور واړولې، چیغه یې کړه!

_ولې غلی شوئ؟! هله!

ډول وډنګېد، د اتڼ دایره جوړه شوه، اتڼ ورو وو، د اتڼ کوونکو په سترګو کې وېره ښکارېدله...ټولو پوځیانو ته کتل...

پوځي چیغه کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ یو څه ژوندي شئ!

دېګ ته يې وکتل، ژېړه ښوروا اېشېدله... په سپينو ځګونو کې به کله کله د غوښې بڅري سر ته راغلل.

پوځي پر آسونو سپرو کسانو ته وکتل، ويې ويل:

_هلئ نو! خپلې ګېډې ډکې کئ.

پوځيان له آسونو کښته شول، پر ليکي ليکي ټغرونو کېناستل.

چاغ پوځي چيغه کړه!

_مېلمانه عزت غواړي!

څو کليوالو په بيړه کاسي ور واخيستې. په دېګ کې يې څمڅې ووهلې، کاسې له غوښو ډکې شوې. شېبه وروسته د ټولو پوځيانو ژامې خوځېدلې...

د چاغ پوځي له خولې د غوښې وړې ټوټې باد شوې، ناره يې کړه!

_مړې سترګې مو راته نيولې دي! څه ته ګورئ؟ حاصلات راوړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول ودرېد، څو کسان کورونو ته ننوتل، يوه بوډا کړوپه ملا نيولې وه، راغی، وړه کڅوړه يې پر خاورو کېښوده.

درب شو، پوځيانو ور وکتل، پر ځمکه د دوو ډکو بوجيو د لوېدو دوړه لا نه وه ناسته. څو نورې غوټې هم راغلې...

چاغ پوځي خپلې وروځې سره ور وستې:

_بس ، همدومره؟!

پر ملا کړوپ بوډا پر خپله توره ټنډه د خيرن څادر پيڅکه تېره کړه، ويې ويل:

_صيب! موږ ټول اووه کوره يو، سږ کال د حاصلاتو ام چندان خونده نه وه.

چاغ پوځي ودرېد، دېګ يې د بوټ پر څوکه پورې واهه، د نغري لوګي وهلې تورې ډبرې وښوييدې، دېګ ړنګ شو، پر خړو خاورو د پخو غوښو ټوټې ولوېدې.

چيغه يې کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



_په ودونو کې پسونه پخوئ، خو د مالیې ورکړې ته بلا وهلي یاست…

غلی شو، ږنګ دېګ ته نږدې له ژېړې لندې خاورې مړه تاوونه پورته کېدل…کلیوال وارخطا ول.…

چاغ پوځي چیغه کړه!

_هلئ، کورونه وپلټئ!

پوځیان کورونو ته ور ننوتل، ښځو او ماشومانو چیغې کړې، ټول له کورونو را ووتل. شېبه وروسته د اتڼ میدان له غوټو او بوجیو ډک شو… یوه پوځي څو چرګې تر پښو نیولې وې، دوو نورو په اوږو پسې منډې وهلې…

چاغ پوځي تر ناوې راوګرځېد، ودرېد، په خندا یې وویل:

_له کومه یوه شم چې ښایسته یې که نه؟

یوه کلیوال ځوان منډه ور واخیسته، چاغ پوځي یې تر ستوني ونیو، ځوان (اخ) کړل، تر زړه یې نیزه ختلې وه.

چیغې شوې…د کلیوالو سترګې ردې راختلې وې…

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاغ پوځي وخندل، د خپل سره کوټ غاړه یې سمه کړه، د ناوې ټکري ته یې لاس ور واچاوه، نجلۍ لوڅ سر ودرېده.

کلیوالو چیغې کړې، یوه ولاړ آس ته اوړه ورکړه، آس پر سره دېګ ورغی، پوځي پر جوش ښورروا ولوېد، چیغه یې کړه، لمنې یې اور واخیست...په سرو غوړنجو کې پټ شو...بل ډبرې ته لاس کړ، ډبره د یوه پوځي سر ته سیخه شوه، له آسه کښته راولوېد...

آسونه وشنېدل،توري وځلېدې، له ټوپکو سپین لوګي را ووتل...کوچینی کلی سرو لمبو ونیو...

* * *

اوښ ټوډه ووهله، بار کوږ شو، دوو کسانو منډه ور واخیسته، جوال ته یې اوږې ورکړې.

یوه بوډا وخندل:

_میرویس خانه! په دې جوال کې څه دي؟ ډېر دروند مالومېږي.

پر آس سپور ځوان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_بابکه! په ملتان کې مې مسې لوښي ولیدل، خوند یې راکو، څه سکې راسره پاتې وې، درې زره دانې مې واخیستل.

آسمان وغرېد، بوډا خپل آس ته پونده ورکړه، د کاروان مخې ته ورغی، له نارې سره یې کتار اوښان، آسونه او کچرې ودرېدې.

بوډا په لوړ غږ وویل:

_هوا خړه ده، باید د د مې جوړولو له پاره یو ځای پیدا کو.

پر آس سپور له عمره پوخ سړی راغی، اوږده ږیره یې باد یوې خواته اړولې وه. له بوډا سره ودرېد، ویې ویل:

_سم وایې! کاروان ستړی دی، خو دا دښته مناسبه نه راته ښکاري.

بوډا وویل:

_میرویس خانه، ته څه پکې وایې؟

میرویس خان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_بابکه! شاولي سم وايي، په دې دښته کې به څه کوو؟ آسونه هم وږي دي، دلته خو شين ډکی هم نشته.

په عمر پاخه سړي وويل:

_تر دې تيټې غونډۍ ور هاخوا يو کوچينی کلی دی، ټول اووه کوره دي، خو اولس يې مېړنی دی، د مېلمنو په قدر پوهېږي.

بوډا ناره کړه!

_ياالله! حرکت.

د ليکه ولاړو واوښانو، کچرو او آسونو پښې وخوځېدې..

* * *

باران تيزي کوله... ځای ځای ډنډ سرې اوبه ولاړې وې، اوبو له وينو رنګ اخيستی و. د سوداګرو بار آسونه، کچرې او اوښان يوې خواته ولاړ ول.

ميرويس خان د يوه ماشوم په ختو لړلی جسد ور پورته کړ، د ماشوم تر زړه غشی وتلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نږدې غږ يې واورېد:

_هېڅوک هم ژوندی نه دی پاتې.

میرویس خان ور وکتل، د بوډا له ږیرې مړې اوبه څڅېدلې.

یوه ناره راغله:

_هلئ! دا ښځه ژوندۍ ده.

څو کسان ورغلل، یو نیم سوځېدلی لرګی یې پورته کړ. زړه ښځه یې له ختو راویسته. یوه سړي د اوبو د پټک سر خلاص کړ، د زړې ښځې په خوله کې يې  یو غوړپ اوبه ور واچولې، زړې ښځې وټوخل، یوه ځوان په بیړه وویل:

_څوک و؟ چا په دې حال کړې؟

د ښځې سترګې نیمکښه شوې، له وچو شونډو یې  څو مات – ګوډ ټکي را ووتل:

_د ، د، ګر...

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر یې یوې خواته وځړېد.

بوډا د ښځي اوږو ته ټکان ورکړ، چیغه یې کړه!

_ووایه، ووایه، د چا کار و؟

یو غږ یې واورېد:

_مړه ده.

بوډا د زړې ښځي پر نیمکښو سترګو لاس تېر کړ، ولاړ شو، شاوخوا یې وکتل، په ختو کې د انسانانو غوڅ شوي اندامونه پراته ول...په روغو جسدونو کې غشي او نېزې ولاړې وې...

بوډا ټیټ شو، به ختو لړلی له رنګه سور کوټ یې ورپورته کړ، ورو یې وویل:

_دا سره کوټونه یواځې د ګرګین عسکر اغوندي.

یوه ناره کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



_یوه خولۍ!

ټول ورغلل، بوډا په ختو لړلي اوسپنیزه خولۍ ور واخیسته، ویې ویل:

_اوس پوه شوئ، د ګرګین د عسکرو کار دی!

میرویس خان سوړ اسویلی وایست، ویې ویل:

_ټول څو کسان دي؟

یوه ځوان ځواب ورکړ:

_دوه ښېېته، دوه ویشت نارینه، نور ښځې او ماشومان.

یوه ناره راغله!

_دلته راشئ!

ډله ورغله، ټولو خپلو سترګو ته لاسونه ونیول، په ګڼو بوټو کې حلاله شوې، لوڅه لغړه ناوې پرته وه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا خپل څادر پرې واچاوه.

میرویس خان وویل:

_درې شپېته قبرونه وکېندئ.

* * *

آهنګر د آس پښه پر خپل زنګون کېښوده، ورو يې وويل:

_میرویس خانه، هاغه څټک راکه!

_کوم؟

آهنګر وخندل:

_د هندوستان مساپرئسترګي در کمزورې کړې دي، هاغه، بنی ته نږدې.

میرویس خان ورغی، څټک يې ور واخیست، آهنګر ته ودرېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آهنګر د آس د پښې پر پونده نال کېښود، میخ ته يې ځټک ونیو، آس وشنید، میرویس خان د آس قیضې ته لاس ور واچاوه.

آهنګر وویل:

_ډېر مزل مو کړی، له پخواني ناله څه نه دي پاتې!

یو چا ناره کړه!

_هګۍ، تازه هګۍ، هلئ، ارزانه شوې...

میرویس خان شاوخوا وکتل، خلک دوکانونو ته ولاړ ول... د سماوار تر مخ څو کسانو کرکان ( مړزان ) جنګول...

میرویس خان وویل:

_بازار څنګه دی؟

آهنګر د آس پر نال بل مېخ کېښود، سړه ساه يې وایسته:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ هغه پخوانی زور نه دی ور پاتې ، ته يې خپله وينې.

آهنګر ولاړ شو، د آس پر يال ( د څټ پر وېښتو ) يې لاس تېر کړ، ويې ويل:

_ښکلی آس دی.

له سره انګاره يې توره چايجوشه ور پورته کړه، ميرويس خان ته يې ختينه پياله ونيوله، ويې ويل:

_شنې چايې دي، همدا اوس مې دم کړې.

غلی شو، آس ته يې وکتل، ويې ويل:

_هغه سور آس دې څه کو؟

ميرويس خان د چايو پياله شونډو ته ور نږدې کړه، ويې ويل:

_په ملتان کې را مړ شو، مجبوره وم، پر دې آس مې د سپينو زرو څلور سيکې ورکړې.

آهنګر وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ارزي. مخکې مې يې غابنونه وکتل، له عمره يې ډېر وخت نه دی وتلی.

میرویس خان دېوال ته ولاړ نوی قیمتي مسي لوښی ور واخیست، لوښی میناتوري شوي واړه ګلان درلودل.

میرویس خان وخندل:

_ستا کار د تورو، لورونو، کړیو... او ځنځیرونو جوړول دي! دا لوښی دلته څه کوي؟

آهنګر سړه ساه وایسته:

_یوه ملګري مې راووړ، ویل يې چې يو چاته يې سوغات ور لېږم، د یادګار له پاره مې سږ کال ورباندې وکېنده!

میرویس خان لوښی پر بل مخ واړاوه، پر شا يې کوږ خط کېندل شوی و ( ۱۱۱۷ هجري، شمسي کال.)

میرویس خان سوړ اسویلی وایست، ویې ویل:

_ژوند څومره په منډه دی، مورکی مې لوستي ښځه وه، شاعري يې هم کوله، څو ورځې مخکې مې په کور کې څو زاړه کاغذونه وموندل، زما د زوکړې تاریخ يې لیکلی و. ۱۰۸٤هجري، شمسي کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی شو. ويې ويل:

_دري دېرش کاله! څومره ژر تېر شول.

آسونه وشنېدل، د پښو دربا راغله.

آهنګر او میرویس خان د آهنګري له دوکانه ووتل، آسان د کوڅې له سره تېز را راوان وو، عسکرو سره کوټونو اغوستي ول، اوسپنيزې خولۍ یې لمر ته ځلېدلې.…

میرویس خان یودم منډه واخیسته، ټوپ یې کړل، یو ماشوم یې په غېږ کې ونیو، دواړه په خاورو کې ورغړېدل... د آسونو نرۍ پښې یې تر څنګ تیرې شوې…

میرویس خان کېناست، د ماشوم سترګې ردې راختلې وې.

ماشوم یودم چیغه کړه، میرویس خان په غېږ کې ونیو، ورو یې وویل:

_اه ګرانه! مه ژاړه، هر څه تېر شول.

ماشوم ژړل…

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم يې له ځانه بېل کړ، د هغه پر سر، اوږو او لاسونو يې خپلې ګوتې وتپولې، ويې خندل:

_ګوره! روغ، رمټ يې، هېڅ هم نه دي دربانديې شوي.

يوه ښځه راغله، ماشوم يې په غېږ کې ونيو، ويې ژړل…

آهنګر وويل:

_وه خورې! ته خو پوهېږې چې دا د ګرګين اولاده…

يودم غلی شو، شاوخوا يې وکتل، ورو يې وويل:

_پر ماشومانو پام کوه!

ښځې ماشوم ور واخيست، په ژړا له هغه ځايه لاړه.

ميرويس خان او آهنګر بېرته د آهنګري دوکان ته راغلل. آهنګر د چايو پياله ور واخيسته، ورو يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_تېره ورځ يې همدلته له يوه ځوانه سر پرې کو، ګناه يې دا وه چې د ګرګين له يوه عسکره يې خپل پور غوښت.

میرویس خان سړه سا وایسته:

_د عبدالباري او د هغه د ملګرو کیسه څنګه وه؟

آهنګر بنی ووهله، تر سره انګار شنه، نرۍ لمبه راوګرځېده، ورو يې وويل:

_عبدالباري يې تېره جومه له اتلسو ملګرو سره په چوک کې زندۍ کو، جارچي ويل چې د صفوي حکومت پر ضد يې بغاوت کړی.

د نجارۍ د دوکان په وره کې يو بوډا ودرېد، يوه بېلچه يې واخيسته

بوډا روان شو، بېرته لنډ راوګرځېد، ورو يې وويل:

_زويه، ستړی يم، يوه پياله چاي خو راباندې ولوروه!

آهنګر د چايو پياله ور ډکه کړه. ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_بابا! ناولده ( نابلده ) راته ښکاره شوې، د کوم ځای یې؟

زاړه سړي وټوخل، په سینه کې یې غژهاری و. ویې ویل:

_کوچی یم.

میرویس خان وخندل:

_نو بېلچه څه کوې؟

بوډا سوړ اسویلی وایست:

_زویه، په خدایکه تر اوسه لا په بېلچه پوهېږم، ټول عمر مې له رمې سره تېر کړی، د ښار لمر خاته خواته پراته یو، بس! د حکومت بېګار دی، پرون یې عسکر راغلل، ویل یې چې یوه کلا جوړوو، له هرې کېږدۍ به دوه تنه راځئ!

میرویس خان وویل:

_له کومې خوا راغلي یاست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



_اوړی د غزني ناور ته ور خېژو، بس، د هوا په سړېدو سره کندار ته راځو.

_د غزني خواته څه خبرې دي؟

بوډا وټوخل، له چایو یې غوړپ وکړ، ویې ویل:

_ورک یې که زویه، خدای دې یې نه در ویني، ښه ورځ مو نه ده لیدلې، د مغلو لښکرو سلامت کلي وسوځول.

_نو خلک ولې غلي دي؟

_څه وکي، د بې اتفاقۍ دې رنګ ورک شي، په یوه خوله نه دي، داسې څوک نشته چې یو څو کسان ورباندې راټول شي.

بوډا له آهنګرۍ ووت.

آهنګر وویل:

_د ګرګین عسکرو ته نوې پلټه یې ټوپک راغلې، یو ډز کوي، خو وار یې خطا نه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آهنګر غلی شو، یوه لور ته یې ځېک ونیو، ویې ویل:

_ د ګرګین دېرش زره ګرجي او ایراني عسکر باید زموږ په غوښو ماړه شي!

دوهمه برخه

* * *

لس کلن ماشوم راغی، د خپل پلار تر څنګ کېناست، په خوابدي غږ یې وویل:

_ ابا! د آس پښه ماته شوه.

میرویس خان ور وکتل، ماشوم د لرګي آس ورته نیولی و.

میرویس خان مات انار په لوښي کې کېښود، آس یې ور واخیست.

ماشوم وویل:

_ ابا! حسین ماته کړه. بل آس راته راوړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان وخندل:

_دا آس مې له هندوستانه درته راوړی و، دلته په کندهار کې نه پیداکېږي.

د ماشوم سر وځړېد.

میرویس خان د هغه پر تورو وېښتو لاس تېر کړ، ورو یې وویل:

_راځه!

ماشوم یې تر لاس ونیو، څو ګامه یې واخیستل، ولاړو آسونو ته ودرېد، ویې ویل:

_محموده زویه، ته اوس لوی یې، په دې واقعي آسونو کې یو خوښ که.

د ماشوم سترګې وځلېدې، په خوند یې وویل:

_ابا! رښتیا وایې؟

یوه بل ماشوم منډه راواخیسته، په وړه ژبه یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ابا! زم پر آس سپرېږم.

محمود چيغه کړه!

_حسينه، تا زما د لرګي آس را مات کړ.

ميرويس خان وخندل:

_محموده، ورور دې تر تا کوچينی دی، غوسه مه پرې کوه!

ميرويس خان دواړه ماشومان پر يوه سپين آس کېنول. د آس قيضه يې ونيوله، په انګړکې راوګرځېد.

يوه ځوانه ښځه له کوټې راووته، محمود په خوشالۍ چيغه کړه!

_ادې! سپين آس زما شو.

ښځې وويل:

_وه سړيه! اولادونه لا کوچينيان دي، ونه لوېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان وخندل:

_محمود او حسین  باید د آس سورلی زده کړي.

چیغه یې کړه!

_دوران اکا!

د غواوو له غوجلې په عمر پوخ سړی را ووت، لاسونه یې په خوشایو ککړ وو.

میرویس خان وویل:

_داسې څوک شته چې د آس په سورلی پوه وي؟

په عمر پوخ سړي وویل:

_هو صیب! یو څوک پېژنم، عبدالروف نومېږي، سلیمان خېل دی، په څانګه ( د آس په وآسطه یوه لوبه ده) کې یې وړې ده.

میرویس خان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_سمه ده، تنخوا ورته وټاکه، زما دواړو زامنو ته باید د آس سورلۍ ور زده کي.

میرویس خان د آس قیضه پرېښوده، ښځې منډه ور واخیسته، میرویس خان تر لاس ونیوله، ویې ویل:

_مه کوه!

خپلو زامنو ته یې وکتل، ویې ویل:

_دوی دواړه خدای د لویو کارونو له پاره پیدا کړي دي.

چوترې ته ور وګرځېد، مات انار یې ور واخیست،ویې ویل:

_زینبه لورکۍ چېرې ده؟

ښځې وویل:

_په کوټه کې خپل کتابونه وایي.

میرویس خان د انارو سرې دانې خولې ته واچولې، په ډکه خوله یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_مولوی صيب  نورمحمد غلجی لوی عالم دی، ډېر څه به ترې زده کړي.

غلی شو، ويې ويل:

_کوچينی وم، مورکۍ مې څو عالمانو ته تنخوا ورکوله، ما به سبقونه ترې ويل، عربي ژبه او نور علوم به مې ترې زده کول.

غلی شو. سوړ اسويلی يې وايست:

_مورکۍ به مې يوه خبره ډېره راته کوله، ويل به يې چې ميرويسه زويه، ځان ورسوه! ته خدای د لويو کارونو له پاره پيدا کړی يې. بس! له ماشومتوبه مې د مورکی همدا خبره په ياد ده، غواړم چې په خپلو اولادونو هم سبق ووايم، پوهېږم، دوی د لويو کارونو له پاره پيدا شوي دي.

غلی شو، سړه ساه يې وايسته:

_خو ما تر اوسه کوم  لوی کار نه دی کړی!

ښځې د خپل خاوند پر اوږه سر کېښود، ورو يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_د مورکۍ خبره دې رښتیا ده، په ټول ښار کې ستا غوندي کامیابه سوداګر نشته. غریبانو ته لاس نیسې، اولس دربانډې راټول دی.

میرویس خان وویل:

_خو  لوی کارونه لا پاتې دي.

ښځې په حیرانۍ ورته وکتل…

میرویس خان وویل:

_ زړه مې خپلو خلکو ته خوږین دی، پردو یې پر غاړو پښې ایښې دي، تر  څه وخته؟!

غلې شو، خپلو زامنو ته یې وکتل،  محمود  د آس قیضه ټینګه نیولې وه، آس په انګړ کې راګرځېده.…

میرویس خان ځمکې ته وکتل، ورو یې وویل:

_دا دانې وینې؟

ښځې تر چوترې لاندې وکتل… په خاورو کې د انارو سرې دانې پرتې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميرويس خان وويل:

_زموږ خلکو په زړورتيا کې وړې ده، خو دوه په يوه لاره نه ځي، اتفاق نه لري، په يوه خوله نه دي، د يوبل پښې وهي...هر يوه ته خپل قوم او خپل خېل مهم دی، دوی د انارو دې دانو ته ورته دي چې په خاورو کې يې وينې...

ناڅاپه درب شو، د چوترې پر سر له سايبانه وړې لوتې راولوېدې... آس وشنيد، ماشومانو چيغې کړې...ميرويس خان منډه ور واخيسته، د آس قيضه يې ونيوله.

د ښځې رنګ تک ژېړ و.

ميرويس خان خپل زامن له آسه کښته کړل، په منډه له کوره ووت.

* * *

ګڼه ګوڼه وه، ميرويس خان د خلکو په مينځ کې په زحمت لار وايسته، ودرېد، عسکر پر آسونو سپاره ول، دوی به پر هغو کسانو د قمچينو وار کاوه چې مخکې به ور تلل.

مېريس خان مخامخ وکتل، د ارګ (جنګي کلا) تر مخ د توپ خولې ته نږدې د بنيادم په وينو لړلې پښې پرتې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان د څنګ سړي ته وکتل، ویې ویل:

_څه خبره ده؟

سړي په وېرېدلي غږ وویل:

_پهلوان  ابراهیم یې توپ ته وتاړه.

میرویس خان  جنګي کلا ته وکتل، په برجونو کې ولاړو عسکرو سره کوټونه اغوستي وو، د اوږدو ټوپکو نلی یې خلکو ته ور اړولې وې.

ډول وډنګېد، د کلا دروازه خلاصه شوه. لیکه کتار آسونه راغلل، ودرېدل، د سر پوځي یو تاو شوی کاغذ خلاص کړ، غاړه یې صافه کړه،  کاغذ ته یې وکتل، په لوړ غږ  یې وویل:

_په کندهار کې د صفوي حکومت د حاکم اعلیحضرت جلالتماب ګرګین خان وینا!

پهلوان ابراهیم  د برحاله حکومت پر ضد بغاوت کړی و، درې ورځې مخکې ونیول شو، توپ ته مو وتاړه. هر څوک چې د صفوي حکومت پر ضد بغاوت وکړي او یا د مالیې له ورکړې انکار وکړي، نو حال به یې همدا وي…

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول وډنګېد، کتار آسونه بېرته کلا ته ننوتل…

ډله تیت شوه، میرویس خان د آهنګري دوکان ته ورغی، آهنګر له انګاره راوتلې تکې سرې توري ته ځتک نیولی و…

میرویس خان کېناست، آهنګر وویل:

_بس دی نور، هره ورځ مو وژني!

میرویس خان غلی و.

آهنګر وویل:

_پوهېږې! په کلات کې یې سلامته کورنۍ وسوځوله. په هلمند او هرات کې هم همدا حال دی، په یوه میاشت کې یې اویا کسه توپ ته وتړل…

میرویس خان غلی و.

ځغ شو، د اوبو پر سر مړ لوګی را وګرځېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آهنګر توره له اوبو را وایسته، سترګو ته يې ونیوله، بېرته يې ښتک را واخیست···

میرویس خان وویل:

_ ملګري راټول که!

آهنګر په حیرانۍ ورته وکتل···

میرویس خان وویل:

_سبا بېګا زموږ په کور کې درته ماتله یم

* * *

یوه وویل:

_همدا سبا پر ارګ (جنګي کلا ) ورخېژو..

بل په خبره کې ور ولوېد:

_سل جنګیالي زه راولم···

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل چیغه کړه!

_مه یې ماتله کوئ! د ګرګین ظلمونه له حده تېر شول…

میرویس خان غلی و. ده اتو کتار ناستو کسانو ته کتل…هر یوه لاسونه خوځول…پر جنګي کلا حملې ته تیار ول…

آسونه وشنېدل، له کوځې د پښو دربا راغله. میرویس خان د لمپې پلته ټیټه کړه…

یوه نري سړي وویل:

_شرم دی، په خدای شرم دی، تر دې لویه بې غیرتي به چېرته وي چې د ګرګین د ګزمې له لاسه په خپلو کورونو کې نه شو غږېدلای.

د آسونو دربا لیرې شوه، میرویس خان لمپې ته لاس ور وغځاوه، پر خړ دېوال سیوري ښکاره شول.

میرویس خان ورو وویل:

_اوس هیڅ هم نه شو کولای! موږ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو چاغ سړی په خبره کې ور ولوېد:

_ولې، څه بلا وهلي یو، لاسونه نه لرو؟

میرویس خان وویل:

_تاسو ټول په خپلو خلکو کې نوم لرئ، ناز مو وړي، د جګړې له پاره څو کسان برابرولی شئ؟

یوه وویل:

_سل جنګیالي یې پر ما!

بل وویل:

څلوېښت به زه راولم!

د کوټې له کونجه بل غږ راغی:

_زه او ټوله کورنۍ مې تر وطن ځار. شپږ غښتلي ځوانان لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوپه چوپتیا شوه.

میرویس خان وویل:

_عبدالرحمانه، غلی یې!

دیوه ښایسته ځوان سر وځړېد، ورو یې وویل:

_اوس یې وخت نه دی، زموږ خلک اور نه خلي، دوی د ګرګین ظلم مني، خو توري ته به یې تیار نه کې، وایي چې د ګرګین لښکر مسلمان دی، څنګه به یې وژنو!

میرویس خان وویل:

_د عبدالرحمن خبره سمه ده! ساړه خورئ. په ښار کې له ارګه پرته شپږ نوري پوځي کلاوي هم پرتې دي. د شیر حاجي کلا دولس توپونه او دوه زره عسکر لري، د دولت اباد کلا ته خو نږدې نه شي ورتلای. د قیتول د غره پر سر کلا هم اسانه نه نیول کېږي. د علیمردان خان او د چهل زینو د غره پر سر کلاوي هم له نیولو وتلي دي.

په ارګ او دې نورو کلاوو کې د ګرګین یو دېرش زره عسکر پراته دي. یو هم بې توري او ټوپکه نه دی، یوائې د ارګ په پلنو دېوالونو څلوېښت توپونه اېښودل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو چاغ سړی په خبره کې ور ولوېد:

_خو موږ غیرت لرو.

میرویس خان وخندل:

_له عقله پرته غیرت، تباهي ده. پوهېږې! بېځایه احساسات په درد نه خوري، د عتیق الله کیسه خو ټولو ته مالومه ده، له درېیو سوو احساساتي ځوانانو سره د قیتول پر کلا ور وخوت، خو تر دېوالونو ام ور و نه رسېدل، څه توپونو وخوړل او څه هم ټوپکو.…

ټول غلي شول…

میرویس خان وویل:

_څو ټوپکه پیدا کولای شئ؟

د ټولو سرونه وځړېدل…

میرویس خان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_له یو دېرش زرو په جنګ پوه عسکرو، ټوپکو او توپونو سره جګړه اسانه نه ده، په پنځو- شپږو سوو جنګیالیو او تشو لاسونو دې خدایکه شل کړه.

ټول غلي ول.

میرویس خان وویل:

_تر اوسه مو دوه پښتانه په یوه خوله سره لیدلي دي؟ هر یو په خپل خپل او قوم پسې ګرځي... په خپلو مینځو کې بد بینه دي، ځینې داسې کسان هم شته چې پوره من دي، هر قوم تر بل یوه، ځان غټ ګڼي... د ګرګین ظلم په سترګو ویني، وطن یې ترې نیولی دی، خو ځینې وایي چې ګرګین مسلمان دی، له هغه سره جګړه روا نه ګڼي...

میرویس خان غلی شو، ناستو کسانو په حیرانۍ ورته کتل···

میرویس خان وویل:

_خپل خلک په لوی لاس مه وژنئ!

یوه وویل:

_نو څه وکو؟ همداسې په رڼو سترګو ورته وګورو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان وویل:

_زما خبره ومنئ، اوس خپلې توري د ګلابو تر پاڼو لاندې پټې کئ! موږ باید له عقله کار واخلو.

یوه وویل:

_یاالله، ته مخکې موږ درپسې…

بل وویل:

_نیمه شپه شوه، په ورو ګېډو اصفهان راباندې نیسې؟

ټولو وخندل:

میرویس خان په خندا کې ناره کړه!

_محموده زویه! ډوډۍ مو پسې څه کړه!

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آهنګر دوکان ته شپږ آسونه ودرېدل. آهنګر په بېړه له دوکانه ووت، تعظیم یې وکړ، ویې ویل:

_حسن خانه! په خیر راغلی!

له رنګه سور ځوان له آسه کښته شو، آهنګر په بېړه د لرګي څوکۍ ورته کېښوده، ځوان کېناست، آهنګر وویل:

_صیب! چایې واچوم؟

له رنګه سور ځوان وویل:

_کړۍ او زولنې څنګه شوې؟

آهنګر د یوې بوجۍ خوله خلاصه کړه، ځنځیرونه وشرنګېدل، څو زولنې یې ترې راوایستې.

ځوان یوه زولنه ور واخیسته، کش یې کړه، ویې ویل:

_ټولې څو دانې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



_اتیا، خو پنځوس نورې پاتې دي، بس، په لسو ورځو کې تیارېږي.

د ځوان تنده تروه شوه:

_د تیروو زولنو خونده نه وه، یوه بندې یوه زولنه وشکوله…

غلی شو، یودم یې وخندل:

_خو تښتېدو ته پاتې نه شو، تر زړه یې ګولۍ وخته.

ولاړو عسکرو وخندل.

آهنګر وویل:

_بېغمه اوسئ، دا ځل مې داسې زولنې جوړې کړې چې زمری به یې هم ونه شکوي.

سره ځوان وخندل:

_زمری؟! په کندهار کې زمری له کومه شو! دلته خو ټول ګیدړان دي.

ټولو عسکرو وخندل…

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آهنګر مخ سور شو.

ځوان وویل:

_سمه ده، تیارې شوې زولنې جنګي کلا ته  راولېږه، خو پاتې هم باید تر لسو ورځو پورې جوړې وي.

ځوان پر آس سپور شو.

آهنګر  په خواره خوله وویل:

_صیب، یوه شېبه صبر وکړئ!

آهنګر دوکان ته ننوت، یوه غوټه یې را واخیسته.

سره ځوان وویل:

_دا څه دي؟

آهنګر خوله جینګه کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



_صیب! په خپله یې وګورئ!

ځوان غوټه خلاصه کړه، د شنې چینې زرتار وځلېدل…

آهنګر وویل:

_صیب! یو ملګری مې سوداګري کوي، دا چینه یې له هندوستانه د زندان مشر ته راوړې ده.

ځوان چینه سره واړوله، ویې ویل:

_ښکلې ده، اصل وربښنم دي، زه به یې ور وسپارم، خو دا موږ یې ولې هېر یو!

آهنګر وویل:

_صیب! د بلا دې هېر شئ، زه به ورته ووایم، ملګری مې صفوي حکومت ته ډېر مخلص سړی دی، د حکومت مامورینو ته احترام لري…

ځوان آس ته پښه ورکړه. ټولو حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميرويس خان راغی، کېناست.

آهنګر وويل:

_بيا هم فکر وکه! دا خلک به دې خوار کي.

ميرويس خان وويل:

دې خلکو ته د نږدې کېدو له پاره بله لار نه لرم.

غلی شو. ويې ويل:

_داسي اعتباري کس شته چي د ګرګين له قوماندانانو سره شناخت ولري؟

آهنګر وويل:

_هو، د بارک دين په نوم يو ځوک پېژنم، د قراوول له يوه مشر سره يې قرار داد کړی، د جنګي کلا عسکرو ته خوراکي مواد برابروي.

ميرويس خان وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بارک دين په لاس بايد ځينو قوماندانانو ته سوغاتونه ور ولېږو.

دریېمه برخه

*  *  *

يوه اونۍ وروسته دوه عسکر راغلل، آهنګر يې جنګي کلا ته بوت. په يوه لويه کوټه کې يې کېناوه، عسکر ووتل، آهنګر لړزې اخيستی و.

شېبه وروسته چای ورته راغی، د آهنګر د زړه دربا ورو شوه. وخت ووت، آهنګر ځړېدلی سر ناست و.

دروازه خلاصه شوه، کوټې ته دوه کسه راغلل، دواړه له رنګه سره ول. په څېرو کې يې د غوسې نښې نه ښکارېدلې.

آهنګر په بېړه ودرېد، دواړو لاس ورکړ، مخامخ پر څوکيو کېناستل.

آهنګر خپلې چپنې وپېژندلې.

يوه يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_زه اسلم بېګ یم، د زندان مشر.

آهنګر خپل لاس پر تټر کېښود.

بل وویل:

_ماته رضا علي وايي، په جنګي کلا کې یوز باشي ( د سلو عسکرو مشر ) یم.

آهنګر موسک شو.

د زندان مشر وویل:

_خبرې لنډې ښې دي، بارک دین د جنګي کلا ځیني قوماندانان په وربښمینو چپنو او اصیلو غالیو ونازول، ویل یې چې میرویس خان رالیږلې دي، بارک دین ته دا قیمتي سوغاتونه تاسو ورکړي وو، دا میرویس خان څوک دی؟

آهنګر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_صېب! میرویس خان هوتک قومي مشر او لوی سوداګر دی، له کندهاره، هندوستان ته پشم، وچې مېوې او ځینې ګرانبیه بوټي وړي او له هغه ځایه وربېښم، مسي لوښي، زیورالات ... او نور د کار وړ شیان راوړي. میرویس خان په خبره پوه سړی دی، پر ډېرو قومونو یې ناز چلېږي···

آهنګر خبرې کولې، رضا علي او د زندان مشر وازې خولې نیولې وې···

آهنګر اوږدې خبرې وکړې، ویې ویل چې میرویس خان مخلص سړی دی، صفوي حکومت ته خاص احترام لري···

د آهنګر له خبرو وروسته د زندان مشرله هغه څخه وغوښتل چې له میرویس خان سره د لیدو زمینه ورته برابره کړي.

* * *

دوې ورځې وروسته میرویس خان له آهنګر او یوه بل ملګري سره جنګي کلا ته ورغی. په یوه مجلل سالون کې یې پذیرایي وشوه، د زندان مشر، د مالیې ټولولو مسوول او علي حسین ښه راغلاست ورته ووایه.

یوه شېبه د میرویس خان د تجارت په اړه وغږېدل، بیا سیاست ته راغلل، میرویس خان د ګرګین صفت وکړ، ویې ویل چې ښه مدیریت لري او په ډېر هوښیارتوب یې ټوله سیمه تر واک لاندې راوستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضاعلي او د زندان مشر خوشاله ول، له شتمن میرویس خان نه یې ډېره استفاده کولای شوای، دا ځوان سوداګر، ګرګین ته تر ټولو صادق کس ور ښکاره شو، خو د مالیې مسوول وویل:

_یوه پوښتنه، موږ هره ورځ ستاسو لس- شل کسان توپونو ته تړو، خو ته بیا هم زموږ صفت کوې؟

د آهنګر لینګې ولړزېدل.

میرویس خان وخندل:

_موږ له سلو کالو راپه دېخوا همدا حال لرو، تر غزني د مغولو لښکرې پرتې دي، شمالي برخې د تزاري روسیې تر واک لاندې دي، خو په ټولو کې تاسې ښه یاست، که لس وژنی، سل نور ژوند ته پرېږدی...بله خبره! زه تجار سړی یم، خپلې ګټې ته ګورم، په دې خبرو پسې دومره سر نه ګرځوم...

غرمې ته ډوډۍ راغله، مختلف خواړه او کباب شوی سلامت پسه پر مېز کېښودل شو...د مالیې مسوول د کلات له څو کلیو شکایت وکړ، ویل یې چې ډېر کلیوال مو ووژل، خو لا هم حکومت ته سمه مالیه نه ورکوي...د ګرګین په وړاندې مې اعتبار کم شوی دی... میرویس خان وریاده کړه چې دا مشکل به دی حل کړي...

وروسته یې له جیبه څو وړې قوطۍ را وایستې، یوه یوه قوطۍ یې د کوربنو مخې ته کېښوده. د زندان مشر په بېړه قوطۍ خلاصه کړه، یودم یې چیغه کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



_اوه خدایه، څومره ښکلې.

دوو نورو هم قوطۍ خلاصې کړې. په ټولو قوطیو کې د سرو زرو یوه یوه ګوتمۍ ایښې وه.

د زندان مشر  وویل:

_وګورئ! ماته خو هندوستاني هنر ښکاري، په دې ګوتمۍ کې څومره ظریفه میناتوري کار شوې ده.

میرویس خان وویل:

_دلته تش لاس راتګ ښه نه راته وایسېد، هیله کوم! دا واړه سوغاتونه په ډېر خه ومنئ!

د زندان مشرګوتمۍ په ګوته کړه، لاس یې  د مالیې د مسوول سترګوته ور نږدې کړ، په خوند یې وویل:

_ښکلې نه ده؟

د مالیې د مسوول ټنډه تروه شوه، څه یې ونه ویل.

میرویس خان د تګ اجازه وغوښته، کوربانه ولاړ شول، میرویس خان د سالون په دروازه  کې د مالیې مسوول ته  وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_د کلات له هغو ځو کلیو بېغمه اوسه، مالیه به په خپله کندهار ته درته راوړي.

د مالیي د مسوول سترګي وځلېدې…

* * *

میرویس خان کلات ته لاړ، خپل هغه قومیان یې راټول کړل چې صفوي حکومت ته یې سمه مالیه نه ورکوله.

میرویس خان له هغوی څخه هیله وکړه چې پاتې مالیه په خپله تر کندهاره راورسوي، یوه هم څه ونه ویل، خلکو د خپل مشر په هوښیاري باور درلود.

میاشت وروسته په خوراکي موادو بار کوچینی کاروان جنګي کلا ته ننوت. په زرګونو پوځیانو کې اوازه ګډه شوه چې د میرویس خان په نوم د هوتکو مشر ځو یاغي کلي د مالیي ورکړې ته مجبوره کړي دي.

په دوهمه ورځ میرویس خان یو لیک تر لاسه کړ، د مالیي مسوول مننه ترې کړې وه، لیکلي یې وو چې د ګرګین په وړاندې یې له لاسه وتلی اعتبار بېرته خپل کړ.…

میرویس خان به کله کله جنګي کلا ته ورته، د پوځ قومندانانو او ګرګین ته نږدې کسانو ته به یې سوغاتونه ور وړل…میرویس خان په لنډ وخت کې اعتبار پیدا کړ، د مالیي مسوول او ځینو نورو کسانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



به په يو شمېر مسايلو کې مشورې ترې اخيستې، خو ځينې وختونه به له ښاره د باندې ووت، د مختلفو قومونو له اعتباري کسانو سره به يې ناستې درلودې، هغوی به يې په پټه پوهول چې د ګرګين پر وړاندې سره يو موټی شي.

يوه ورځ د ماليې مدير له ګرګين سره د ليدو زمينه ورته برابره کړه.

* * *

ميرويس خان شاوخوا وکتل، په جنګي کلا کې ګڼ کورونه اباد وو، بازار يې درلود، يوې بلې خواته پلې او سپاره پوځيان ګرځېدل…

ميرويس خان د دوو عسکرو په بدرګه مخکې لاړ، په جنګي کلا کې يوه بله وړه کلا جوړه وه، دا کلا يې د نارنج ماڼۍ بلله.

ميرويس خان د نارنج ماڼۍ ته ور ننوت، ښکلې وه، په سپينو دېوالونو کې يې ګچينه مېناتوري ښکارېدله.

ميرويس خان يوه ارت سالون ته ور غی.

ګرګين له رنګه سور سړی و، شنې کځوړنې سترګې يې درلودې، ډېلو سرو برېتونو يې لاندينۍ شونډه پټه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان ورغی، تعظیم یې وکړ، شاوخوا یې وکتل، سالون هسک و، پر مخامخ دېوال د غروب غټه منظره را ځړېدله. په منظره کې لمر ټیټ و، د سمندر اوبه سرې ښکارېدلې…

گرگین وخندل:

_ستا نوم مې پخوا اورېدلی و، اوس مې له نږدې ولېدې! ښه، نو ته میرویس خان یې!

ودرېد، د گرگین ونه په تالار کې له ټولو ولاړو کسانو لوړه وه.

گرگین د مېز له سره یو جام ور واخیست، میرویس خان ته ور نږدې شو، له خولې یې د شرابو بوی ته!

ویې ویل:

_ملگرو مې ستا صفت راته وکړ، ویې ویل چې په کندهار کې صفوي حکومت ته تر ټولو مخلص انسان یاست.

غلی شو، یودم یې چیغه کړه!

_مېلمه ته یو څه راوړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو کس راغی، پر مېز یې پتنوس کېښود، شېبه وروسته یې میرویس خان ته یوه پیاله ونیوله. میرویس خان پزه کش کړه، له پیالې د تورو چایو بوی ته.

میرویس خان د زندان مشر ته اشاره وکړه، هغه لاسونه وپړکول. یو ځوان له یوه پتنوس سره راغی. میرویس خان د پتناسه پر سر ورېښمینه ټوټه لیرې کړه. ګرګین ته یې وکتل، ویې ویل:

_اعلیحضرته! تاسو په ډېر څه ارزی، تش لاس راتګ ښه نه راته وایسېد، د اوس له پاره مې یوه کوچینی سوغات ومنئ!

ګرګین د پتناسه له سره نیم ګز اوږده توپانچه ور پورته کړه، په ځیر ځیر یې ورته وکتل…

د مالیې مسوول وویل:

_صیب! انګرېزي توپانچه ده، په لاستي کې یې سره زر کار شوي دي.

د مالیې مسوول په بېړه کړکی ته ودرېد. د پردې څنډه یې پورته کړه، په خوند یې وویل:

_صېب! میرویس خان مخلص انسان دی، عالیجناب ته یې یو بل څه هم راوړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرګین کړکۍ ته ور نږدې شو، لاندې تک سپین ښکلی آس ولاړ و.

د مالیې مسوول وویل:

_ترکمنې آس دی، له جثې ( بدنه ) اوږ ښکاري، خو په منډه کې جوړه نه لري.

ګرګین بېرته پر خپله څوکۍ کېناست، جام یې ډک کړ، ورو یې وویل:

_یوه پوښتنه!

میرویس خان غلی و.

ګرګین وویل:

_میرویس خانه! موږ ولې دومره درباندې ګران یو؟

میرویس خان وټوخل، غاړه یې صافه کړه، ویې ویل:

_صیب! موږ پښتانه یو متل لرو، وایو چې ګټه په تاوان کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرګین وخندل. میرویس خان ته یې د کېناستلو اشاره وکړه.

ګرګین وویل:

_پوهېدم، پیشو د خدای له پاره موږکان نه نیسي.

ټولو وخندل...

میرویس خان وویل:

_صېب! زه تجار سړی یم، له سیاست سره مې نه ده جوړه، تل په خپلو ګټو پسې ګرځم...

ګرګین وویل:

_خو موږ تجاران نه یو، له جګړې پرته په بل څه نه پوهېږو، د ګټې له پاره مناسب ځای ته نه یې راغلی!

میرویس خان وویل:

_برعکس، تر دې ښه ځای نه شم موندلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرگین په حیرانۍ ورته وکتل…

میرویس خان وویل:

_زه لوی سوداګر یم، خو تر اوسه مې یواځې له هندوستانه مالونه راوړي دي، غواړم چې خپل تجارت اصفهان ته هم وغځوم. اورېدلي مې دي چې د اصفهان په لاره کې غله ډېر دي، کله کله پر کاروانونو حملې ور وړي، اوس به پوهېدلي یاست چې...

گرگین په خبره کې ور ولوېد، په خندا کې یې وویل:

_بس! پوه شوم، هوښیار سړی یې! د خپل تجارت امنیت ته دې پام کړی. سمه ده، موږ به ستا د کاروانونو په ساتنه کې مرسته درسره وکړو، خو...

غلی شو، ویې ویل:

_مخکې دې څه ویل؟

میرویس خان په حیرانۍ ورته وکتل…

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرګین یودم وخندل:

_اه! په یاد مې شول، ګټه په تاوان کېږي! خو په دې کې موږ تاوان کوو، ستا هر کاروان به زموږ عسکر بدرګه کوي، نو زموږ ګټه څه شوه؟

میرویس خان وویل:

_صیب! ګټه مو مالومه ده! په هر کاروان کې مو عسکرو ته تنخوا او د لارې مصارف درکوم، مالیه هم ستاسو خزانې ته درځي، پر دې سربېره جنګي کلا هم ځینې مصارف لري، هره میاشت به د سرو زرو شل سیکې درته رالېږم...

ګرګین وټوخل، جام یې پر سر واړاوه، ویې ویل:

_بیا هم خپلې ګټې ته ګورې! ستا په خبرو کې مې صفوي حکومت ته د صداقت کومه نښه ونه لیده.

دمالیې مسوول وویل:

_صیب! میرویس خان په کلات کې د څو باغي کلیو مالیه راټوله کړه.

ګرګین چیغه کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



_غلی شه! دا درېیم ځل دی چې همدا یوه خبره راته کوې!

د مالیې د مسوول سر وځړېد.

ګرګین میرویس خان ته وکتل، ویې ویل:

_پوهېږم! ته په خلکو کې دروند نوم لرې، ډېر قومونه دې ناز اخلي، موږ هم تر دې دمه کوم بد نه دي درنه لیدلي، خو یو شرط لرم، که دې پوره کړ، وبه منم چې صفوي حکومت ته مخلص یې!

* * *

باد تېز و، شنهاری یې خوت، سرې شګې بادېدلې...آس ړنګ شو، سړی ترې ولوېد، نور آسونه ودرېدل. دوه مول وهلي کسان راغلل، له آسه لوېدلی سړی یې له شګو پورته کړ.

یوه چیغه کړه!

_بلوخ څه شو؟!

د دوړو له مینځه ناره راغله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



_څه وايې؟

چيغه باد ورسره يو وړه.

له ونې لنډ سرۍ راغی، د مخکيني آس قيضه يې ونيوله. شپېږ آسونه پسې روان شول، دوړې وې... لاره نه ښکارېدله...شګې د سپرو کسانو پر لوڅو ټنډو تېرې لګېدې...

آسونه د شګو د يوې هسکې غونډۍ په لمنه کې ودرېدل...

سپاره کښته شول، هر يوه د خپل آس قيضه تر مټ تاو کړه، څادرونه يې پر مخونو ورکش کړل، غلي پرېوتل...

شېبه وروسته باد له زوره ووت، د شګو دانې يې نه شوای پورته کولای، خو مړه دوړه لا نه وه ناسته.

يوه سړي مخ لوڅ کړ، په زوره يې وويل:

_بلوڅه! په څه غم دې واړولو.

څادرونه ليرې شول، شپږ کسه کېناستل، مولونه يې خلاص کړل، يو بل ته يې وکتل، ويې خندل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو پر خپلو ټندو ځادرونه تېر کړل.

میرویس خان وویل:

_له اوبو پرته مو خدایکه مخونه پاک شول.

یودم یې ناره کړه:

_بلوڅه! څه شوې؟ تا خو ویل چې لاره را مالومه ده!

تک تور ډنګر سړي په خپله ځوکړه ږیره کې ګوتې تېرې کړې، ورو یې وویل:

_خان صیب! نه یم غلط، په دې دښته کې مې زلمیتوب تېر شوی دی، هره خوا یې رامالومه ده.

آهنګر په خبره کې ور ولوېد:

_اې د ظالم زویه! دا څنګه زلمیتوب دی، دا درې ورځې دې په شګو کې روان کړي یو، شین ډکی مو ونه لید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلوخ وويل:

_دې ته رېګ روان وايي، يوه ورځ د شګو ګڼې غونډۍ جوړې شي، بله ورځ د ورغوي غونډې خلاص ميدان وي...دلته به لاره د ستورو له مخې پيدا کوې.

ميرويس خان وويل:

_خواړه څومره پاتې دي؟

آهنګر ولاړ شو، د آس پر زين پرته بوجۍ يې په خپلو ګوتو کې ټينګه کړه، ويې ويل:

_د آسونو وربشې کمې دي، خو زموږ چاره کېږي، دومره څه لرو چې دوې – درې ورځې مو ژوندي وساتي.

يوه بل وويل:

_خو پتکونه په تشېدو دي، له اوبو پرته ګذاره سخته ده.

ميرويس خان له خپلې ملا د اوبو پتک خلاص کړ، ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_يو څه اوبه پاتې دي، که ترې ياست نو ويې څښئ!

غلی شو، بلوڅ ته يې وکتل، ويې ويل:

_ځو؟

_نه صيب، د شګو طوفان ټوله لاره رانه ګډوډه کړه، له ستورو پرته هيڅ هم نه شو کولای.

يو غبر راغی.

_خدای دي وريځ نه را پيدا کوي، که نه نو همدلته مو مړه بوله.

ټولو وخندل.

شپېه وروسته ټولو تيمم وواهه، قبله نه مالومېده، اټکلي ودرېدل.

وخت ووت، د ماښام له لمانځه سره ستورې وځلېدل...ډله روانه شوه، ټوله شپه يې مزل وکړ، د سهار په خړه کې يې اذان واورېد. ورغلل، په سپېره دښته کې اوه – اته خړې کومبدې ښکارېدلې... لږ ور هاخوا تورې رمې پندې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلوڅ ځا ته ورغی، یوه وړه ډبره یې ور واخیسته، لاس یې د ځا پر سر ونیو، ګوتې یې خلاصې کړې. ښه شېبه غلی و، وروسته یې په اوبو کې د تېږې د لوېدو غږ واورېد، ټنده یې تروه شوه:

_سل ګزه لاندې دي، زما له وسه وتلې ده.

میرویس خان د ډولچې پړي ته لاس ور وغځاوه، خو تر هغه مخکې آهنګر پړی ونیو، د څرخ غنجا شوه، له مخامخ کوره یو څوک را ووت، بېرته کور ته ننوت، دوې ختیني کوزې یې راوړې.

ټولو اودسونه وکړل، په دښته کې په ملا پسې ودرېدل.

وروسته  چای راغی، د شیدو چای، پیروی اوتوده ډوډۍ وه.  یواځې بلوڅ خبرې کولې، نور د کلیوالو په ژبه نه پوهېدل، بلوڅي یې ویله…

له لمر ختو سره یې پټکونه ډک کړل، ډله روانه شوه، ټوله ورځ یې مزل وکړ، د شپې د شګو د دوو غونډیو په مینځ کې پرېوتل.

سهار د میرویس خان  اوږه وخوځېده، سترګې یې رڼې کړې، لمر هسک ولاړ و.

میرویس خان په بېړه کېناست، ویې ویل:

_باید لمونځونه راوګرځوو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



څواب یې وانهورېد.

ملګرو ته یې وکتل، د ټولو سترګې رډې راختلې وې، مخامخ غونډۍ ته یې په وېره کتل.

د میرویس خان زړه ولړزېد، د مخامخ غونډۍ پر سر څو سپاره ولاړ ول.

میرویس خان شاته وکتل، لس- دولس آسونه را روان ول…

آهنګر خپلې توري ته لاس کړ.

میرویس خان  وویل:

_د جګړې له پاره نه یو راغلي!

آهنګر وویل:

_غله دي!

میرویس خان په خبره کې ور ولوېد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_تر وخت مخکې پرېکړه مه کوه!

غونډۍ ته یې وکتل، سپرو ټوپکې ورته نیولې وې...

میرویس خان وویل:

_ځانونه مه وژنئ، خبره نه ده مالونه، د تورو او ټوپکو هم نه سره کېږي!

سپاره راغلل، څو ګامه لیرې ودرېدل. آسونه او پر آسونو سپاره کسان تک تور ول.

یو رامخته شو، په لوړ غږ یې څه وویل:

میرویس خان خپل بلوڅ ملګري ته وکتل، بلوڅ وویل:

_بلوڅان دي، وایي چې څوک یاست؟

_نو ولې غلی یې؟

بلوڅ ناره کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان یواځې په خپل نوم او د هوتکو په ټکي پوه شو.

مقابل لوري څه وویل، میرویس خان بلوڅ ته وکتل، بلوڅ وویل:

_وایي چې دلته څه کوئ؟

میرویس خان موسک شو:

_خو ورته ووایه چې د څه له پاره راغلي یو، ته نه پوهېږې؟!

بلوڅ ناره کړه!

میرویس خان یواځې د بلوڅو د خان شهسوار په نوم وپوهېد.

مقابل لوري ناره کړه، بلوڅ وویل:

_وایي چې وسلې وغورځوئ!

د آهنګر تندی تریو شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_دا نو نه منم!

ميرويس خان خپله توره وغورځوله. نورو ملګرو يې هم همداسې وکړل، يواځې آهنګر غلی ولاړ و. ميرويس خان د آهنګر پر پښه ور وخووت. آهنګر اخ کړل، توره يې له لاسه ولوېده.

يو بلوڅ راغی، تورې يې ور ټولې کړې. بل د ميرويس خان او د هغه د ملګرو لاسونه ور وتړل.

دوو سپرو د خپلو آسونو تشو ته پوندې ورکړې، تور آسونه تېز ول، په لنډ وخت کې د شګو تر غونډۍ واوښتل...

د غرمې سيوری لا نه و ړنګ چې تللي آسونه بېرته راغلل، خپلې ډلې ته ور وګرځېدل، يو يې له يوه مول وهلي دنګ سړي سره ودرېد،، څه يې وويل.

مول وهلی سړی په بېړه راغی، د ميرويس خان او د هغه د ملګرو لاسونه يې ور خلاص کړل. څو ځله يې يوه خبره وکړه. ميرويس خان خپل بلوڅ ملګري ته وکتل، هغه وويل:

_بخښنه غواړي.

ميرويس خان او ملګري يې د بلوڅو په بدرګه روان شول. ماسپښين يوې تنګې درې ته ورسېدل، ميرويس خان له پنځو ورځو وروسته ډبرې ليدلې... شنو ونو ته ورسېدل، له ډبرو اوبه را تويېدلې... په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شنه چمن کې تورې کېږدۍ ولاړې وې. د یوې کېږدۍ تر مخ  تر سرو لمبو پورته پر سیخ پېیلی سلامت پسه راتاوېده.

یو دروند غږ راغی!

_سترګې مو روښانه، په خیر راغلئ!

له یوې کېږدۍ یو تور چاغ سړی راووت. تک تور ډبل برېتونه یې درلودل، په تورو شونډو کې یې سپین غاښونه له ورایه ښکارېدل…

چاغ سړي میرویس خان او د هغه ملګرو ته کلکه غېږ ورکړه، مول وهلي کس یې تر غوږ کش کړ، په خندا یې وویل:

_دا سوډر مې زوی دی، ځورولي خو به یې نه یاست؟

میرویس خان  غلی و.

چاغ سړي وویل:

_هلی نو، ګرمي ده!

www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول کېږدۍ ته ننوتل. پر ليمڅو کېناستل، ميرويس خان ګرد بالښت ته ډډه ووهله! ويې ويل:

_ياره شهسوار خانه! په دې دښته کې دې اجب شين ځای موندلی دی.

چاغ سړي وخندل:

_هو والله، په ګرمۍ کې دلته راځم.

يودم يې چيغه کړه! په بلوڅي يې څه وويل!

ميرويس خان ته يې وکتل، ويې ويل:

_شونډې مو سپېرې دي، ور غږ مې کړل چې اول ډوډۍ راوړئ!

ميرويس خان غلی و.

شهسوار د وچکالۍکيسې را واخيستې، ويې ويل چې د مالدارۍ خونده نشته، د ده قوم ته يې يې درونډ تاوان ور واړاوه، رمې په نيمايي ودرېدې... بيا يې د ګرګين د ظلم کيسې وکړې، ياده يې کړه چې قوم يې درنې ماليې پر ملا مات کړ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی شو، یودم یې خپل تندی په څپېړه وواهه! په خندا یې وویل:

_اجب سړی یم، دې تودو شګو مې ماغزه را وچ کړې دي، ومې نه پوښتل چې دا اوږد مزل مو د څه له پاره راوهلی دی؟ پوهېږم، بې څه خو نه یاست راغلي!

میرویس خان وخندل:

_درته وایم یې!

شهسوار یودم وخندل:

_اه ظالمه! هغه باغ دې اوس هم شته، اجب انار یې لرل، پنځه کاله ووتل، تر اوسه مې لا په ژبه د انارو څکه پرته ده.

غلی شو، ویې ویل:

_ښه نو، د څه له پاره راغلي یاست؟

میرویس خان وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_لکه چې له مېلمنو په تنګ يې؟

شهسوار خپل تېتر وډباوه: !

_شهسوار خان د غيرتي خلکو نوکر دی.

د سنيو دسترخوان هوار شو، دوو کسانو غټ پتنوس راووړ، سلامت پسه پکې ايښی و.

شهسوار خان وويل:

_يالله.

د پسه سلامت ورون يې ور وشکاوه. غابنونه يې پرې ټينګ کړل، ناستو کسانو ته يې وکتل، په ډکه خوله يې وويل:

_څه ته ګورئ؟

ميرويس خان وويل:

www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



_نه يې خورو.

د شهسوار خان سترګې رډې راوختې.

میرویس خان وویل:

_نوه مو نیولې ده!

شهسواز خان وويل:

_روژه؟!

آهنګر وويل:

_په پښتنو کې یو دود دی، په بدي او یا بله ستونزه کې یوه خوا د تاواني شوي کس کور ته په جرګه ورځي، تر څو چې جنجال نه وي حل شوی او یا يې قاتل نه وي ببنلی، د هیڅ شي څکه نه کوي. دې ته نوه وايي.

شهسوار خان وخندل، خپله چاړه يې د کباب شوي پسه په سینه کې خښنه کړه، په ډکه خوله يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_وایه! له ناموسه پرته هر څه ته درته ولاړ یم، سر مې بېل که، څه به ونه وایم، د هوتکو خان او خپل پخوانی ملګری به ولې خپه کوم.

میرویس  خان وویل:

_ژمنه ده؟

شهسوار وخندل:

_شهسوارخان  له خپلې خبرې نه اوړي، اوس ډوډۍ درواخلئ.

میرویس خان وویل:

_شل ګرجي عسکر غواړم.

شهسوار خان یودم وټوخل، لاړې یې باد شوې، ورون یې کېښود، د اوبو ډک جام یې پر سر واړاوه، د خپلې تورې لونګۍ پیڅکه یې پر خوله تېره کړه، تندی یې تریو شو، ویې ویل:

_ډوډۍ دې را زار کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



_خو تا ژمنه کړې!

شهسوارخان وویل:

_ما کوم ګرجی عسکر نه دی لیدلی!

میرویس خان وویل:

_دا عسکر شل ورځې وړاندې د رباط په سیمه کې تري تم شول.

شهسوار خان په خبره کې ور ولوېد:

_په بلوڅو کې خو کم خانان نه دي، بل ځای یې پسې غواړه!

میرویس خان وویل:

_خو په رباط کې ستا قوم پروت دی، ته یې مشر یې او ستا له اجازې پرته هېڅ هم نه شي کولای.

شهسوار خان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ډوډۍ درواخلئ!

میرویس خان خپلو ملګرو ته اشاره وکړه، ټول ودرېدل.

شهسوار په بېړه تر پایڅې ونیو، میرویس خان کېناست، شهسوار وویل:

_په ګرجي عسکرو څه کوې؟

_ګرګین رانه غوښتي!

شهسوار چیغه کړه!

_ته د خپلو خلکو له دښمن سره مرسته کوې، پوهېږې، ګرګین سلامت کلي وسوځول، ښځې یې بې ستره کړې، ماشومان یې تر تېغ تېر کړل، یواځې په بلوڅو کې یې اته سوه کسان ووژل...

میرویس خان وویل:

_پوهېږم.

شهسوار خان په حیرانۍ ورته کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميرويس خان وويل:

_پر ما ځومره باور لرې؟

_تر ځان هم زيات!

نو زما خبره ومنه، زه داسې څه نه کوم چې د خپلو خلکو او وطن په تاوان وي.

شهسوار فکر په مخه کړ، يو دم يې وخندل:

_سمه ده، اوس ډوډی وخورئ!

چيغه يې کړه!

_زما چيلم راوړئ. د هوتکو خان ته پسه کم ښکاره شو، پوهېده چې زه ډېر خوراک کوم، اشتها يې را وسوځوله…

ټولو وخندل.…

ځلورمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

د سمڅې په خوله کې دوو ولاړو مسلح بلوڅو پر خپلو سینو لاسونه کېښودل.

شهسوار وویل:

_میرویس خانه! سمڅې ته ور کښته کیږو!

په سمڅه کې تیاره وه، میرویس خان او ملګري یې ودرېدل.

شهسوار چیغه کړه!

_یو څه راوړئ!

د سمڅې په خوله کې سره رڼا را وګرځېده، یو څوک راغی، د لرګي په سر کې له تاو شوې غوړې ټوټې سرې لمبې پورته کېدلې.

ټول مخکې لاړل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان ودرېد، په حیرانئ یې وویل:

_دا دې څه کړي؟

مشعل یې ور واخیست. د ناستو کسانو پښو ته ځنځیرونه ور لوېدلي و، ټول څلور هډوکي ښکارېدل. ببرو ږېرو او سرونو یې د سمڅې پر ډبرو تېره سیوري جوړ کړي ول... د ټولو سترګې ردې راختلې وې...

شهسوار خان یو بندي په پښه پورې واهه، ځنځیرونه وشرنګېدل...

شهسوار خان وخندل:

_شل ورځې مې یواځې شړومبې ورکړې دي!

میرویس خان مخکې لاړ، بندیانوپه حیرانئ ورته کتل...

شهسوار وویل:

_راځئ! ساه مې بنده شوه، له دې سرکوزو د شړومبو تروش بوی لټېږي.

ټول د باندې ووتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان وویل:

_ما وګڼل، ټول اتلس کسان  وو.

شهسوار وویل:

_څه یې کوې، همدا بوځه!

_خوګرګین راته ویلي و چې شل تنه دي، د دې عسکرو مشر د ګرګین نږدې ملګرى دى.

شهسوار وخندل:

_راځه!

یوې وړې کندې ته کښته شول، ګڼ مچان والوتل.

شهسوار خپلې پزې ته لاس ونیو.

ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_دا یې هم شل.

میرویس خان مخکې ورغی، د ډبرو په مینځ کې دوه کسان پراته ول، د یوه په ټټر کې لوی پرار ښکارېده.

شهسوار وویل:

_همدا چاغ سرکوزی یې مشر و، ډېرې چیغې یې وهلې، بس، حوصله یې راختمه کړه. هغه بل یو څه تازه دی، دوې ورځې یې نه دې وتلې، په سمڅه کې مار وچیچه.

دواړه بېرته پورته وختل.

شهسوار وویل:

_خو یوه خبره! د عسکرو ټوپک او آسونه به نه رانه غواړې!

میرویس خان وویل:

_نو دا څلور هډوکي ګرجیان به دا دومره اوږده لاره څنګه وهي! په شړومبو دې کولمې ور سورۍ کړې دي، پلې هم نه شي تلای!

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهسوار وخندل:

_غم مه کوه! ښې مستې خرې به درکم.

میرویس خان وخندل.

شهسوار په خندا کې وویل:

_یوه بله، د عسکرو د کوټونو پوښتنه به هم نه رانه کوې، اجب سره پنډ کوټونه ول، خرو ته مې ګلالۍ کټې ترې جوړې کړې!

* * *

میرویس خان خپل لومړني هدف ته ورسېد، د ګرجي ګرګین شرط يې پوره او د هغه اعتماد يې تر لاسه کړ، دا خبره د اصفهان تر درباره پورې ورسېده چې یوه پښتون هوتک خان، اتلس ګرجي یرغمل عسکر راخوشي کړل...

میرویس خان به کله کله په ارګ کې د نارنج ماڼۍ ته ورته، ګرګین او لوړو مقاماتو ته به يې مشورې ورکولې...ده د خپل شناخت او په خلکو کې د ګرانښت په برکت له ځينو هغو قومونو مالیې راټولې کړې چې د مالیو په ورکړه کې يې سستي کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان د ګرګین د وسلو له مسوول سره وپېژندل، مېلمستیا یې ورته وکړه او په مختلفو سوغاتونویې ونازاوه...میرویس خان ته مالومه شوه چې دا سړی د پیسو په مقابل کې تر هر څه تېر دی. یوه ورځ یې د وسلو د ډېپو مشر ته د سرو زرو پنځوس سیکې ورکړې، هغه هم د شپې په تیاره کې دوه سوه نوي دهن پر ټوپک ورته راوړل...

آهنګر یو ټوپک ور واخیست، د ټوپک په خزانه کې یې پټاکی کېښوده، باروت او غټه چره یې د ټوپک له خولې ور واچوله، پر اوسپنیز سیخ یې تخته کړل، د ونې پر تنې یې ډز وکړ.

آهنګر خوشاله و، خو دا یې هم وویل چې تر انګریزي ټوپکو ښه نه دي.

میرویس خان خپل ورور عبدلعزیز کابل ته ولېږه، ورته ویې ویل چې په یوه چل د کابل له مغولي حکمران څخه انګریزي ټوپک واخله...

میاشتې ووتې...میرویس خان او د هغه ملګرو به وسلې زېرمه کولې...

دی به د پخوا په شان د ګرګین مهمو جلسو ته ورته...په جنګي کلا کې یې محبوبیت ډېر شوی و، خبره یې چلېدله... ان د کلا ځینو لوړو مقاماتو به د ګرګین پر ځای له میرویس خانه مشورې اخیستې...دې کار ګرګین په غوسه کړ، خو په خوله یې څه نه ویل، ګرګین پوهېده چې میرویس خان په جنګي کلا او ان د اصفهان په دربار کې ښه نوم لري، ځکه یې له دلیله پرته څه نه شوای ورته ویلی، خو په پټه یې د میرویس خان د څارلو له پاره ځینې کسان وګومارل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان هم پوهېدلی و، ده داسې ګام نه اخیست چې ګرګین ته ثبوت پرېږدي... خو یوه ورځ هر څه بدل شول... سهار یې کور ته د ګرګین عسکر ورغلل او میرویس خان یې جنګي کلا ته بوت.

* * *

د میرویس خان سترګې رډې راوختې، لینګي یې ولړزېدل، پر دېوال یې لاس کېښود.

آهنګر د لوی سالون په مینځ کې ولاړ و، له خولې یې وینې بهیدلې، لاسونو او پښو ته یې ځنځیرونه ور لوېدلي وو.

میرویس خان د ګرګین په غېږ جتکه وخوړه!

_ها! میرویس خان! راځه، تاته ماتله وو.

میرویس خان ورغی، تعظیم یې وکړ، شاوخوا یې وکتل، په سالون کې ولاړ ټول مقامات شناخته ول.

ګرګین وویل:

_وبخښه، په دې شنه سهار کې مو مزاحمت درته وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ شو، زانګې وانګې راغی، میرویس خان ته مخامخ ودرېد، له خولې یې د شرابو بوی ته، بیا تر آهنګر راوګرځېد، ویې ویل:

_میرویس خانه! دآسړی پیژنې؟

میرویس خان آهنګر ته وکتل، سترګه یې تکه شنه وه...

میرویس خان وویل:

_هو، زما ملګری دی!

ګرګین وخندل، لاړ او پر څوکی کېناست. جام یې پر سر واړاوه، ویې ویل:

_آهنګر مو له دېرشو توپکو سره ونیو!

د میرویس خان زړه ولوېد.

ګرګین وویل:

_پوښتنه نه کوې چې څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان غلی و.

ګرګین وخندل:

_تېره شپه زموږ ګزمې ونیو، خبره مالومه شوه، د ډېپو مشر خیانت کړی، پر آهنګر یې وسلې خرڅې کړې وې.

میرویس خان وویل:

_ښه نو، خاین معلوم دی، د ډېپو له مشره پوښتنه وکړئ! زه مو...

ګرګین په خبره کې ور ولوېد:

_د هغه په اړه مې فکر کړی، خو دې سړي دا ټوپک تاته اخیستل.

میرویس خان وخندل:

_زه تجار سړی یم، په بېځایه شیانو پیسې نه ورکوم، له ټوپکو مې کرکه کېږي، همدا اوس راته وګورئ، د نوکانو د اخیستلو چاقو هم نه راسره ګرځوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



_خو د ډېرو مسوول بل څه وايي. په دوو قمچينو يې اقرار وکړ چې دا وسلې يې پر تا پلورلې!

ميرويس خان وويل:

_د يوه نفر خبره ثبوت نه ده، تاسو ما پېژنئ چې صفوي حکومت ته صادق انسان يم.

ګرګين وخندل:

_اسانه ده، اوس به يې دوه نفره کړو.

لاسونه يې سره وجنګول، له ونې ټيټ، تور سړی راغی، چاړې او امبورونه پسې ځړېدل.

ګرګين وويل:

_آهنګر په خبرو راولئ!

تور سړي په خواره خوله وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_صیب! دا سړی له ډېرې جوړ دی، دوه غابنه مو ور وایستل، د کېڼ لاس ګوتې مو ور ماتې کړې، خو اقرار یې ونه کړ.

ګرګین چیغه کړه!

_احمقه! د ګوتو نوکان یې لا پاتې دي!

تور سړي د آهنګر نوک ته امبور ونیو، آهنګر چېغه کړه، ځنځېرونه وشرنګېدل، پر ملا تاو شو، کېناست. پر غولي سور نوک ولوېد.

میرویس خان سترګې پټې کړې.

ګرګین آهنګر ته ورغی، تور سړي آهنګر تر ولیو ونیو، آهنګرودرېد.

ګرګین چیغه کړه!

_ووایه! وسلې دې چاته اخیستې؟

آهنګر تو کړل، د ګرګین پر سره مخ سرې لاړې وبهېدې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



تور سړي آهنګر پر ژامه وواهه! آهنګر ولوېد، ویې ټوخل…

ګرګین پر خپل مخ لاس تېر کړ، ویې ویل:

_همدا نن یې توپ ته وتړئ!

تور سړي آهنګر تر ولیو ونیو، دواړه له سالونه ووتل.

ګرګین وویل:

_میرویس خانه! ته خاین یې!

میرویس خان وویل:

_نه! زه صفوي پاچا ته صادق یم.

ګرګین چیغه کړه!

_دا خاین زندان ته یوسئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه عسکر راغلل، د ميرويس خان لاسونو ته يې کړۍ ور واچولې، له سالونه يې وايست.

چوپه چوپتيا شوه، ګرګين پر څوکۍ کېناست، له ډېرې غوسې يې سره ډبل برېتونه لړزېدل.

شپېه وروسته يې د جنګي کلا ټول مقامات راټول کړل، ګرګين او ځينو نورو ګرجي قوماندانانو ټينګار کاوه، ويل يې چې ميرويس خان خيانت کړی، بايد توپ ته وتړل شي، خو د جلسي ډېره برخه په دې باوري وه چې ميرويس خان ساده سړی نه دی، د هغه وژل به قومونه راوپاروي، په کندهار او شاوخوا سيمو کې به د ګرګين حکومت کمزوری کړي او کمزوری ګرګين به صفوي پاچا ته هم خوند ورنه کړي.

په پای کې ټولو پرېکړه وکړه چې ميرويس خان لاس تړلی اصفهان ته ولېږي.

* * *

اوږده زېرزميني له چيغو، نارو او زګرويو ډکه وه...دواړوو خواوو ته اوسپنيزې پنجرې ولاړې وې... تر پنجرو ور هاخوا بنديان پراته ول···

ميرويس خان پنجرې ته ور وښويېد. د پنجرو په پای کې پراخ ځای ښکارېده. په دېوالونو کې غټې شمعې بلې وې، له ميخونو پر ډکې څوکۍ يو ځوان تړل شوی و، ځوان چيغې وهلې...تر پايڅو يې سرې وينې رواني وې···

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل تن یوه بوډا ته ولاړ و... نوکان یې ترې ایستل···

له چته د دار حلقې را ځوړندې وې···

د زندان ډبله دروازه وچونګېده، رڼا راغله... په زینو کې یو چا چیغه کړه! میرویس خان د زندان د مشر غږ وپېژاند.

د زندان مشر راغی، د زندان یوه ساتونکي په بېړه کیلي را وایسته، پنجره خلاصه شوه.

د زندان مشر وویل:

_میرویس خانه! وبښه، دا احمقان ستا په قدر څه پوهېږي.

میرویس خان ولاړ شو، د زندان له مشر سره پر زینو وخوت، لنډ راوګرځېد. د زندان یوه ساتونکي یو ور خلاص کړ. په وړه کوټه کې د پوزیو کټ، بالښت او د وړوکي لرګین خیرن مېز پر سر بله شمع ښکارېدله.

د زندان مشر وویل:

_په ټول زندان کې تر دې ښه ځای نه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان پر کټ کېناست. د زندان مشر ته یې وکتل، هغه د ده په ګوته کې د سرو زرو ګوتمۍ ته کتل.…

د زندان مشر وويل:

_ستا راکړي سوغاتونه نه شم هېرولی، خو همدا مې په وس پوره ده، ډوډۍ او د اوداسه اوبه به مو پر وخت راځي!

میرویس خان مننه ترې وکړه، له خپلې ګوتې یې ګوتمۍ را وایسته. د زندان مشر لاس ور وغځاوه، خو میرویس خان خپل موټ ټینګ کړ، ویې ویل:

_وژني مې؟

د زندان مشر د کوټې دروازه پورې کړه، ورو یې وويل:

_نه! اصفهان ته دې بندي لېږي. خو فکر مه خرابوه، هلته مې ځيني ملګري شته، بس، مازې يو څه لاس ورته نيسه، هرې خبرې ته دې ولاړ دي.

میرویس خان خپلې ګوتې خلاصې کړې، د زندان مشر په بيړه ګوتمۍ ور واخيسته، په ځير يې ورته وکتل، په سرو زرو کې غټه فېروزه ټومبلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان وویل:

_یو بل کار  به هم راته کوئ!

د زندان مشر وخندل:

_سمه ده، خو لږ مصرف لري.

_غواړم چې له خپل ورور سره ووینم.

درب شو. پر چت لوېدلي لرګي وچونګېدل، د شمعې سره لمبه ولړزېده...

د میرویس خان په سترګو کې اوښکې ورغړېدې، ورو یې وویل:

_آهنګر و؟

_هو، توپ ته یې وتاړه.

میرویس خان خپله شونډه  په غاښونو کې ټینګه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*   *   *

په ځلورمه ورځ د میرویس خان ورو یحیی خان  زندان ته راغی. ویل یې چې له ځینو قومي مشرانو سره مې خبرې وکړې، ستا د ازادولو له پاره مو ځلور سوه سپاره او زر پلي کسان پر جنګي کلا  حملې ته تیار کړي دي، خو میرویس خان له دې کاره منع کړ، ویې ویل چې دا ځانوژنه ده، جنګي کلا په دیارلسو سوو کسانو نه نیول کیږي.

میرویس خان خپل ورور زغم او حوصلې ته راوباله، ویې ویل چې اوس کمزوري یو، د حملې وخت نه دی... وروسته یې خپل ورور ته ور یاده کړه  چې د آهنګر د کور مصارف پر غاړه واخلي او د راتلونکي له پاره وسلې ذخیره کړي، دا یې هم وویل  چې پر کور او تجارت پام کوه…

دوی اوږدې خبرې وکړې. یحیی خان خپل ورور ته یوه وړه کڅوړه ورکړه او  په ډکو سترګو له زندانه ووت.

ګرګین پوهېده چې د ورځې لخوا له جنګي کلا د میرویس خان ایستل  خطرناکه ده.

یوه شپه  څو کسان راغلل، د میرویس خان لاسونه یې ور وتړل او له زندانه یې وایست. د باندې په ځلورو آسونو پسې تړل شوې سر پټې بګۍ (ګاډۍ ) ولاړه وه. میرویس خان په بګۍ کې کېناست، د ځلورو آسونو پښې وخوځېدې،  شاته شپږ سپاره پسې روان شول.

بګۍ له ښاره ووته، د جنګي کلا په برجونو کې رڼاوې ښکارېدلې...پورته رانه ستوري ولاړ ول…

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو وخت د بګۍ د څرخونو  غنجا ودرېده، میرویس خان سترګې رنې کړې، سپېدې چاودلې وې.

میرویس خان د یوه سړي په اشاره له بګۍ کښته شو، د شګو په ټيټو غونډيو کې ، په لسګونو پوځيان، اوښان، آسونه او کچرې ولاړ ول... میرویس خان د یوه پوځي په اشاره یوې بلې سر لوڅې بګۍ ته ور وخوت.

شېبه وروسته کاروان حرکت وکړ.

نرۍ باد چلېده، شګې پستې وې،  د اوښانو، آسونو او د کچرو د پښو دربا نه خته، کله کله به یو آس وشنېد، اوښ به غرمباړې کړې.···

* * *

کاروان په اتلسمه شپه اصفهان ته ورسېد، تیاره وه، میرویس خان له رڼاوو وپوهېد چې اصفهان تر کندهاره  لوی  ښار دی.

میرویس خان یې د ښار عمومي زندان ته بوت. د زندان هسک دېوالونه له ډبرو جوړ وو، په برجونو کې یې مشعلونه بل ول، په هر برج کې دوه وسلوال ښکارېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان یې یوې وړې کوټې ته بوت. کوټه هسکه وه، پورته په ډبرو کې یوه وړه دریځه ښکارېدله. په دریځه کې پنډ سیخان ولاړ ول...

د میرویس خان سر درد کاوه، اوږده مزل بېسېکه کړی و. تر یو څه وخته ویښ و، وروسته خوب یووړ.

یو وخت یې سترګې رڼې کړې، له درېځې ژیړې وړانګې رالوېدلې وې، په وړانګو کې د خاوور وړې زرې ګرځېدې...

د کوټې د اوسپنیزې درنې دروازې غنجا وخته، میرویس خان په بېړه ور وکتل، یو څوک راغی، توره چایجوشه، ګیلاس او وچه ډوډۍ یې پر ځمکه کېښودل...میرویس خان د مخ مینځلو اوبه ترې وغوښتې، خو سړی په پټه خوله له کوټې ووت.

میرویس خان یوه اونۍ په همدې کوټه کې تېره کړه، یواځې اوداسه ته به د باندې ایستل کېده. په اتم سهار دوه پوځیان راغلل، سره کوټونه یې اغوستي ول، میرویس خان ته یواځې د کوټونو پر سر دوې شنې پټې نوې ښکاره شوې.

میرویس خان د باندې ووت. کلا لویه وه، له زیرزمینې چیغې راتلې...

یوه سر پټې بګۍ راغله، میرویس خان پکې کېناست. د بګۍ دواړو غاړو ته وړې کړکۍ پرې وې، دوو عسکرو د کلا لرګینه درنه دروازه خلاصه کړه. ښار و، ګڼ خلک ګرځېدل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاو ووت، بګی بالا حصار ته وخته.

بالا حصار پر یوه تیټه غونډۍ جوړ و، هسک ډبرین دېوالونه يې لرل، په عمومي لرګینه لویه دروازه يې د دوو تورو او یوه زمري انځورونه رسامي شوي وو.

میرویس خان د بالا حصار په مینځ کې له بګی کښته شو، غولی پر هوارو ډبرو فرش و.

میرویس خان پوه شو چې د بالا حصار دېوالونه پلن جوړ شوي دي، د دېوالونو پر سر عسکر ګرځېدل، ځای ځای به توپونه ولاړ وو.

یو ناڅاپه ډزې شوې، میرویس خان په بېړه کېڼ لور ته وکتل، کتار ولاړو عسکرو د نښې ویشتلو تمرین کاوه.

په ونه لوړ پوځي راغی، میرویس خان يې په اشاره پوه کړ چې په ده پسې روان شي.

ګڼې ودانۍ وې، یو ځای تورې تېرېدلې، بل ځای څو کسانو کړۍ او ځنځیرونه جوړل... بل ځای یوه لوی ګدام ته ډکې بوجۍ ور وړل کېدې...

ټول بالاحصار له عسکرو ډک وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان پر زینو وخوت، په ونه لوړ پوځي دروازه خلاصه کړه، کوټه ښکلې وه، دېوالونه یې سپین ول، پر کړکیو وربېښمینې پردې راځړېدلې.

میرویس خان پر یوه څوکۍ کېناست. شاوخوا یې وکتل، د ښکلي مېز پر سر د صفوي حکومت  د حدودو نخشه پرته وه.

دروازه خلاصه شوه، یو ډنګر سړی راغی، سور نوی کوټ یې پر تن و، پر ټټر یې څلور شنې پټې پرتې وې.

سړي میرویس خان ته لاس ورکړ، ویې ویل:

_زه د شاهي ماڼۍ د ګارد مشر مین باشي علی خان یم.

میرویس خان د مین باشي په مانا پوهېده، په صفوي حکومت کې یې مین باشي د زرو کسانو مشر ته ویل.

علی خان پر څوکۍ کېناست، په وره کې ولاړ پوځي ته یې د چایو د راوړلو امر وکړ!

د مېز پر سر واړه کاغذونه یې ور ټول کړل، میرویس خان ته یې وکتل، ویې ویل:

_میرویس خانه! تا تل له موږ سره مرسته کړې، پاچا هم خبر دی، خو…

(c) ketabton.com: The Digital Library



علی خان د دروازې په خلاصېدو غلی شو. یو عسکر راغی، پتنوس یې پر مېز کېښود او د باندې ووت.

علی خان میرویس خان ته اشاره وکړه، میرویس خان له تورو چایو ډکه پیاله ور واخیسته.

علي خان خپله خبره بشپړه کړه!

...خو له تا مو د صفوي حکومت پر وړاندې د خیانت تمه نه لرله.

میرویس خان وویل:

_زه اوس هم پاچا ته صادق یم.

علی خان ګیلاس ور پورته کړ، ویې ویل:

_خو د ګرګین خان لیک بل څه وایي، پا چا ته یې لیکلي دي چې تاسو د کندهار له جنګي کلا وسلې ایستلې او د صفوي حکومت پر ضد مو بغاوت کاوه...

میرویس خان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ښاغلي ګرګین خان ته احترام لرم، خو دا خبره يې د منلو نه ده. هغه داسې کوم ثبوت نه لري چې ما خاين معرفي کړي.

على خان په خبره کې ور ولوېد:

_لنډه به يې درته ووايم، دا د صفوي پاچا شاه حسين حکم دی، متاسفه يم! تاسو نور له بالاحصاره نه شئ وتلی. ګرګين پاچا ته ليکلي چې که ميرويس خان بېرته کندهار ته راشي، نو صفوي حکومت ته لويې ستونزې جوړوي.

ميرويس خان هڅه وکړه چې د ګارد له مشر سره خبرې وغځوي، خو علي خان وويل چې دی په شاهي مانۍ کې يوې مهمې غونډې ته ور غوښتل شوی دی.

علي خان له کوټې نه د وتلو په وخت کې وويل چې د شاه حسين له حکم سره سم، ستا ساتل زما مسووليت دی، فکر مې وکړ، بالاحصار تر ټولو سم راته ښکاره شو، د شاهي ګارډ يوه اون باشي ( د لسو کسانو مشر ) ته مې امر کړی چې پام دربانډې وکړي، پوهېږم! هوښيار انسان يې، داسې څه به نه کوې چې ما او اون باشي خوابدي کړي.

له دې سره له کوټې ووت.

د شاهي ګارډ دوه عسکر راغلل او ميرويس خان يې د جنګي کلا يوه برج ته وخېژاوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په برج کې وړه، خو پاکه کوټه وه، دوې کړکۍ یې در لودې، یوه یې د ښار خواته پرې شوې وه، له بلې یې د بالاحصار مینځ ښکارېده، خو ښار ته پرې کړکۍ قوي اوسپنیز سیخان درلودل.

یو چا وخندل:

_ په ټول بالاحصار کې تر دې ښکلې کوټه نشته.

میرویس خان  په حیرانۍ ور وکتل. په وره کې یو ګردی ځوان ولاړ و. پر سره کوټ یې درې شنې پټې پرتې وې.

ځوان راغی، میرویس خان ته یې لاس ورکړ، په خوند یې وویل:

_ښاغلیه! ماته اون باشي حسن قلي وایه!

د ښار خواته پرې شوې کړکۍ ته ودرېد، ویې خندل:

_دلته به خوشاله یې، ورته وګوره، ټول اصفهان ښکاري…

میرویس خان غلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن قلي وويل:

_د کندهار د زندان مشر څنګه سړی و؟

میرویس خان وويل:

_بد مې نه دې ترې ليدلي.

حسن قلي یودم وخندل:

_بد به دې ولې ترې ليدل، پوهېږې؟ هغه زما تره دی، زموږ په ټوله کورنۍ کې بد سړی نه شته!

یودم یې د میرویس خان غوږ ته خوله ور نږدې کړه!

_پوهېږې، تره مې اصفهان ته ستا تر راتګ مخکې لیک راولېږه، لیکلي یې و چې میرویس خان ډېر سخي سړی دی، ځان ور نږدې که.

یودم یې وخندل.

_د خدای کارونه وګوره! پاچا ګارد ته وسپارلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی شو، ويې ويل:

_خو په ګارد کې مې دا خپل کمال و چې څنګه د ګارد د مشر نظر جلب کړم او له شاهي مانۍ څخه خاص تاسو محترم ته د خدمت له پاره را ورسېږم.

يودم يې چيغه کړه!

_هلی نو، ښاغلي ته چای راوړئ!

دا يې وويل او له کوټې ووت.

ميرويس خان خپل پټکی ليرې کړ، له خولی يې د کندهار په زندان کې د خپل ورور يحيی خان لخوا ورکړل شوې وړه کڅوړه را وايسته، سيکې يې وشمېرلې، د سرو او سپينو زرو اتلس سيکې وې.

غرمې ته يوه عسکر يو جوش شوی کچالو، د پنير وړه ټوټه او توده ډوډۍ راوړه.

ماسپښين حسن قلي راغی، په اصفهان کې يې د قيمتی خبرې کولې، ويې ويل چې د کال يواځې دېرش تومنه تنخوا لري، وړه لور يې ناروغه ده او د ښار مشهور طبيب يې د تداوي له پاره درې تومنه غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان د سپینو زرو یوه سیکه ورته ونیوله. حسن قلي خوشاله و، ویل یې چې په دې سیکه به خپله لور تداوي کړي او په پاتې پیسو به یې خپلې مېرمې نه نوې جامې واخلي.

میرویس خان یوه بله سیکه هم ورکړه، ځانته یې مسواک، د ځان مینځلو کیسه، تولیا او جاینماز راوغوښتل.

حسن قلي په بېړه له کوټې ووت. له باندې یې غږ راغی، یو چاته یې ویل چې میرویس خان ته د ځان مینځلو له پاره تودې اوبه راوړئ.

میرویس خان کړکۍ ته ودرېد. لاندې لوی ښار پروت و، کورونه له ختو جوړ ول، د ښار د لوی جومات مر مرینې منارې تر ټولو هسکې وې، لیرې کوږ _ووږ سیند پروت و…

پنځمه برخه

* * *

یوه اونۍ ووته، میرویس خان له حسن قلي او هغه عسکر پرته بل څوک ونه لیدل چې ده ته یې ډوډۍ راوړه.

حسن قلي ډېرې خبرې کولې، خو هوښیار سړی و، په لنډ وخت کې وپوهېد چې میرویس خان د دربار په اړه د معلوماتو تږی دی… حسن قلي ته د خرڅلاو وړ خبرې ور مالومې وې، مهم معلومات یې په اسانۍ نه ویل. میرویس خان په یوه اوونۍ کې د سپینو زرو درې سیکې ورکړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی دومره وپوهېد چې شاه حسین عیاش سړی دی، ۱۰۰۰ رسمي ښځې لري، تل نشه وي، له ورکتوبه په دربار کې را لوی شوی او له اصفهانه پرته تر خپلې ولکې لاندې نورې سیمې سمې نه پېژني.

میرویس خان ته دا هم معلومه شوه چې شاه حسین ته تر ټولو نږدې او اعتمادي کسان اعتماد الدوله او دېوان بېګ دی، خو له دې سره سره یې په دربار کې د ایران لوی شیعه امامان هم راټول کړي او تر ټولو لوی مفتي یې نږدې ملګری دی!

حسن قلي ورته ویلي و چې اعتماد الدوله مذهبي سړی دی، په فال او جادو عقیده لري او په دنیایي کارونو کې یې یوائې له ښکار سره جوړه ده، خو په ښکار کې یې خونده نشته، له سپهسالار سره ټوکې لري، سپهسالار په دربار کې د ټولو تر مخ ورته ویلي و چې که یې کومه ورځ هوسۍ راوړه نو دی به خپل برېتونه خریيي!

اعتماد الدوله ضد نیولی، قسم یې کړی چې سپهسالار به خپل بریتونه خرېيي! خو د سپهسالار بریتونه ورځ تر بلې اوږدېږي!

میرویس خان د دېوان بېګ په اړه هم معلومات تر لاسه کړل. د حسن قلي په خبره د ګرجي دېوان بېګ تنده تل تروه وي، ټوکې خوند نه ورکوي او هغه څوک نه بښي چې له صفوي حکومت سره یې خیانت کړی وي.

حسن قلي دا هم ویلي و چې د دېوان بېګ وراره لوی سوداګر دی، ډېر وخت عربو او هندوستان ته ځي او د قیمتي ډبرو او زېوراتو تجارت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حسن قلي په خبره لوی مفتي هم له عتیقه او پخوانیو اثارو سره مینه درلوده!

میرویس خان یوه ورځ حسن قلي را وغوښت، یو لیک یې ورکړ، ورته ویې ویل چې دا لیک په کندهار کې د ده تر وروره ور ورسوي.

حسن قلي ډاډ ورکړ، میرویس خان ته یې وویل چې په دې ورځو کې کندهار ته یو پوځي کاروان روان دی، اعتمادي کس به پکې پیدا کړي.

حسن قلي د باندې ووت، لیک یې خلاص کړ، میرویس خان خپل ورور ته لیکلي و چې ژر تر ژره اصفهان ته راشه!

* * *

په زندان کې د میرویس خان میاشت پوره شوه، خو چا یې پوښتنه ونه کړه. کله کله به حسن قلي ورته راته، خو خبرو یې داسې نوي څه نه لرل چې د پیسو په ورکړه وارزي.

خو یوه ورځ حسن قلي ته لویه تمه پیدا شوه، میرویس خان ورته وویل چې که یې هندوستان ته د دېوان بېګ د وراره د سفر د وخت په اړه معلومات ورته راوړل، نو د سرو زرو په دوو سیکو به یې ونازوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن قلي ته دا غوښتنه حيرانونکې وه، خو وروسته يې سر پسې ونه ګرځاوه، سترګو ته به يې يواځې د سرو زرو ژيړې سيکې نيغې نيغې کېدلې.…

حسن قلي يوه ورځ خپلې سيکې تر لاسه کړې، ميرويس خان ته يې وويل چې د دېوان بېګ وراره د نوې مياشتې په پيل کې هندوستان ته ځي.

بله ورځ د ميرويس خان ورور او يو بل په ونه لوړ بلوڅ د حسن قلي په مرسته زندان ته راغلل، ميرويس خان له حسن قلي څخه وغوښتل چې دوی يواځې پرېږدي، خو د حسن قلي زړه نه و، ويل يې چې دی بايد د خپل مسووليت له مخې پاتې شي، اخېر يوې سيکې له کوټې وايست. ميرويس خان له راغلو کسانو سره اوږدې خبرې وکړې، ورور ته يې د دريو کارونو مسووليت ور وسپاره…

حسن قلي تر پايه خپل غوږ پر دروازه اينبی و، خو پوه نه شو چې دوی څه سره ويل.

مياشت ووته، ميرويس خان خوشاله و، سترګې يې ځلېدلې.…

يوه ورځ په ونه لوړ بلوڅ راغی، له ميرويس خان سره لنډ وغږېد. ميرويس خان حسن قلي راوغوښت، هغه ته يې وويل چې بلوڅ به يو باز درکړي، دا باز اعتماد الدوله ته ور ورسوه.

دوې اونۍ ووتې، ميرويس خان چرتي و، اعتماد الدوله يې پوښتنه ونه کړه!

خو يو سهار يې په بالاحصار کې د ګڼې ګوڼې غږ واورېد، ميرويس خان تر دريڅې ور وکتل، دوړه ولاړه وه، ګڼو کسانو د غولې هوارې تيږې جارو کولې... آسونه ګرځېدل، پر توپونو باندې لنډې ټوټې تېرېدلې…

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه وروسته چای راوړونکی راغی، میرویس خان ته یې وویل چې نن بالاحصار ته اعماد الدوله تشریف راوي.

د چای راوړونکي خبره رښتيا وه، په بالاحصار کې څو بګی ودرېدې، لومړی پوځي کسان ترې راکښته شول، شاوخوا ودرېدل، بيا یوه پوځي د بګی دروازه خلاصه کړه.

اعتماد الدوله له ونې ټيټ سړی و، په تور پټکي کې يې سپين مخ او سپينه ږیره ښکلي ښکارېدل.

وروسته یوه ډله عسکر راغلل، کتار ودرېدل، د بالاحصار مشر رامخکې شو، د اعتماد الدوله لاسونه يې ښکل کړل. ټولو حرکت وکړ، میرویس خان تر هغو ورته کتل چې د درېځې له لاندینی برخې پټ شول.

شپه وروسته دروازه خلاصه شوه، اعتماد الدوله او د بالاحصار مشر کوټې ته ورننوتل، میرویس خان ودرېد، اعتماد الدوله کلکه غېږ ورکړه، یوه سړي په بېړه یوه څوکی راوړه، خو اعتماد الدوله میرویس خان ته نږدې پر کټ کېناست. د بالاحصار مشر ته یې وکتل، ویې ویل:

_هیله ده چې میرویس خان به نه وي درنه خوابدی شوی!

د بالاحصار د مشر ژبه بنده شوه:

_نه، نه صيب، تل يې احوال اخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو میرویس خان تر دې دمه دا سرۍ نه و لیدلی.

اعتماد الدوله د میرویس خان پر اوږه لاس کېښود، په خوند یې وویل:

_اجب باز دی، په یوه ورځ یې دوې هوسۍ ونیولې...سپهسالار ته مې وویل چې برېتونه وخرېیه!

میرویس خان ځان ناګاره واچاوه، داسې یې وښوده لکه په هېڅ چې هم نه وي خبر.

اعتماد الدوله وویل:

_زه د ښکار شوقي یم، په هفته کې یو ځل نږدې غرونو ته ځم، خو تر اوسه مې کومه هوسۍ نه وه راوړې، سپهسالار راته ویلي و چې که دې کومه ورځ هوسۍ راوړه، نو زه به خپل برېتونه خرېیم. تېره ورځ مې دوې هوسۍ ور وړې، برېتونه یې ونه خرېیل، ویل یې چې دا هوسۍ دې په باز نیولې دې، خو یوه خبره یې وکړه، توبه یې وایسته چې بیا به د ښکار پېغور نه راکوي...پوهېږې! لویه هیله مې د سپهسالار د خولې بندول و...

اعتماد الدوله اوږدې خبرې وکړې، خوله یې د میرویس خان لخوا د ورکړل شوي باز په صفت نه مړېده ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان ورته وویل چې دا باز یې په ترکمنو کې پیدا کړی و. ترکمن ښکاریان د باز بچیان نیسي، په سخته یې تربیه کوي، په سلو کې یو باز داسې راوزي چې هوسی وهي...

چای راغی، میرویس خان پوه شو چې اعتماد الدوله ولې ښکار نه شي کولی، د هغه په ښي لاس کې نیولې پیاله لړزېدله...

دوی اوږدې خبرې وکړې، اعتماد الدوله خوشاله و. میرویس خان ته یې ځان پړ باله، ویل یې چې په زندان کې یې د یوه لوی خان پوښتنه نه وه کړې.

د تګ په وخت کې یې د بالاحصار مشر ته وویل چې میرویس خان په خپله سیمه کې لوی سړی دی، ډېر پام ورباندې کوه! درنه خوابدی نه شي.

د اعتماد الدوله له تلو وروسته په کوټه کې زوږ کټ، شکېدلی فرش او خیرنه بستره نوي شول.

* * *

میرویس خان د خپل دوهم هدف تر لاسه کولو ته ورځې شمېرلې، دوه ځله یې د حسن قلي په مرسته بلوڅ ملګری زندان ته راوغوښت، خو د خوشالي وړ خبره یې ترې وانهورېده.

یوه غرمه درب شو، د کوټې دروازه په زوره له چوکاټ سره ولګېده، د حسن قلي سترګې رډې راختلې وې، راغی، میرویس خان یې تر ګرېوان ونیو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان په حیرانی ورته کتل…

حسن قلي چيغه کړه!

_ووايه! د دېوان بېګ وراره دې په کومه بلا خوړلی؟

میرویس خان د هغه لاس له خپل ګرېوانه لیرې کړ، دروازه يې پورې کړه، حسن قلي دروازې ته ورغی، په غوسه يې وويل:

_همدا اوس دېوان بېګ ته ورځم.

میرویس خان تر لاس ونیو، ورو يې وويل:

_څه خبره ده؟

حسن قلي په ملنډو وويل:

_یانې ته نه يې خبر؟

_نه، په دې څلورو دېوالونو کې به له څه شي خبر شم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن قلي وويل:

_د دېوان بېګ وراره له بسته کاروان سره ژوندی ورک دی.

د میرويس خان سترګې وځلېدې، پر کټ کېناست، ويې ويل:

_ نو ته ولې ماته په غوسه يې؟

حسن قلي د دروازې لاستی ونيو، له خولې يې لاړې باد شوې:

_زه ماشوم نه يم، پوه شوم چې تا ولې د دېوان بېګ د وراره د تګ د وخت مالومات رانه غوښتل. هر څه چې دي، خو د دېوان بېګ د وراره پر سر دا بلا تا راوستې ده...همدا اوس دېوان بېګ ته ورځم او ورته وايم چې···

میرويس خان په خبره کې ورولوېد:

_کم عقلي مه کوه! له ژونده سترې يې؟

حسن قلي د دروازې لاستی پرېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان وویل:

_فکر کوې چې دېوان بېګ  به دې  په سرو زرو کې پټ کړي؟! نه! دېوان بېګ به پوه شي چې له ما سره دا مرسته تا کړې! پوهېږم، هوښیار سړی یې، نه غواړې چې د خیانت په تور توپ ته وتړل شې!

حسن قلي پر کټ کېناست، سر یې په غبرګو لاسونو کې ونیو.

میرویس خان وویل:

_دېوان بېګ دې خپل دی؟

_نه

_ملګری؟

_نه، تر سپي مې هم بد ایسي!

_نو بیا ولې دومره خپه یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن قلي تر ډېره غلی و، بیا يې سر پورته کړ، ویې ویل:

_سمه ده! خو د سرو زرو پینځه سیکې غواړم!

* * *

په لنډ وخت کې دې اوازې ټول اصفهان پر سر واخیست چې د دېوان بېګ وراره هندوستان ته پرلار تری تم شوی دی.

دېوان بېګ په غوسه و، کندهار ته يې ځو سپاره ولېږل، ګرګین ته يې پیغام ور ووړ چې وراره يې د ده د واکمنی په سیمه کې ورک شوی دی او په پیدا کېدو کې يې باید مرسته وکړي.

وخت ووت، خو د ورک کاروان درک ونه لګېد...

میرویس خان پوهېده چې د دېوان بېګ وراره پر دېوان بېګ ډېر ګران دی، دېوان بېګ به اخیر د ده لېدو ته ورشي. فکر يې سم وخوت، یوماخستن د کوټې دروازه خلاصه شوه، یو قوي سړی راغی، ځان يې دېوان بېګ معرفي کړ.

دېوان بېګ په ختِه ګرجی و، لوړه ونه يې درلوده، وړو سترګو يې شنه رڼا کوله...

دی میرویس خان ته مخامخ کېناست، هڅه يې کوله چې ځان ارام وښيي، خو غږ يې لړزېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېوان بېګ پخوانی خبرې راواخيستې، صفوي  حکومت ته د ميرويس خان پر اخلاص وغږېد، ويې ويل چې يو وخت يې له بلوڅو اتلس ګرجي عسکر راخوشې کړل...

دېوان بېګ اوږدې خبرې وکړې، ټولې خبرې يې د ميرويس خان له ستاينې او صفوي حکومت ته د هغه د وفادارۍ په اړه وې... ځان او دربار يې ملامت کړ، ويې ويل چې  په زندان کې يې د هوتکو د مشر پوښتنه نه ده کړې...

ميرويس خان غلی و، ده کومه بېړه نه درلوده، پوهېده چې دېوان بېګ به اخېر اصلي خبرې ته راشي... انتظار يې لنډ شو، دېوان بېګ د خپل  وراره ورکېدل  ياد کړل...ميرويس خان ته يې يو ځل بيا  د اتلسو ګرجي عسکرو د راخوشې کېدو خبره وکړه، ويې ويل چې تاسو په بلوڅو کې ډېر شناخت لری...

ميرويس خان د دېوان بېګ د وراره پيدا کول اسانه کار وګاڼه، ويې ويل چې د بلوڅو له ډېرو خانانو سره شناخت لري... دی به تر خپله وسه د دېوان بېګ د وراره درک مالوم کړي. خو دېوان بېګ ته يې دا هم وويل چې په دې کار کې  د بالاحصار  د مشر مرستې ته ضرورت لري...

د دېوان بېګ وړې سترګې وځلېدې ...ميرويس خان ته يې وويل چې ده ته به هر راز سهولتونه برابر کړي، دېوان بېګ  په خوشالۍ له کوټې ووت.

سهار د بالاحصار مشر له يوه بل کس  سره راغی، ويې ويل چې دا کس  به د ميرويس خان هر  امر ته تيار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميرويس خان د خپل وورو ملګرى بلوڅ راوغوښت، هغه ته يې وويل چې څو نور بلوڅ پيدا کړي او ده ته دې په دوو، دريو ورځو کې يواځې يو ځل د نمايش له پاره راځي.

دېوان بېګ هم غلى نه و ناست، ده به هره ورځ زندان ته نفر رالېږه او له ميرويس خان څخه به يې د نويو خبرو پوښتنه کوله،خو ميرويس خان به ورته ويل چې دى هره اونۍ ځيني بلوڅ زندان ته راغواړي، په کندهار او شاوخوا سيمو کې يې هم قومي مشرانو ته خبر ورکړى چې د ورک شوي کاروان درک ولګوي.

يو سهار يې دېوان بيګ ته احوال ور کړ چې د وراره درک يې موندلى دى، د ده وراره او ورسره ملګري روغ جوړ دي.

غرمې ته دېوان بېګ راغى، ميرويس خان يې په غېږ کې ونيو، ويې ويل چې د وراره ځاى او ادرس ورکړي، خو ميرويس خان ور ياده کړه چې دا کار ماته پرېږده، ځکه په هغه سيمه حمله يې وراره او د هغه ملګرو ته خطر پېښوي…

وخت ووت، په ټول ښار او دربار کې همدا يوه خبره راګرځېده چې ميرويس خان د دېوان بېګ د وراره د ورکېدو ځاى پيدا کړى دى.

يوه ورځ ميرويس خان خپل بلوڅ ملګرى را وغوښت، ورته ويې ويل چې يحيى خان ته حال و ر ولېږه چې اوس نو د دېوان بېګ د وراره او د هغه د ملګرو د راوستلو وخت دى.

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان او د هغه ورور یحیی خان یوه ښکلي هسک سالون ته ور ننوتل. د اوږده مېز دواړو غاوړ ته ناست کسان ولاړ شول، چکچکې یې کړې... دېوان بېګ مخې ته ورغی ، میرویس خان ته یې کلکه غېږ ورکړه... تر لاس یې ونیو ، تر څنګ یې کېناوه.

میرویس خان ناستو کسانو ته وکتل، ټولو نوې قیمتي جامې اغوستې وې، له رنګ او بڼې اسراتمند ښکارېدل...

دېوان بېګ ودرېد، غاړه یې صافه کړه! ویې ویل:

_ښاغلو! دا مېلمستیا مې د هغه چا په افتخار جوړه کړې چې زه یې صفوي حکومت ته تر ټولو صادق انسان ګڼم! دا کس قومي مشر میرویس خان دی چې زما ورک وراره او د هغه پنځه ویشت ملګري یې پیدا کړل...

چکچکې شوې.

میرویس خان د مننې په بڼه سر وخوځاوه.

دېوان بېګ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



..._ټول کاروان اصفهان ته روغ جوړ راورسېد، ان د کاروان یو وېښته هم نه دی کم شوی... ټول تجارتي مالونه سلامت دي...

دېوان بېګ اوږدې خبرې وکړې، د اتلسو ګرجي عسکرو پخوانۍ کیسه یې بیا تازه کړه چې د میرویس خان په مټ راخوشي شوي ول... ټولې خبرې یې د میرویس خان د صداقت او وفادارۍ په اړه وې... په پای کې یې د میرویس خان له ورور یحیی خان څخه هم مننه وکړه چې د ده د وراره په راخلاصولو کې یې زیار وایست...

د دېوان بېګ له خبرو وروسته یو بل تن چې مخ  یې تر سترګو په وېښتو کې پټ و، ودرېد. دېوان بېګ د میرویس خان غوږ ته خپله خوله ور نږدې کړه، ورور یې ویل:

_دا د خزانې وزیر دی!

د خزانې وزیر لنډې خبرې وکړې، ویې ویل چې میرویس خان په خپل ولس کې دروند نوم لري، خلک یې ناز وړي، یو وخت یې په کلات کې څو یاغي کلي مجبوره کړل چې صفوي حکومت ته مالیه ورکړي ...

د خزانې د وزیر  له خبرو وروسته یو بل تن چې پر پزه یې د کالدانې نښه وه ودرېد،  ویې ویل چې پاچا ته باید د میرویس خان شفاعت وکړو چې په بالاحصار کې یې له نظر بندي  راوباسي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېوان بېګ يې په خبرو کې ور ولوېد، ويې ويل چې په دې اړه به وروسته وغږېږي. ميرويس خان په ټيټ غږ له دېوان بېګ څخه د دې سړي نوم وپوښت، خو دېوان بېګ په خندا خبره واړوله او له خپل وراره څخه يې وغوښتل چې د کاروان د ورکېدو کيسه ووايي.

په بر سر کې يو ډنګر ځوان ودرېد، ويې ويل چې له لسو ورځو مزل وروسته يوه غره ته ورسېدو، په تنګه دره کې روان و چې له لويو ډبرو مول وهلي ټوپکوال را ووتل... موږ يې يوې زړې کلا ته بوتلو، په يوه سمڅه کې يې واچولو او لاسونه يې را وتړل ، تياره وه، د لاس ګوتې سمې نه مالومېدې، يواځې د ډوډۍ په وخت کې به يې لاسونه را خلاص کړل...

ځوان اوږدې خبرې وکړې، له لوږې او تندې وغږېد، سختی يې يادې کړې... ويې ويل چې يو وخت مو د ټوپکو ډزې او نارې واورېدې... چيغې شوې، آسونه وشنېدل، د سمڅې دروازې اور واخيست...

ځوان غلی شو، يحيی خان ته يې وکتل، ويې ويل:

_دې ځوان له بنده راخوشي کړو.

د دېوان بېګ په سترګو کې اوښکې ورغړېدې، ولاړ شو، لومړی يې خپل وراره او بيا يې يحيی خان په غېږ کې ونيول...

بېرته خپل ځای ته راغی، ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_دا ټول د میرویس خان له برکته، ده خپل ورور ته احوال ور لیږلی و چې د بلوڅو له خانانو سره ووینې او هغوی دې ته مجبور کړي چې زما د وراره د راخلاصولو ځای پیدا کړي. وروسته د میرویس خان ورور د بلوڅو د خانانو په مرسته پر زړه کلا یر غل ور وړ او غله وتښتېدل···

دېوان بېګ غلی شو، جام یې پر سر واړاوه، ویې ویل:

_غلو دومره وخت نه و موندلی چې د کاروان آسونه، اوښان، کچرې او تجارتي اجناس له کلا وباسي، هر څه په خپل حال وو···

دېوان بېګ وټوخل، شېبه وروسته یې په لوړ غږ وویل:

_هلئ نو، راځئ چې زما د وراره د خلاصېدو د خوشالۍ په مېلمستیا کې ګډون وکړو!

ټول د ځنګ لویې کوټې ته ورغلل، پر مېز مختلف خواړه پراته ول... میرویس خان د دېوان بیګ څخه لیري کېناست، ده له دوو، دریو نورو کسانو سره سیاسي بحث را واخیست، د صفوي پاچا شاه حسین صفتونه یې وکړل، خو له مغولو او تزاري روسیې یې ښه خوله ونه وهله···

له ډوډۍ وروسته انګړ ته ووتل، په شنه چمن کې د مرمرو له تیږو کوچینی حوض جوړ و، په حوض کې رنګه ماهیان ګرځېدل... میرویس خان د چایو پیاله ور واخیسته، څو کسان ترې راوګرځېدل، میرویس خان خبرې کولې... نورو سرونه ورته خوځول.···

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان دوه- درې ځله دېوان بېګ ته وکتل... د شرابو جام یې په لاس کې و، ده ته یې وچې سترګې نیولې وې... تندې یې تروه ښکارېده.

ماخستن پر دوو آسونو پورې تړلې بګی راغله، میرویس خان او د هغه ورور یحیی خان یې بالاحصار ته یوړل.

میرویس خان دریځې ته ودرېد، لا هم په ځینو کورونو کې رڼا ښکارېدله.

ورور یې په خندا وویل:

_ښنګه لالا! ستا نخشه خومې سمه عملي کړه!

میرویس خان ورغی، پر کټ کېناست، سترګې یې ځلېدلې...موسک شو، د خپل ورور پر اوږه یې لاس کېښود، ویې ویل:

_ما درې کارونه در سپارلي وو، اصفهان ته د اصیل باز رالېږل او د دېوان بېګ د وراره نیول او خوشي کېدل پوره شول، خو درېیم یې لا پاتې دی! لوی مفتي ته دې څه راوړي دي؟! پیسې او قیمتي سوغاتونه دې ښنګه کړل؟

ورور یې په بېړه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_لوی مفتي ته مې پخوانۍ تسبیح پیدا کړې، ډېرې قیمتي دي، هره دانه یې له اصیلې فېروزې جوړه ده، تسبیح او نور قیمتي سوغاتونه له بلوڅ ملګري اخیستی شې!

میرویس خان د خپل ورور اوږه ټینګه کړه!

یحیی خان وویل:

_باز مې په اسانۍ وموند، بس، ترکمنو ته مې یو څوک پسې ولېږل، خو د دېوان بېګ د وراره نیولو سترې کړم.

غلی شو، ویې ویل:

_له محمد خان بلوڅ نه مې مرسته وغوښته، هغه څلوېښت سپاره برابر کړل، ستا د راکړو مالوماتو له مخې مو اته ورځې په هغه غره کې تیرې کړې چې د دېوان بېګ د وراره کاروان پرې راته. یو سهار د اوښانو زنګولې وشرنګېدې، سرونه مو پورته کړل، کاروان په تنګه دره کې روان و.

محمد خان ته مې ویلي و چې ټول ژوندي غواړم، ملګرو هوایي ډزې وکړې، تعداد یې ډېر و، کاروان ووېرېد، لاسونه یې پورته کړل.

دوی مو یوې زړې کلا ته بوتلل او ستا له هدایت سره سم مو په ګېډه ماړه ساتل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان وویل:

_د کندهار وضع څنګه وه؟

یحیی خان سوړ اسویلی وایست:

_د ګرګین ظلمونه له حده واوښتل، میاشت مخکې د ګرګین یوه عسکر کومې ښځې ته لاس ور اچولی و، کلیوالو وواژه، ګرګین سلامت کلی تر تیغ تېر کړ...

میرویس خان وویل:

_وسلې مو څنګه کړې؟

_تر اوسه مو ایله یونیم زر ټوپکې پیدا کړې دي، د جنګي کلا د ډیپو واک له ګرګین سره دی، یو ټوپک هم نه شي ترې را ایستی، خو له مغولو او تزاري روسیې څخه په ډېره سختنه خال خال وسلې راوړو...

غلی شو، ویې ویل:

_لالا! نور نو د ګرګین ظلم له حده تېر شو، دوه نیم، درې زره ځوانان دې ته تیار دي چې پر جنګي کلاحمله وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان وویل:

_ببېره مه کوئ! تر اوسه لا وخت شته!

* * *

میاشت ووته، یو ځل اعتماد الدوله بالاحصار ته ورغی، له میرویس خان سره یې ولیدل، خو ټولې خبرې یې د ښکار په اړه وې، د میرویس خان له خوا د ورکړل شوي باز په صفت نه مړېده…

دېوان بېګ هم میرویس خان ته دوه ځله خوندور خواړه ور لېږل. ده له میرویس خان څخه بخښنه غوښتې وه چې د ډېرو مصروفیتونو له لاسه یې لیدو ته نه شي ورتلای.

میرویس خان لوی مفتي ته قیمتي تسبېح هم ور لېږلې وې، خو د هغه درک نه و.

میرویس خان له خپل بلوخ ملګري څخه وغوښتل چې اعتماد الدوله، دېوان بېګ، لوی مفتي او ځینو نورو درباریانو ته ورېښمینې چپنې، هندوستاني قیمتي ټوټې او نورې ګران بیه ډالۍ ور ولېږي.

وخت ووت، هوا سړه شوه، له لومړۍ واورې سره یې کوټې ته بخارۍ راوړه…

میرویس خان به ډېر وخت کړکۍ ته ولاړ و، د کورونو له دودکشو څخه به تور لوګي پورته کېدل...شاوخوا غرونه تک سپین ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو سهار حسن قلي ورته وويل چې په دې ورځو کې د سپهسالار په کور کې لويه جلسه جوړېږي او د دربار ټول مقامات د صفوي حکومت د حدودو په ستونزو خبرې کوي.

ميرويس خان ته دا جلسه مهمه ښکاره شوه، دېوان بېګ ته يې احوال ور لېږه چې دی هم دې جلسې ته ور وبولي، خو د دېوان بېګ ځواب منفي و، ويل يې چې په دې جلسه کې د ميرويس خان ګډون بې ګټې دی.

ميرويس خان اعتماد الدوله ته ليک ولېږه، ويې ليکل چې د کندهار او شاوخوا سيمو ستونزې تر نورو ښې را مالومې دي، د مشورې له پاره به تر ما بل وړ څوک پيدا نه کړی.

يوه ورځ يوه ګاډۍ راغله او ميرويس خان يې د سپهسالار کورته بوت.

کور ښکلی و، د مرمرو ستنې يې درلودې، له دېوالونو يې سلامت ګچيني هوسۍ راوتلې وې.

ميرويس خان دوهم منزل ته وخوت، لويه کوټه له درباريانو ډکه وه. ميرويس خان ټولو ته لاس ورکړ او د اعتماد الدوله تر څنګ کېناست. د ناستو کسانو څېرې يې تر سترګو تېرې کړې، نوې وې، يواځې درې- څلور کسان يې د دېوان بېګ په مېلمستيا کې ليدلي وو.

اعتماد الدوله ودرېد، مېريس خان يې ناستو کسانو ته معرفي کړ. وروسته يې د راغلو کسانو نومونه واخيستل...ميرويس خان پوه شو چې ناست کسان د صفوي حکومت مهمې ستنې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له معرفي وروسته سپهسالار ودرېد، ټولو ته یې ښه راغلاست ووایه، ویې ویل چې میرویس خان یې تر دې دمه نه و لیدلی، خو صفوي حکومت ته یې د هغه د لویو خدمتونو په اړه ډېر څه اورېدلي و.

دروازه خلاصه شوه، دېوان بېګ د ناوخته راتګ له سببه بخښنه وغوښته، کېناست، خو کله چې یې په میرویس خان سترګې ولګېدې، ټنده یې تروه شوه.

د غونډې په پیل کې سپهسالار اوږدې خبرې وکړې، د صفوي حکومت د حدودو ځینې برخې یې یادې کړې، ویې ویل چې خلک یاغي شوي دي... خو کله چې یې د ایران په شمال کې د لزګي سنیانو یاغیتوب یاد کړ، وزیر اعظم فتح علي خان داغستانی یې په خبرو کې ور ولوېد او په غوسه یې وویل چې خبره دومره مه لویوه! هېڅ هم نشته، یواځې څو کسانو د مالیې له ورکړې انکار کړی او دا دومره لویه خبره نه ده چې د لزګیانو په ټول قوم پسې د یاغیتوب تکی وتړې.

خو سپهسالار په خبرو کې ور ولوېد، په غوسه یې وویل چې صفوي حکومت ته یواځې سنیان ستونزې جوړوي، ویې ویل چې په بم او کرمان کې هم بلوڅو بغاوت کړی.

د سپهسالار دې خبرې یوه بل له رنګه تور سړي ته خوند ور نه کړ، پاڅېد، ویې ویل چې دا خبرې په مذهب پورې مه تړئ، په مرکزي ایران کې هم پاڅونونه شوي دي، خو اوسېدونکي یې شیعیه دي...

یو بل سړی ودرېد، په غوسه یې وویل چې شیعیه به ولې د خپل شیعیه حکومت پر ضد قیام کوي... ټول فساد په سنیانو کې دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کوټه کې شور ماشور شو، ټولو سنیانو ته د ملامتی ګوته نیوله، یواځې وزیراعظم فتح علي خان داغستاني او له رنګه تور سړي د سنیانو ملاتړ کاوه. میرویس خان وپوهېد چې په دې شلو- پنځه وېشتو کسانو کې یواځې همدا دوه کسه سنیان دي.

وروسته خبره لا پسې جنجالي شوه، پر یو بل یې تورونه ولګول... هر یوه بل ملامتاوه چې صفوي حکومت ته صادق نه دی... خبره تر دې هم ور واوښته، غلاوې یادې شوې...د مالیې د پټېدو او د کاروانونو د وهلو خبرې مینځته راغلې...

جلسه بې نظمه شوه، د خبرو وار نه کېده...

میرویس خان غلی و، دی وپوهېد چې د صفوي حکومت په د ننه کې څومره ژور اختلافات موجود دي.

سپهسالار څو ځله د نظم د راوستلو کوشش وکړ، خو بریالی نه شو...

وزیر اعظم خپله چپنه ورټوله کړه، ودرېد.

د سپهسالار رنګ ژېړ شو، له وزیر اعظمه یې په ډېر احترام وغوښتل چې جلسه پرې نه ږدي، خو د وزیر اعظم خبره یوه وه، ویل یې چې په دې غونډه کې ده او د ده قوم ته سپکاوی شوی...

سپهسارلار ټینګار وکړ، وزیر اعظم کېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان پوهېده چې په صفوي  حکومت کې تر شاه حسین  وروسته وزیر اعظم دوهم لوی قدرت دی.

اعتماد الدوله  په لوړ غږ وویل:

_هېله کوم! غلي شئ! موږ یو بل پېژنو، تل مو همدا حال وي، خو میرویس خان لومړی  ځل زموږ جلسې ته راغلی، دی به څه وایي...

ټول غلي شول.

وزیر اعظم وویل:

_میرویس خان د سنیانو له سیمې راغلی دی، په حقایقو پوهېږي، دی به د خپلو خلکو کیسه راته وکړي!

میرویس خان ودرېد، دی پوهېده چې د خپلو نخشو د عملي کولو له پاره یې دربار ته نږدې والی ځومره ضرور دی. دا هم ورته مالومه وه چې تر دې ځایه په سخته راغلی دی او وړه غلطي به یې ټوله خواري ور ډوبه کړي. ځکه یې د درباریانو د را جلبولو له پاره له هوښیاری کار واخیست. صفوي حکومت یې خپل وګانه، د هند مغولي حکومت، تزاري روسیه  او  عثماني امپراطوري یې یا د کړل، ویې ویل چې دا ټول تر ایران راتاو دي او د صفوي حکومت د ځینو سیمو د نیولو نخشې کاږي...نو د قوم او  مذهب خبرې مو کمزوری کوي او ښه دا ده چې د یوې سیمې او یوه قوم پر ځای عمومي فکر وشي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته یې د ګرګین خبرې راواخیستې، میرویس خان پوهېده چې ګرګین په دربار کې د ګرجي دېوان بېګ غوندې ډېر پلویان لري، خو دا هم ور مالومه وه چې د ځینو کسانو نه خوښېږي. فکر یې وکړ چې له ډېرو درباریانو سره یې لا شناخت کمزوری دی او که په پیل کې د ګرګین له ظلمونو پرده پورته کړي، په خپل راتلونکي پلان کې به بریالی نه شي، ځکه په احتیاط غږېده، اول یې د ګرګین صفت وکړ ویې ویل چې په کارونو کې قاطع انسان دی... ښه مدیریت لري او په خبره پوهېږي...وروسته یې خبرې بلې خواته یووړې، په ګرګین ونه لګېد، خو د هغه له کلانتر ( ښاروال ) او ځینو نورو قوماندانانو یې ښه خوله ونه وهله، ویې ویل چې د ځایي اوسېدونکو دود او کلتور نه دی ور معلوم، په ژبه نه ورسره پوهېږي، د خلکو مذهب او ناموس ته په سپکه ګوري... همدا علت دی چې ځینې سیمې یاغي شوې او د مالیې له ورکړې یې انکار وکړ...

میرویس خان روانه او فصیح ژبه درلوده، د ده د خبرو پر وخت ټول کسان غلي ول...

کله چې کېناست، تالار چکچکو ونیو.

میرویس خان وپوهېد چې خبرې یې پر ځای وې، که یې له یوې خوا ګرګین ستایلی و، خو له بل لوري یې په ډېر ماهرانه ډول د هغه غندنه کړې وه....د ناستو کسانو تندې هوارې ښکارېدلې... یوه خوا هم خپه نه وه.

وروسته د هغو سیمو په اړه خبرې وشوې چې د مالیې له ورکړې یې انکار کړی وو، جلسه بېرته ګډوډه شوه، یوه له رنګه سره سرې د خزانې وزیر ته وویل چې د زوی په واده کې دې لسو زرو کسانو ته ډوډۍ ورکړه! زوم ته دې قیمتي کور واخیست... لور دې په زرو کې پټه کړه! دا پیسې له کومه شوې؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مالیې د وزیر تور مخ له غوسې شین شو، مقابل لورې ته یې سپکې خبرې وکړې، عیاش یې وګاڼه، ویې ویل چې په یوه میاشت کې یې لس باکرې مینځې واخیستې....

دواړه ودرېدل، خو نورو سره بېل کړل.

خو د جلسې پای ښه و، د ټولو ګټه یوه وه، په دې اړه وغږېدل چې له پاچا سره باید د دوی د حقوقو د ډېرېدو په باره کې خبرې وشي...

له رسمي غونډې وروسته ډوډۍ تیاره شوه. میرویس خان ځان وزیر اعظم ته ور نږدې کړ، له خبرو یې وپوهېد چې له دېوان بېګ او نورو ګرجي افسرانو کرکه لري.

د چایو پر وخت له اعتماد الدوله سره وغږېد، میرویس خان ته معلومه شوه چې دی له وزیر اعظم او سپهسالار سره ډېر جوړ دی، خو له دېوان بېګ څخه یې ښه خوله نه وهله...

میرویس خان پوهېده چې دېوان بېګ هم په دربار کې لوی قدرت لري...میرویس خان ته په دربار کې د دوو متضادو ډلو موجودیت مهم و، په اسانۍ مخکې پکې تلای شوای.

ده له اعتماد الدوله څخه وغوښتل چې له پاچا سره د لیدو زمینه ورته برابره کړي.

اومه برخه

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت ووت، میرویس خان د ډېرو کسانو زړونه خپل کړي ول، ځینې درباریان به زندان ته ورتلل او له میرویس خان سره به یې مشورې کولې...یو ځل اعتماد الدوله ورغی، ویې ویل چې له پاچا سره یې د میرویس خان د لیدنې زمینه چمتو کړې وه، خو دېوان بېګ دا ملاقات د پاچا د وخت ضایع کول وګڼل ....

اعتماد الدوله وویل چې دېوان بېګ ته د ګرګین یو لیک را رسېدلی دی، لیکلي یې دي چې میرویس خان هوښیار سړی دی، مخه یې ونیسه،له پاچا سره به یې لیدنه زما په ګټه نه وي.

د ژمي په وروسیتو کې یوه بله جلسه جوړېده، میرویس خان ته دا جلسه ډېره مهمه وه، د صفوي حکومت ټول مهم کسان ورته راتلل، پاچا ته یې باید د خپلو تر کنټرول لاندې سیمو په اړه معلومات ورکړی وای.

میرویس خان اعتماد الدوله ته لیک ولېږه، په ځواب کې یې ورته لیکلي و چې دی به تر خپله وسه هڅه وکړي چې میرویس خان دې جلسې ته ور وبلل شي.

خو یوه اوونۍ وروسته یې بخښنه ترې وغوښته، لیکلي یې و چې دېوان بېګ ستونزې ورته جوړوي، هغه نه غواړي چې میرویس خان په دې جلسه کې ګډون وکړي، دا یې هم لیکلي و چې دېوان بېګ له هغه چا سره جوړ دی چې د دې غونډې د نظم او جوړېدو مسوولیت لري.

میرویس خان سپهسالار او وزیر اعظم ته لیکونه ور ولېږل، خو درک یې مالوم نه شو.

یو سهار حسن قلي د غونډې د قیقه ورځ ورته وویله. غونډه د نوروز په ورځ جوړېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان کړکی ته ودرېد، په ځینو کورونو کې د بادامو د ونو سپین ګلان ښکارېدل.

دی مایوسه و، ډېر فکر یې وکړ، خو چاره یې نه لیده، نوي کال ته یواځې درې ورځې پاتې وې.

* * *

درب شو، غولی ولړزېد، میرویس خان په بېړه کېناست، سترګې یې وموښلې، د بالاحصار خواته پرې شوې درېڅې ته ودرېد، تیاره وه.

له دوهم درب سره د بالاحصار د دېوال پر سر سره لمبه راوګرځېده، څو نور توپونه هم تش شول...

میرویس خان بېرته پر کټ پرېووت، سترګې یې پټې کړې، دی په دې نیمه شپه کې د توپونو د ویشتلو په راز پوهېده، حسن قلي د صفوي حکومت له مراسمو خبر کړی و. نوی کال د توپونو په دربا پیلېده.

میرویس خان خواشینی و، ده په یوه مهمه جلسه کې ګډون نه شوای کولای.

تر سپېده چاوده یې سترګې پټې نه شوې. لمونځ یې وکړ، له چایو وروسته یې تودې اوبه راوغوښتې، ولمبېد، جامې یې بدلې کړې، اوږد وغځېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرمه یې ډوډۍ ورته راوړه، یوه ګوله یې هم تر ستوني نه تېرېده…

ماسپښین دروازه خلاصه شوه، په بېړه کېناست، سترګې یې وځلېدې...وزیر اعظم جلسې ته ور غوښتی و.

د شاهي ماڼۍ عمومي دروازه د ګارډ دوو عسکرو پرانیسته. پراخ شین ځای و، د سړک دواړو غاړو ته د ناجو ونې ولاړې وې، په چمن کې هوسۍ ګرځېدې... ور هاخوا د یوه طاوس ببره رنګه لکۍ لمر ځلوله.…

میرویس خان د ماڼۍ تر مخ له بګۍ کښته شو، د دروازې دواړو غاړو ته د دوو زمریانو ډبرینې مجسمې جوړې وې، د زمریانو له خولو رڼې اوبه بهېدلې…

میرویس خان ماڼۍ ته ور ننوت، اوږد دهلېز پر سرو غالیو فرش و، په دېوالونو کې یې ښکلې منظرې رسم شوې وې…

یوه ګارډ دروازه ورته خلاصه کړه، په هسک او لوی سالون کې ګڼ کسان ولاړ ول. وزیر اعظم، د خزانې وزیر، سپهسالار، اعتماد الدوله او څو نور کسان مخې ته ورغلل، سترګې مشې یې توده وه، میرویس خان د نوي کال مبارکي ورته وویله.

سترګې یې پر دېوان بېګ او ګرګین ولګېدې، مخکې ورغی، لاس یې ورکړ، خو د دېوان بېګ او ګرګین ګوتې مړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميرويس خان شاوخوا وکتل، د سالون په بر سر کې لوړه اېښودل شوې طلايي رنګه څوکۍ تشه وه.

خدمتګاران راغلل، چاى او مختلفې وچې مېوې يې راوړې.

وره دروازه خلاصه شوه، يو تک تور سړى راغى، په لوړ غږ يې وويل:

_اعليحضرت تشريف راوړي!

ټول غلي شول.

لومړى د ګارډ دوه عسکر راغلل او د طلايي رنګه څوکۍ شاته ودرېدل.

شاه حسين په ونه لوړ سړى و، صاف سپين مخ يې درلود، پر سر يې طلايي تاج ايښى و.

شاه حسين پر طلايي رنګه څوکى کېناست، په سالون کې ټولو ولاړو کسانو تعظيم وکړ.

په پيل کې د ښار لوى مفتي غاړه صافه کړه، پاچا ته يې د نوي کال مبارکي وويله او له خدايه يې ورته اوږد عمر او خوشاله ژوند وغوښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته وزیر اعظم د خبرو اجازه واخیسته، بخښنه یې وغوښته چې پاچا ته په دې نوي کال کې ښه خبرونه نه لري. ده د صفوي حکومت ځینې یاغي سیمې یادې کړې او ویې ویل چې خلکو پاڅون کړی …

بیا د خزانې وزیر خبرې وکړې، له والیانو یې نهیلي وښوده، ویې ویل چې د پخوا په څېر پوره مالیه نه رالېږي، د مرکزي حکومت د خزانې خونده نشته.…

وروسته ځینو والیانو خبرې  وکړې، د دوی په خبرو کې هم نا امیدي ډېره وه. ځینې سیمې یې له لاسه وتلې ګڼلې….خو په ټولو والیانو کې یوازې ګرګین ډاډه وغږېد…د ځان ستاینه یې وکړه، ویې ویل چې مالیه پر وخت راټولېږي، هېڅ ستونزه نشته  …او د ده تر حاکمیت لاندې سیمې خوندي دي.…

د خزانې وزیر یې په خبرو کې ور ولوېد او ویې ویل چې تېر کال د ګرګین خان لخوا حکومتي خزانې ته سل زره تومنه هم نه دي راغلي.…

د ګرګین رنګ سور شو او د خزانې وزیر یې په دروغو متهم کړ.

په دربار کې ګنګوسي شوې…ډېرو کسانو د خزانې د وزیر طرفداري کوله، خو دېوان بېګ او ځینې نور د ګرګین پلویان ول.…

شاه حسین غلی ناست و، سترګې یې له خوبه ډکې ښکارېدې، کله کله به یې اوږد ارږمی وایست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر اعظم ټول کسان ارامي ته را وبلل، وروسته يې د میرویس خان نوم واخیست،ویې ویل چې دی د منطقې سړی دی، په واقعیت پوهیږي.

د دیوان بېګ او ګرګین رنګونه سره شول.

شاه حسین وویل:

_میرویس خان چېرته دی؟

میرویس خان مخکې ورغی، تعظیم يې وکړ.

شاه حسین د هغه د تېرو کارونو او صفوي حکومت ته د صداقت ستاینه وکړه، ویې ویل چې اعتماد الدوله په هر څه خبر کړی دی... وروسته یې له میرویس خان څخه د هغه د صحت پوښتنه وکړه، دا یې هم وویل چې دوې میاشتې مخکې یې د دربار طبیب د علاج له پاره ور لېږلی و...

دیوان بېګ تعظیم وکړ، پا چا ته یې وویل چې میرویس خان اوس ښه دی.

خو میرویس خان حیران و، دی نه و ناروغه شوی. دا یې هم نه په زړه کېدل چې ده ته دې کوم طبیب ورغلی وي.

میرویس خان له شاه حسین څخه مننه وکړه چې د ده په فکر کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه حسين دا هم وويل چې يو ځل يې ميرويس خان ليدو ته ور وغوښت، خو دېوان بېګ ورته وويل چې ناروغه دی.

وزير اعظم او سپهسالار ته د دېوان بېګ د ټکولو له پاره ښه موقع په لاس ورغلې وه. دوی دې خبرې ته پکی وواهه، حيراني يې وښوده، ويې ويل چې ميرويس خان نه دی ناروغه شوی...

پاچا دېوان بېګ ته په غوسه شو، د دېوان بېګ سر وځړېد.

وزير اعظم له ميرويس خانه د خبرو غوښتنه وکړه. ميرويس خان د دې ورځې نتظار ايست، لومړی د کندهار او شاوخوا سيمو په عمومي وضعيت وغږېد، د خپلو خلکو دودونه او رواجونه يې بيان کړل...بيا يې د ګرګين د عسکرو ظلمونه او د خلکو ناموس ته په سپکه کتل ياد کړل، وروسته يې د ځينو قبيلو د پاڅونونو د علتونو په اړه خبرې وکړې...

ميرويس خان په خبرو کې وړې وه، خبرې يې هم هوايي نه کولې، دی د اسنادو له مخې غږېده، د هرې پېښې د قيق تاريخ يې بياناوه... د هغه قومي مشر نوم به يې اخيست چې له محلي حکومت سره يې ستونزه درلوده. د پاڅون ځای، قبيله او علت ټول ور مالوم وو...پاچا او ټول درباريان غلي ول.

ميرويس خان د ګرګين د عسکرو او قوماندانو د ظلمونو په اړه اوږدې خبرې وکړې... وروسته يې ګرګين را واخيست، ويې ويل چې مديريت يې کمزوری دی. ..د ده د هر عسکر ظلم او ناروا ده ته راجع کېږي...په کندهار کې له صفوي حکومته دا ډول کمزورې نمايندګي به د لويو پاڅونونو سبب شي ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرګین ته غوسه ورغله، میرویس خان یې د حکومت پر ضد په بغاوت تورن کړ، خو اعتمادالدوله، وزیر اعظم، سپهسالار ....دا خبرې بې بنیاده وګڼلې، د میرویس خان تېرې کارنامې یې له سره تازه کړې او ویې ویل چې ګرګین عقدې اخیستی، د میرویس خان پوهه او په خپلو خلکو کې د هغه درناوی او محبوبیت یې نه ورباندې لورېږي.٠٠٠

د میرویس خان له خبرو وروسته ځینې نور کسان هم وغږېدل... خو د ناستې تر پایه یوازې ستونزې یادې شوې...یوه هم د حل خبره ونه کړه.

وروستۍ خبرې شاه حسین وکړې.

میرویس خان ته د پاچا خبرې حیرانونکې وې، شاه حسین د فال او پېشګویي په اړه وغږېد، ویې ویل چې ځینو فال لیدونکو، ستورو پېژندونکو، د خوب تعبیروونکو او ملایانو ښه زېري ور کړي دي...نوی کال به د صفوي حکومت د غښتلتیا او د د ښمنانو د ماتې کال وي...دا یې هم وویل چې لوی مفتي له کربلا راوړې خاوره دم کړې ده، که دا خاوره د جګړې پر وخت پر خپلو عسکرو وشیندئ، دښمن مو نه شي لیدلای، زړور پرې ورځی... .

مېلمستیا په بله کوټه کې نیول شوې وه. میرویس خان له وزیر اعظم سره کېناست، خو شاه حسین خپل مېز ته ور وغوښت.

د ګرګین او دېوان بېګ سترګې ردې راختلې وې...خو میرویس خان د خبرو موقع ونه مونده. شاه حسین له لوی مفتي سره غږېده. پر فال او خوب یې ډېر باور درلود، ځینې ستورې یې په بخت نیولې وو او د لوی مفتي پېشګویي مهمه ورته ښکارېدله.٠٠٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

يوه اوونۍ وروسته د شاه حسين خاص نماينده بالاحصار ته ورغی او ميرويس خان يې نوي ځای ته بوت.

ميرويس خان د پاچا ماڼۍ ته نږدې په يوه کوچيني ښکلي کور کې واړول. نه ګارډ و او نه هم کوم پيره دار. بس! يو آشپز او يو خدمتګار يې درلود.

ميرويس خان ځو کتابونه راوغوښتل، حويلۍ شنه وه، ده به ډېر وخت  د پسرلي پاسته لمر ته مطالعه کوله.…

يوه ورځ پاچا ور وغوښت، خو دا ځل د ګارډ د يوه عسکر لخوا يوه بل واړه سالون ته رهنمايي شو.

په سالون کې د تبلې او باجې غږ راګرځېده...ځو ښکلې نجونې نځېدلې.…

ميرويس خان د پاچا په غوښتنه د هغه تر څنګ کېناست. پاچا اشاره وکړه، ساز ودرېد، نجونې ووتې.

يوه خدمتګار د شرابو جام ورته ونيو، خو ميرويس خان چای وغوښت.

پاچا نشه و. ځينو درباريانو ته يې کنځلې کولې...ويل يې چې  د غم خبرې  ولې تر ما رارسوي ...واک مې ورکړی، په خپله دې حل کړي.…

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان ته دا خبرې نوې نه وې. دی پوهېده چې شاه حسین راحت طلبه او عیاش انسان دی، ټول وخت په حرمسرای کې له خپلو سلګونو ښځو او مینځو سره تېروي، تل نشه وي...خپل کارونه یې نورو ته ور سپارلي او خپله د هېواد له امورو سره چندان علاقه نه لري.…

پاچا بې واره غږېده... له خپلو ډېرو درباریانو، والیانو او مهمو قوماندانانو یې شکایت درلود... خو د ګرګین نوم یې وانه خیست.

چای راغی، میرویس خان له لنډې شیبې څخه استفاده وکړه. ده نېغ په نېغه د ګرګین ظلمونه نه شوای یادولای. وار له واره یې د هندوستان د فال لیدونکو او جادوګرانو کیسې راواخیستې...د فال نیولو ځینې مهم کتابونه یې یاد کړل، ویې ویل چې له دې کتابونو څخه هر څوک استفاده کولای شي.…

میرویس خان د فال، تاویذ او جادو په اړه خپلې خبرې وغځولې... دی د پاچا له سترګو او وازې خولې وپوهېد چې شاه حسین ته د هندوستان د جادوګرانو دا حیرانونکې کیسې نوې دي او خوند ترې اخلي.…

په پای کې یې وخندل، ویې ویل چې ګرګین هم یوه داسې جادو ته ضرورت لري چې زړه یې نرۍ کړي او له ظلمه لاس واخلي...وروسته یې د ګرګین ظلمونه یاد کړل.... ویې ویل چې د ګرګین دا ناروا وې به صفوي حکومت کمزوری کړي…

خو د شاه حسین تندی تریو شو، خبرې یې بېرته فال او جادو ته ور واړولې او له میرویس خان نه یې د هندوستان د جادوګرانو د کیسو دوام وغوښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان ته د وزیر اعظم خبره ور په زړه شوه. ده ته یې ویلي و چې ګرګین غښتلی او عصبي سړی دی، ان شاه حسین هم ترې وېرېږي او د هغه د ګوښه کېدو یا تبدیلېدو زړه نه لري.

میرویس خان نا امیده له ماڼۍ را ووت، خو په دې خوشاله و چې ازاد ګرځېده، نه چا پیره پرې کوله او نه هم تر نظارت لاندې و. میرویس خان به کله کله د هغو درباریانو کورونو ته ورته چې پر ده یې اعتماد درلود.

میرویس خان پوهېده چې نور یې په اصفهان کې پاتې کېدل بې ګټې دي. د اوږې په لومړۍ میاشت کې شاهي ماڼۍ ته ورغی، له شاه حسین څخه یې د حج فریضې ته د تلو اجازه وغوښته، خو شاه حسین یې خبره ونه منله. په دوهم ځل اعتماد الدوله، وزیر اعظم او ځیني نور درباریان واسطه شول، شاه حسین نشه و، دا ځل یې ( نه ) ونه ویل.

* * *

میرویس خان د مني په اولو کې مکې ته ورسېد. مکې کوچینی بازار درلود، کورونه او دوکانونه له ختو جوړ ول، ګرمي وه، د عربو لمر سوځولو تورو مخونو غوړ را ایستلي ول.

میرویس خان د حج له مراسمو وروسته ځینو دیني عالمانو ته تحفې ور وړې، لویو مفتیانو ته یې د ګرګین ظلمونه تشریح کړل...د ګرګین پر ضد د جهاد لیکلې فتوا یې ترې واخیسته.

میرویس خان بېرته اصفهان ته لاړ. دا ځل یې د شاه حسین او درباریانو په وړاندې باور نور هم زیات شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیراعظم او اعتماد الدوله پاچا ته ورغلل، ویې ویل چې میرویس خان کندهار ته تلی شوای، خو دی صفوي دربار ته صادق انسان دی، اصفهان ته راغی، ښه به دا وي چې د صفوي حکومت د ټینګښت په خاطر ګټه ترې واخلو.

شاه حسین هم پوهېده چې میرویس خان په خپلو خلکو کې دروند نوم لري، ډېرې قبیلې پرې راټولې دي، ده ته به د منصب ورکړه د صفوي حکومت په ګټه وي.

میرویس خان په ژمي کې د کندهار خواته حرکت وکړ. له ده سره د شاه حسین په مهر، مهر شوي دوه مکتوبونه ول.

* * *

یو ساتونکی راغی، تعظیم یې وکړ، ویې ویل:

_صیب! د ښار زیاتره دوکانونه وتړل شول.

ګرګین د شرابو جام کېښود، خپلې وروځې یې سره وروستې:

_ولې؟

www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



_نه پوهیږم! خلک له ښاره په وتو دي.

ګرګین ولاړ شو، له سالونه ووت. د جنګي کلا نږدې برج ته وخوت. خلک د ښار لوېدیځ لور ته روان ول...له دښتې د ډول غږ راته.···

یو افسر راغی، ویې ویل:

_صېب! ټول خلک د میرویس خان استقبال ته ور روان دي.

ګرګین د یوه توپ پر میل لاس کېښود، لوېدیځ لور ته یې وکتل، لیرې په سپېره دښته کې نری توره لیکه را روانه وه.···

افسر وویل:

_میرویس خان په همدې کاروان کې دی.

د ګرګین تندی تروه شوه، خپلې کوټې ته لاړ، کړکۍ ته ودرېد، پرده یې چوله کړه. وړو_ زړو د ښار لوېدیځ لورته منډې وهلې.···

ګرګین د پردې تر ژۍ خپلې ګوتې تاو کړې، کش یې کړه، له پردې سره د سپین ګچ وړې ټوټې راولوېدې. چیغه یې کړه، خدمتګار راغی، غلی ودرېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرګین وویل:

_شراب راوړه!

*   *   *

میرویس خان کندهار ته تر راتګ یوه اوونۍ وروسته د نارنج مانۍ ته ورغی. ګرګین ته یې احوال ور ولېږه چې غواړي ورسره ووینې، خو ګرګین یې غوښتنه ونه منله. ویلي یې و چې دی یوه مهمه غونډه لري، میرویس خان په دوهمه ورځ بیا جنګي کلا ته ورغی، د ګرګین ځواب دا ځل هم منفي و.

خو په څلورمه شپه ګرګین تر سهاره سترګه پټه نه کړه، له ډېرې غوسې خوب نه ورته، سپیده چاود یې څو کسان د میرویس خان کور ته ور ولېږل، خو میرویس خان ورته وویل چې کار لرم، بل وخت به سره ګورو.

د ګرګین زړه اور واخیست، خپلو عسکرو ته یې امر وکړ چې د بازار ټول دوکانداران جنګي کلا ته راوغواړي. غرمې ته لوی سالون له خلکو ډک وو.

ګرګین په غوسه ښکارېده، دوکانداران یې وګواښل چې که مالیه ور نکړي، دوکانونو ته به یې اور ور واچوي. خو د ټولو دوکاندارانو خبره یوه وه، ویل یې چې دوی ته د میرویس خان خبره تر هرڅه ډېر ارزښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګرګین له خولې لاړې باد شوې، ځینې دوکاندارن یې بندیان کړل، په سبا یې خپل دوه سوه عسکر د دوکانونو د نړولو له پاره بازار ته ور ولېږل، خو غرمې ته بېرته راغلل، ګرګین ته یې وویل چې سلګونه ځوانان له تورو او تبرونو سره ورته ولاړ ول.

ګرګین د کلا یوه برج ته وخوت، د څلورو توپونو خولې یې بازار ته ور واړولې.

یوه عسکر د توپ ګولۍ راوړه، بل عسکر چیغه کړه!

_میرویس خان جنګي کلا ته را را روان دی.

ګرګین لاندې وکتل، په تېز آس پسې مړه دوړه پورته کېدله...

ګرګین له برجه کښته شو، خپلې کوټې ته لاړ، د شرابو جام یې پر سر واړاوه.

میرویس خان راغی، ګرګین ته یې د سترې مشې له پاره لاس ور وغځاوه، خو خلاصې ګوتې یې په هوا کې پاتې شوې.

ګرګین په غوسه وویل:

_ته خلک بغاوت ته هڅوې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان وخندل، په سړه سینه یې وویل:

_نه، خو ستا دا درانه مالیات به بغاوت ته لاره هواره کړي.

ګرګین چیغه کړه:

_تا دوکانداران د مالیې له ورکړې منع کړي دي.

چای راغی، سوړ و.

میرویس خان د چایو پیاله بېرته په پتناسه کې کېښوده، ویې ویل:

_د دوکانونو مالیه دوه چنده ډېره شوېده...

ګرګین چیغه کړه:

_خو دا په تا پورې اړه نه لري!

میرویس خان وخندل، د خپلې سدرۍ جېب ته یې لاس کړ، ګرګین ته یې مهر شوی کاغذ ونیو.

ګرګین تاو شوی کاغذ ور واخیست، خلاص یې کړ، سترګې یې رډې راوختې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميرويس خان وويل:

_اوس خو وپوهېدې چې په ما پورې اړه لري؟!

ګرګين غلی و، کاغذ ته يې په حيرانۍ کتل.

ميرويس خان وويل:

_لومړی خبره! زه د شاه حسين په امر د کندهار ښار کلانتر ټاکل شوی يم، له دې وروسته به زه د ښار دوکانونو ته ماليه ټاکم، نو هيله کوم، زما په کار کې مداخله مه کوه.

ګرګين بل جام ور پورته کړ!

ميرويس خان د پاچا په مهر دوهم مکتوب ورته ونيو، ويې ويل:

_دوهمه خبره، هېڅ کار زما له مشورې پرته مه کوه!

ګرګين مکتوب ولوست، برېتونه يې وخوځېدل...

ميرويس خان وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_درېيمه خبره! بندي دوکاندارن باید همدا نن راخلاص شي.

میرویس خان له کوټې ووت.

ګرګین په غوسه و، ځمکې ځای نه ورکاوه، ده د جنګي کلا ټول مهم کسان خپلې کوټې ته ور وغوښتل. د صفوي پاچا مکتوبونه یې ور وښودل، ویې ویل چې پاچا په یوه داسي انسان باور کړی چې د صفوي حکومت ریښې وهي.…

خو نورو کسانو مشوره ورکړه چې د شاه حسین امر ته په سپکه کتل د ګرکین په ګټه نه ده. دی باید له میرویس خان سره ګذاره وکړي.

اتمه برخه

* * *

ترنګ شو، رباب وترنګېد، ګرګین د شرابو جام پر سر واړاوه، یودم یې چېغه کړه!

_بس که! په دې تکراري نغمه دې غوږونه را وخوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زوړ ربابي تورې ګوتې ولړزېدې، د رباب تارونه يې کش کړل، بله نغمه يې ونيوله.

ګرګين پر څوکۍ کېناست، جام يې وتېنګاوه، تر څنګ ولاړ سړي د شرابو سرايي کږه کړه، سره شراب د جام تر ژۍ راپورته شول.

يو عسکر راغی، تعظيم يې وکړ، ويې ويل:

_صيب! د کاکړو د قبيلې هغې پښې ماليات راوړل چې دا څو کاله يې ماليات نه ورکول.

ګرګين کېناست، عسکر ته يې په حيرانۍ وکتل.

عسکر وويل:

_صيب! سل اوښان او څلوېښت کچرې په غنمو او نورو خوراکي موادو بار دي.

ګرګين ولاړ شو، زانګې وانګې برندې ته ووت. له پورته يې لاندې وکتل، له اوښانو او کچرو ډکې بوجۍ کښته کېدلې...

د مالياتو مسوول راغی، سترګې يې ځلېدلې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بېړه يې وويل:

_ټول د میرویس خان برکت دی، دا قبیله يې د مالیاتو ورکړې ته مجبوره کړې ده.

د ګرګین ټنډه تروه شوه، بېرته خپلې کوټې ته لاړ.

میاشت وروسته د اصفهان شاهي دربار ته دا خبره ورسېده چې میرویس خان یوه بله داسې قبیله د مالیاتو ورکړې ته مجبوره کړه چې څو کاله يې مالیه نه وه ورکړې.

*     *     *

یحیی خان په خواشینی وویل:

_وروره، ځیني خلک په غوسه دي.

میرویس خان بېلچه ور واخیسته،د تاکونوله ډکې جووې يې اوبه واړولې، ورو يې وويل:

_پوهېږم!

چیغه يې کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



_بازګله!

د ونو له مينځه په ونه لوړ سړی را ووت. په بېړه راغی، ويې ويل:

_خان صېب! څه دې ويل؟

ميرويس خان وويل:

_د دې بېلچې لاستي  چاک کړی، د ورغوي غوښه نيسي.

سړي په بېړه وويل:

_خان صېب، ماته يې پرېږده، اوبه زه لګوم!

ميرويس خان وخندل:

_ستا له پاره وايم، لاس دې ژوبل نه کړي.

سړي بېلچه ور واخيسته، ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_خان صیب! له کوچنیوالي یواځې بېلچه پېژنم، بلد یم، له کلونو راهیسي ستاسو باغواني کوم.

میرویس خان وخندل، ځادر یې هوار کړ، کېناست.

یحیی خان وویل:

_ټول قومونه باور درباندې لري، خو ځینې کسان په غوسه دي، وایي چې لا اوس هم صفوي حکومت ته مالیه راټولوئ!

میرویس خان وویل:

_نو څه وایي؟

_وایي چې نور نو د تورې وخت را رسېدلی دی. تېره ورځ هم ځو کسانو د ګرګین پر یوه کلا حمله ور وړه!

میرویس خان وویل:

_کلا یې ونیوله؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



_نه، ټول تر تېغ تېر شول.

میرویس خان سوړ اسویلی وایست. له خاورو یې یوه مړه غومبسه را پورته کړه، د یوه تور مېږي تر مخې یې واچوله، ویې ویل:

_ورته وګوره!

یحیی خان ځمکې ته وکتل. مېږی راغی، تر غومبسې را وګرځېد، تر وزر یې کش کړه، نه کېده، غومبسه تر مېږي څو چنده غټه وه.

میرویس خان ټیټ شو، تر غومبسې یوه لویشت لېرې څو نورو روانو مېږیانو ته یې ور پوه کړل، تور مېږیان پر خړو خاورو ورغړېدل. یو پر غومبسه ولګېد، روان شو،خو بېرته راوګرځېد، غومبسه یې تر پښې ونیوله. نه کېده، دوو مېږیانو دومره لویه غومبسه نه شوای ورسره وړلای.

څو نور مېږیان راغلل، خو غومبسه درنه وه.

یحیی خان خپل ورور ته په حیرانۍ وکتل.

میرویس خان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_حوصله وکه!

وخت ووت. پر غومبسه خواره واره مېږیان راتول شول. غومبسه یې له ځمکې پورته کړه.

میرویس خان وویل:

_صفوي حکومت د همدې غومبسې په شان دی، په څو کسانو یې نه شو پورته کولای.

میرویس خان غلی شو، ورور یې په حیرانۍ ورته کتل.۰۰۰

میرویس خان وویل:

_لنډه منده ګټه نه لري، له فکره پرته قوي دښمن ته غېږه ورکول، د ځان تباهي ده. موږ باید له ارامو اعصابو کار واخلو، دښمن ته ځان ور نږدې که، کار پکې وکه، له مینځه یې مات که.

یحیی خان غلی و.

میرویس خان د خپل ورور پر اوږه لاس کېښود، ورو یې وویل:

په احساساتو او ځانځانۍ دې خدایکه شل کړه. دا غومبسه د خلکو هوښیاري او اتفاق، پورته کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یحیی خان سړه سا وایسته:

میرویس خان وخندل:

_ګوره! ګرکین هم کرار نه دی ناست، ځینې قبیلې یې پر ځان راټولې کړې دي، د خلکو په بې اتفاقۍ کې خپله بقا ویني، نه غواړي چې په یوه خوله اووسي، خو ما له ډېرو قومي مشرانو سره خبرې کړي،په ډېرو کسانو کې د آزادۍ د اخیستلو احساس را ژوندی شوی دی، مه نا امېده کېږه، بس، یو څه وخت نور هم صبر وکه!

یو ناڅاپه آس وشنېد، درب شو، د باغ لرګېنه دروازه له دېوال سره ولګېده، آس پر جووه راغی، پښې یې په ختو کې ننوتې، پر آس سپور سړي ټوپ کړل.

یحیی خان خپلې تورې ته لاس ور وغځاوه، خو میرویس خان تر مټ ونیو، ورو یې وویل:

_ساړه خوره! عبدالحمید دی.

سړی راغی، وار له واره یې چیغه کړه!

_د ابدالیو مشر دولت خان یې وواژه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



يحيى خان ودرېد، خو د ميرويس خان په پښو کې د ولاړېدو سېکه نه وه پاتې.

راغلي سړي وويل:

_ګرګين د شپې لخوا په شهر صفا کې د دولت خان پر کور يرغل ور ووړ. دولت خان او د هغه زوی نظرمحمد خان، دواړه يې ووژل.

ميرويس خان په راوتلو رډو سترګو ورته کتل.···

چوپه چوپتيا شوه، جووې ته د اوبو د تويېدو جوړړا راتله.···

د راغلي سړي په سترګو کې اوښکې راټولې وې. په غريو کې يې وويل:

_د شپې يې د کلا دروازه ماته کړه، دولت خان ونه تښتېد، مخې ته ورته راغی، خو د ګرګين عسکرو د توري وار ورباندې وکړ، د دولت خان زامنو او د کلا ساتونکو جګړه وکړه، خو شمېر يې کم و، نظرمحمد خان يې په غشو وويشت، خو د دولت خان دوه نور زامن رستم خان او محمد زمان خان وتښتېدل.···

يحيى خان خپل ورور ته وکتل، په غوسه يې وويل:

_اوس هم بايد صبر وکو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان ولاړ شو، څادر یې ور واخیست، شونډې یې وخوځېدې:

_هو! صبر وکړئ!

*    *    *

ګرګین په غوسه و، دی د اوږده سالون تر سره لاړ، بېرته راوګرځېد، د مېز  له سره یې د شرابو جام ور پورته کړ، چیغه یې کړه!

_څه پکې وایې؟

میرویس خان غلی و.

ګرګین وویل:

_نه اورې! درته ومې ویل چې د ارغستان ابدالیانو پاڅون کړی. یوه کلا یې نیولې ده.

میرویس خان ولاړ شو، ګرګین ته مخامخ ودرېد، د ګرګین د غټو سترګو په سپینو کې سره رګونه تېر ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان وویل:

_دا اور دې په خپله بل کړ!

گرگین جام پر ځمکه و ویشت، لاړ، په خپله څوکۍ زړېدلی سر کېناست.

میرویس خان وویل:

_تا د ابدالیانو مشر وواژه!

گرگین غلی و.

میرویس خان وویل:

_له ارغستانه خپل عسکر راوغواړه!

د گرگین له خولې لاړې باد شوې!

_نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان وویل:

_او د دولت خان زوی رستم خان د ابدالیو د قوم د مشر په توګه ومنه!

ګرګین ودرېد:

_امکان نه لري.

میرویس خان د چایو پیاله ورپورته کړه، ورو یې وویل:

_ بله لاره نه لرې.

میرویس خان له سالونه ووت. د جنګي کلا مخې ته یې ورور ولاړ و. دواړه پر آسونو سپاره شول. یحیی خان وویل:

_څه یې ویل؟

_د ارغستان د پاڅون په باره کې راسره غږېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



_څه مشوره دې ورکړه!

_ورته ومې ویل چې خپل پوځیان راوغواړه او د دولت خان زوی د قوم د مشر په توګه ومنه!

د یحیی خان تندی تریو شو:

_دا مشوره به دې نه ورکوله، که نور نه وي، په ارغستان کې خو باید د ګرګین له عسکرو سره وجنګېږو.

میرویس خان وخندل:

_د غومبسې کیسه دې هېره شوه؟

* * *

تیاره وه، تالنده وغړمبېده، د ولاړ سړي په سترګو کې سپینې کرږې لیکې تېرې شوې.

سړی یوې اوږدې کوټې ته ننوت. په دېوال کې ابېنودل شوې لمپې ژېړه رڼا کوله.. .

ګڼ کسان ولاړ شول. سړي ته یې غېږ ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي خپل لوند څادر پر تړلي بستره وغوړاوه. کېناست، يوه ځوان د چايو ډکه پياله ور ته کېښوده.

يوه بوډا وويل:

_ميرويس خانه! ناوخته شوې!

ميرويس خان وخندل، پر خپل لانده تندي يې لستونې تېر کړ، ورو يې وويل:

_حاجي کاکا! پخوا به تر خاکرانه په دوه ساعته کې را رسېدم، خو د نن لنده بل ته مې پام نه و، په باران او چکړو کې د آس پښو سم کار نه کاوه، دوه ساعته يې تر څلورو ساعتونو هم ور واړول.

غلى شو، شاوخوا يې وکتل، ويې ويل:

_اکرم خان نه ښکاري!

د کوټې له کونجه يوه غږ کړل!

_يواځې اکرم خان نه دى، ځينې نور قومي مشران هم نشته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه بل وویل:

_ټول خبر ول. احوال مو ور لیږلی و، خو رانه غلل، جرګې ته یې په سپکه وکتل.

میرویس خان د چایو غوړپ وکړ، ورو یې وویل:

_دومره ژر یو څوک مه ملامتوئ، شرایط خراب دي، یا به احوال نه وي ور رسېدلی، یا به یې باران د راتګ مخه نیولې وي.

ټول غلي شول.

یوه وویل:

_میرویس خانه! ستا تر راتګ مخکې مو خبرې کولې، بس! یواځې پر جنګې کلا د حملې ورځ راښیه!

یوه بل وویل:

_خو زه په اوس وخت کې د جګړې مخالف یم!

درېیم په خبره کې ور ولوېد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_یاره سیدال خانه، ( نه ) مه پکې وایه!

یوه بل وویل:

_سیدال خان ناصري سم وایي! تر اوسه لا کمزوري یو، ټول قومونه مو نه دي غځولي!

د کوټې له کونجه یو را مخته شو، ویې ویل:

_قومونه نو سپین وي که تور! دا دی، د اوو، اتو قومونو مشران شته. نور څوک غواړئ!

یوه بوډا وویل:

_میرویس خانه! ته څه پکې وایې؟

میرویس خان وویل:

_د هر چا نظر د قدر وړ دی، خو د ناصري صاحب خبره مې خوښه شوه!

غلی شو، د چایو پیاله یې ور پورته کړه، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_پر ګرګین حمله، وړه خبره نه ده.

یوه وویل:

_نو څه وکو؟

میرویس خان وویل:

_د لیرې سیمو اوسیدونکي هم پرې را ګډ کړئ! که زما منئ، ان د هزاره ګانو مشران هم راوغواړئ!

یوه وویل:

_خو ځیني خلک له ګرګین سره جګړه ناروا بولي، وایي چې پر مسلمان به څنګه توره پورته کوو!

سیدال خان ناصري وویل:

_میرویس خانه! د مکې د علماوو فتوا دې څه کړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان د خپلې سدرۍ جېب ته لاس کړ، کاغذ یې را وایست. سیدال خان په بېړه کاغذ ور واخیست، ویې ویل:

_د باران اوبه ور رسیدلي دي، نم یې کش کړی، دا کاغذ ډېر ارزښت لري.

کاغذ ته یې ور پوه کړل، پر بالښت یې کېښود. ورو یې وویل:

_له ځینو کسانو یې ښځې بوتلې، خو اور یې وانه خیست، دا فتوا به یې خولې ور بندې کړي.

میرویس خان وویل:

_اوس نو یوې بلې جرګې ته هم ضرورت دی؛تردې لویې جرګې ته!

* * *

د جارو ډکي پر ځمکه وښوېدل، خاوره او د زرتارو وړې ټوټې یې ورسره یووړې.

یوه دوکاندار چیغه کړه!

_اه! خان صېب! مه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل دوکاندار راغی، د میرویس خان له لاسه يې جارو ور واخیسته، ځړېدلی سر ودرېد.

تر میرویس خان ګڼ دوکاندران را تاو شول، ټول غلي ول...

میرویس خان وویل:

_که هر څوک د خپل دوکان مخه پاکه کړي، ښار په خپله پاکېږي.

یو سپین ږیری رامخته شو، میرویس خان يې پر ټنده ښکل کړ، ورو يې وویل:

_ نور مو مه شرموه!

یودم يې چیغه کړه!

_ټول خپل دوکانونه وتړئ! بېلچې او جاروګان راواخلی! تر غرمې د بازار د پاکولو اشر دی.

میرویس خان وویل:

_زه هم یوه بېلچه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین ږیری دوکاندار وویل:

_تاسو د ښار کلانتر یاست، ښه نه ده چې...

میرویس خان په خبره کې ور ولوېد:

_بابکه! کلانترې ښېله خبره ده، زه هم د دې سیمې اوسېدونکی یم، غواړم چې د ښار په پاکولو کې برخه واخلم.

آس وشنېد، د کوڅې په سر کې یو مول وهلی کس ښکاره شو. راغی، د میرویس خان غوږ ته یې خوله ور نږدې کړه. څه یې وویل، د میرویس خان رنګ والوت.

میرویس خان یوه شېبه غلی و، بیا یې د سپین ږیرې دوکاندار پر اوږه لاس کېښود، ویې خندل:

_بس! یواځې څو شېبې وروسته بېرته راځم.

روان شو، مخ یې را واړاوه، په خندا یې وویل:

_زما ښېلچه هېره نه کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ونه پورې تړلي آس ته ور وګرځېد، له راغلي کس سره  له ښاره ووت. دواړه د توت زړې ونې ته ور وګرځېدل. سیوري ته کېناستل. میرویس خان ورو  وویل:

_ګرګین له کومه وپوهېد؟

سړي خپل مول خلاص کړ، ویې ویل:

_ستاسو له ډلې کوم یوه احوال ورته راوړی و، ویل یې چې څه موده مخکې مو په  خاکران کې د ځینو قبیلو مشران راټول کړي وو او د ګرګین پر وړاندې د قیام  پر لارو چارو غږېدې.

میرویس خان سړه سا وایسته.

سړي وویل.

_ګرګین ور وغوښتم، په غوسه و، ویې ویل چې د جنګي کلا قوماندانان راوغواړه، شپږه وروسته یې په جلسه کې ستا نوم واخیست، د خاکران جرګه یې یاده کړه، ویل یې چې میرویس خان خطرناکه دی.

له ونو څو پوځیان را ووتل، پر دوو تورو آسونو  پسې تړلی توپ یې ټېله کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان مول وواهه.

میرویس خان وویل:

_د جلسې نتیجه څه راوخته؟

ټول په یوه خوله ول، ستا پلوي یې کوله، ویل یې چې میرویس خان د ښار کلانتر دی، ښه منصب لري، په کندهار کې د صفوي حکومت راپرزېدا یې په ګټه نه ده، میرویس خان به څنګه خپلو پښو ته، خپله تبر نیسي.…

سړی ولاړ شو، ورو یې وویل:

_زه درنه لاړم! د ګرګین جاسوسان ډېر دي.

میرویس خان وویل:

_حاجي نواب زرګر ته ورشه، د هغه بل ځل د احوال راوړلو پیسي مي هم درته اینبي دي.

ځوان پر آس پښنه واړوله، ویې خندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_خو د احوال راوړلو بیه یو څه ډېره که، پوهیږې! په دې شرایطو کې  کې اسانه کار نه دی.

سړي آس ته پښه ورکړه!

میرویس خان فکر په مخه کړ، شونډې یې وخوځېدې:

_ګرګین به چا د خاکران د جرګې له حاله خبر کړی وي!!!

نهمه برخه

*   *   *

میرویس خان د انګورو  واښکی ور واخیست، ورو یې وویل:

_د خاکران په جرګه کې اتلس کسان وو. څوک خاین درته ښکاري؟

سیدال خان ناصري د انګورو دانه خولې ته واچوله. ویې ویل:

_ټول په وطن مین خلک دي، خو یواځې په دوو کسانو شک لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان په بېړه ور وکتل.

سیدال خان وویل:

_عطاګل او ملک قاسم  څو ځله په جنګي کلا کې لیدل شوي دي.

میرویس خان وویل:

_دواړه خبر که چې د راتلونکې جومې په شپه  مو د قومونو مشران راټول کړي دي، غواړو چې پر جنګي کلا د حملې تیاری ونیسو.

د سیدال خان سترګې رڼې راوختې.

میرویس خان وویل:

_خو دواړو ته د جرګې د جوړېدو دوه مختلف ځایونه ور وښیه.

*   *   *

ملک قاسم په غوسه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_دا نو څه ملنډې دي، له ماښامه راهیسې مو په کوټه کې کېنولی یم، د عبدالله کور ته څه وخت ورځو؟ نیمه شپه شوه.

سیدال خان ناصري ورو وویل:

_ملک صېب، بس یوازې د یو څو شېبو خبره ده.

عطاګل په خبره کې ور ولوېد:

_سیدال خانه! پر مور مو ملنډې ووهلې، په دې سپینه ږیره مې دوه ساعته مزل راوکړ، دلته راغلم، خو نه جرګه شته او نه هم مرکه!

دروازه خلاصه شوه، د لاس مینځلو اوبه راغلې.

سیدال خان وویل:

_عطاګل کاکا، ځینې مشران رانه غلل، جرګه مو بل وخت ته وځنډوله.

ملک قاسم چیغه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



_نو موږ مو ولې برمته کړي یو؟

سیدال خان وخندل:

_ملک صېب. تاسو زموږ مېلمانه یاست. غوړه ښوروا، پاکه او پسته بستره، ښکلې کوټه، نور څه غواړئ! هسې هم په دې توره شپه کې خپل کلي ته نه شي رسېدلی.

ملک قاسم ولاړ شو:

_ملندې مه وهه! تا خو احوال راولېږه چې د جرګې ځای د عبدالله په مهمانخانه کې دی، خو زه مو دلته راوستم.

سیدال خان وویل:

_اوس خو جرګه نشته، نو ځای یې ولې درته مهم دی.

د ملک قاسم رنګ والوت، بېرته کېناست، لاسو نه یې چلمچي ته ونیول، خړې اوبه ترې تویې شوې.

سیدال خان ناصري د باندې ووت. بالا خانې ته وخوت. میرویس خان وړې کړکۍ ته ولاړ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیدال خان ناصري وویل:

_ملک  قاسم په پوست پاک نه راته ښکاري، ډېر نا ارامه دی.

میرویس خان تر کړکۍ سر وایست، پر ستورو د سپوږمۍ تته رڼا پرته وه.

میرویس خان وویل:

_ملک قاسم ته دې څه ویلي وو؟

ورته ومې ویل چې ملګري د عبدالله په کور کې راټولېږي.

_او عطاګل کاکا ته؟

_هغه مې د عبدالرحمن  د باغ کشمش خانې  ته راغوښتی و. ورته ومې ویل چې کشمش خانه مو  فرش کړې ده.

دواړه غلي شول، چرچرک نارې وهلې.…

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آسونو د پښو دربا راغله. میرویس خان کیڼ لوري ته وکتل، ګڼ سپاره د عبدالرحمان تر باغ تېر شول، د عبدالله د کلا لويي دروازې ته ودرېدل. میرویس خان خپلې سترګې ټینګې کړې، څو ځله يي ورپولې. د کلا دېوال ته زینه ودرېده، څو عسکر تر دېوال واوښتل.

چیغې شوې!

میرویس خان وویل:

_ځان ور ورسوه

سیدال خان په بېړه پر زینو کښته شو، چیغه يي کړه

_هلئ!

له څو ځوانانو سره په منډه له کلا ووت.

میرویس خان کوټې ته ورغی. ملک قاسم او عطاګل وارخطا ول.

میرویس خان وویل:

www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ملک قاسمه! ته خاین یې!

د ملک قاسم سترګې رډې راوختې.

میرویس خان وویل:

_تا ګرګین ته  د خاکران د جرګې احوال ور وړی و.

ملک قاسم چیغه کړه!

_چټیات مه وایه!

میرویس خان وویل:

_ موږ پر تا او عطاګل اکا باندې شک درلود، د خاین د مالومولو له پاره مو دواړو ته د خیالي جرګې د جوړېدو مختلف ځایونه ور یاد کړل، پوهېدو چې خاین به ګرګین ته د جرګې د ځای په اړه خبر ورکوي، د ګرګین عسکر د عبدالرحمن  تر باغ تیر شول او  د عبدالله  پر کور ور وختل.

میرویس خان غلی شو، د ملک قاسم سترګې رډې راختلې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميرويس خان وويل:

_ملک قاسمه، تاته مو د عبدالله کور در ياد کړی و.

ملک قاسم ګام واخيست، د ښوروا په کاسه کې وخوت، ميرويس خان يې پورې واهه. ميرويس خان پر بله لمپه ولوېد، تياره شوه.

ميرويس خان چيغه کړه!

_ويې نيسئ!

ميرويس خان د باندې ووت، د کلا دروازه خلاصه وه.

د چوترې پر ژی کېناست. خپل سر يې په دواړو لاسونو کې ونيو. نږدې غږ يې واورېد:

_وتښتېد؟

ميرويس خان ور وکتل، عطاګل و.

ميرويس خان وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_اکا! درته شرمنده یم. مجبوروم، خاين مو باید پیدا کړی وای…

عطاګل سړه سا وایسته. د میرویس خان  تر څنګ کېناست، ورو يې وویل:

_ بچیه! خوا مه بدوه، که زه ستا پر ځای وای، ما هم همدا کار کاوه.

سیدال خان راغی، ویې ویل:

_ملک قاسم څه شو؟

میرویس خان وویل:

_وتښتېد.

دواړه غلي شول.

میرویس خان وویل:

_د حاجي عبدالله په کور کې خو په څوک نه يي ژوبل شوي.

_نه، مشر زوی يې مازې په لاس ولګېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عسکرو څه ویل؟

_ویل یې چې دلته د حکومت پر ضد خلک راټول شوي، خو څه یې ونه موندل، بېرته لاړل.

میرویس خان سره سا وایسته، ورو یې وویل:

_د دوهمې جرګې د جوړېدو کار څنګه شو؟!

* * *

ژېړې پاڼې ورغړېدې، نرۍ برېوکۍ راغله، پر آس سپور مول وهلي سړي خپلو سترګو ته لاس ونیو، دوړه د کلي په مینځ کې د پراته ډېران پر سر راوګرځېده، ډېران ته نږدې یې د ډنډ په خوسا اوبو کې سپکه وخته.

سړی له آسه کښته شو. مول یې خلاص کړ، له کلا ګڼ کسان راووتل، سړي ته یې غېږ ورکړه، یوه بوډا وویل:

_میرویس خانه! لاره خو دې غلطه نه کړه!

میرویس خان وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_نه حاجي بابکه! مانجې ته څو وارې پخوا هم راغلی وم.

یو ځوان راغی، آس یې د کلا تر مخ ولاړو کتار غواوو ته نږدې وتاړه.

میرویس خان وویل:

_آس وږی دی! له سهاره راهیسې یې ژامې نه دې خوځېدلې!

بوډا وویل:

_غم یې مه کوه، په اوربشو به یې موړ کو.

ډله کلا ته ننوته. لمر ته کتار کوټې ولاړې وې، د کوټې تر مخ چوتره له لمر وهلو سره بخونو انګورو ډکه وه.

میرویس خان وویل:

_حاجي بابکه! وامې ورېدل چې دلته په مانجه کې انګورو مرض کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا وویل:

_هو! خونده يې نه وه، له درېیو زرو تاکونو مو یواځې همدا ممېزو ته واچول.

ټول برج ته وختل، په وړه کوټه کې سور لیکې لیکې ټغر هوار و. څنډو ته یې رنګارنګ توشکې ښکاېدلې.

میرویس خان سړه سا وایسته:

_بابکه! دې کوټې د اصفهان بالاحصار را په زړه کړ.

کېناست. پیالې وکړېېدې، توره چایجوشه راغله، په ختین لوښي کې نیمه ممیز شوي انګور پراته ول.

میرویس خان وویل:

_د جرګې له پاره څوک راغلي دي؟

بوډا بالښت ته ډډه ووهله. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_هو! د ملک حبیب الله کوټه ډکه ده. بس! یواځې د هزاره وو مشران یو څه وځنډېدل. نه وو ملامت، لاره لیرې وه. ایله پرون را ورسېدل.

میرویس خان د چایو پیاله ور پورته کړه.

بوډا وویل:

_سیدال خان ناصري، بابو جان بابی، میاجي بهادر خان.…

یودم غلی شو، خپل تندي ته یې څپېړه ورکړه، ویې ویل:

_اوف! څه بلا یې بولي! گل خان بابړ.

وره ته نږدې ناست ځوان ته یې وکتل، ویې ویل:

_بچیه! ماغزه مې سم کار نه کوي، له ما یې د نورو نومونه هېر شول.

ناست ځوان وویل:

_یوسف خان، عزیزخان نورزی، نورخان برېڅ، نصروخان الکوزی، یونس خان کاکړ.…

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان له چایو غوړپ وکړ، ویې ویل:

_هغه زما وراره، محمد خان او ملګري یې را رسېدلي دي؟

ځوان وویل:

_هو!

بوډا وویل:

_میرویس خانه! وخت خراب دی، ولې دې دومره لاره یواځې را ووهله؟

میرویس خان وویل:

_بابکه! وراره مې ډېر راته ټینګ و، ویل یې چې له موږ سره یو ځای لاړ شه، خو د ګرګین جاسوسان ډېر دي. ښه مې وګڼله چې د سهار په خړه کې یواځې له کوره راووځم.

بوډا سر وخوځاوه:

_سم وایې زویه! سم وایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی شو، یودم یې وویل:

_هاغه ملک قاسم څه بد کړي و! وراره دې کیسه راته وکړه. سم اصول داره سړی و. شک مې هم نه پرې راته چې د پردیو جاسوس به وي.

میرویس خان سړه سا وایسته:

_بابکه! د انسان پېژندل سخته ده. د بدو ورځو یار مو ګاڼه، خو خیانت یې وکړ، اوس د ولس له ویرې په جنګي کلا کې اوسي.

بوډا ټوخي واخیست. په زحمت یې وویل:

_سترې به یې، له ډوډۍ او لمانځه وروسته یوه سترګه خوب وکه. د جرګې ځای مو د ملک حبیب الله کوټه ټاکلې ده. بېګاته به له خیره هلته ورځو.

* * *

د بالښت پر سر ایښې قرآن شریف ته لاسونه ور وغځېدل، ټولو په یوه خوله لوړه وکړه چې د وطن ازادي ته به ژمن وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو بېرته په خپل ځای کېناست.

میرویس خان وویل:

_اوس باید د جګړې په اړه خبرې وکو.

سیدال خان ناصري وویل:

_پر جنګي کلا مستقیمه حمله مو له پښو غورځوي. پر دېوالونو ولاړ ځلوېښت توپونه وړه خبره نه ده. موړ...

نور خان برېځ په خبره کې ور ولوېد:

_لومړی به له ارګه ( جنګي کلا ) د باندې پر نورو پوځي کلاوو برېد وکړو.

یوسف خان غاړه صافه کړه!

_خال خال، حملې ګټه نه لري! د ګرګین ټول زور جنګي کلا ده. د جنګي کلا نیول، د شپېرو نورو کلاوو د سقوط مانا ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې ډېرې شوې، نوبت له واکه ووت، هر یوه خپله خبره کوله…

میرویس خان غلی و.

شېبه وروسته ټول په یوه خوله شول، ویل یې چې تلفات منو، خو پر جنګي کلا له حملې څخه نه تېرېږو.

سیدال خان ناصري، میرویس خان ته وکتل:

_خانه! غلی یې!

میرویس خان د چایو غوړپ وکړ، ورو یې وویل:

_پر جنګي کلا مې د حملې پر هر اړخ فکر وکړ، د خپلو جنګیالیو له ډوبېدا پرته مې څه ونه موندل.

د کوټې له کونجه یو غږ راغی!

_زړور اوسه! نر پسه د قربانۍ له پاره دی.

نصروخان الکوزي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_د میرویس خان خبره سمه ده. ټول قربانۍ ته تیار یو، خو څومره قرباني!!!

ملک حبیب الله وویل:

_ودې وژل شو، خو چې منطق ولري، پر جنګي کلا مستقیمه حمله بې نتیجې ده.

میرویس خان وویل:

_جګړه بې تلفاتو نه وي، خو باید فکر وکو، کم تلفات او بریالیتوب.

عزیز خان نورزي وویل:

_سخته ده، ګرګین له ټوپکو او توپونو سره په جنګي کلا کې راته ناست دی، موږ منډه پرې ور اخلو، تلفات به خامخا ډېر وي.

ټول غلي شول.

میرویس خان وویل:

_یو څه وخت راکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باندې ووت. سپوږمۍ په وربځو کې پټه وه. له غونډیو د لېوانو انګولا راتله.

کېناست، ولې یې له دېوال سره ولګول.

یودم ولاړ شو، د کوټې په وره کې ودرېد، سترګې یې وځلېدې، په خوند یې وویل:

_له ګرګین سره له ښاره د باندې جګړه کوو.

ورمیړونه کاږه شول، د ناستو کسانو سترګې رډې راوختې.

یوه وویل:

_ګرګین دومره کم عقل نه دی چې جګړې ته له پخو دېوالونو را ووځي.

میرویس خان وویل:

_پوهیږم! څکه نو موږ له هوښیارۍ کار اخلو.

_څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان کېناست، ویې ویل:

_زما خبرې واورئ!

لسمه برخه

* * *

د جنګي کلا دروازه خلاصه شوه، پر دوو آسانو پسې تړلې سر پټې ګاډۍ ودرېده، ګاډیوان کښته شو، کاږه ګامونه یې واخیستل، لاس یې پر دېوال ولګاوه، ولوېد.

عسکرو ور منډه کړه، پړمخې لوېدلی ګاډیوان یې ستوني ستغ راواړاوه. تر اوړې یې مات شوی غشی راوتلی و.

یوه عسکر چیغه کړه!

_نورو ور وکتل، عسکر د ګاډۍ خلاصې پلې ته ولاړ و، ګاډۍ له مړو ډکه وه.

د ټپي عسکر ځګیروی وخوت، په زحمت یې د خپل سره کوټ جېب ته لاس کړ، په وینو لړلی کاغذ یې را وایست. ورو یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_دا کاغذ اعلیحضرت ته ور ورسوئ!

یوه عسکر کاغذ ور واخیست، د نارنج مانۍ ته یې منډه ور واخیسته، پر زینو وخوت. د لوی سالون دروازه یې خلاصه کړه.

د ګرګین له خولې لاړې باد شوې:

_احمقه! نه وینې چې جلسه لرو.

عسکر په ماته خوله وویل:

_صېب! صېب! ستا اوښی او د هغه ملګري یې وژلي دي.

په سالون کې ناست قوماندانان ودرېدل، د ټولو سترګې رډې راختلې وې.

ګرګین چیغه کړه!

_څه چټیات وایې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



عسکر په خواره خوله وويل:

_د کلا په مینځ کې ګاډۍ ودرېده، له مړو ډکه ده.

مخکې ورغی، ګرګین ته یې کاغذ ونیو، ویې ویل:

_یواځې ګاډیوان ژوندی پاتې دی!

ګرګین په بیړه کاغذ ور واخیست، رنګ یې سور شو، سترګې یې رډې راوختې، چیغه یې کړه!

_اه! نو دومره زړه!

ولاړو کسانو یو بل ته وکتل.

یوه کاغذ ور واخیست. شونډې یې وخوځېدې:

))ګرګین خانه! که روغي پښې غواړې، نو له دې وروسته بلوڅو ته په مالیه پسې مه راځه.(( !

ګرګین چیغه کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ګاډیوان راولئ!

عسکر په بیړه له سالونه ووت.

د ګرګین له خولې لاړې باد شوې:

_د بلوڅو سیمې ته چا کسان لیږلي وو؟

یو ډنګر سړی را مخته شو، په رېږدېدلي ږغ یې وویل:

_صېب! ما!

_څو کسان وو؟

_څه؟

ګرګین چیغه کړه!

_نه اورې! بلوڅو ته دې په مالیه پسې څو کسان لیږلي وو؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



_صېب! ستا اوښي مې نه لېږه، په خپله يې ويل...

گرگین چيغه کړه!

_احمقه! څو کسان ؟

_صېب! پنځوس عسکر او  پنځلس گاډۍ!

گاډېوان راغی، له اوږې يې تازه وینه بهېدله.

گرگین وويل:

_نور ملگري دې څه شول؟

د گاډېوان سر وځړېد:

_صېب! ټول يې ووژل.

گرگین لاړ، پر څوکۍ کېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاډیوان وویل:

_صېب! کاکړو ته د مالیې له پاره لېږل شوي درې څلوېښت پوځیان هم وژل شوي دي، کاکړو هم په یوه خوله د مالیې له ورکړې انکار کړی.

کړنګ شو، جام ورغړېد، د ګرګین سوک د لرګي د مېز له نریو دړو ووت.

چیغه یې کړه!

_لښکر تیار کړئ!

* * *

ګرګین پر یوه لوړه ولاړ و، ده د جنګي کلا په ارت میدان کې څو زره منظمو پوځیانو ته خبرې کولې ....

غرېدا یې تونده وه، د بلوڅو او کاکړو چرګې او څاروي یې هم د رحم وړ نه ګڼل. ده هغو پوځیانو ته د انعامونو ژمنه ورکړه چې ډېر سرونه پرې کړي.

ګرګین اوږدې خبرې وکړې، ټوله غرېدا یې د وینو او انتقام په اړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته يې مهم جنګي قوماندانان را ټول کړل، پر مېز يې د بلوڅو او کاکړو د سيمو نخشه وغوړوله. د حملې لوري يې وټاکل…

سالون ته د میرویس خان په ورتګ يې نخشه ټوله کړه. میرویس خان غلی ودرېد.

ګرګين وويل:

_جګړې ته دې څومره کسان تيار کړل؟

میرویس خان وخندل:

_يو هم نه!

د ګرګين سترګې رډې راوختې!

_بيا نو مه وايه چې صفوي دربار ته صادق يې.

میرویس خان ټولې شوې نخشې ته وکتل، ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_صداقت له باور سره تړلی دی.

د ګرګين پر تنده خولې راغلې. نخشه يې بېرته پرانيسته. پر تورو نښو يې ګوته کېښوده، ويې ويل:

_د دې غونډيو ور هاخوا د بلوڅو ځو لوی کلي پراته دي. حمله له همدې ځايه پيلوو، وروسته نورو کليو ته ورځو...بيا د کاکړو وار دی.

ميرويس خان وويل:

_د حملې له پاره مو څومره لښکر برابر کړی ؟

_دوه زره پلي پوځيان، زر سپاره ، لس توپونه او يوسلو اويا جنګي بګی.

ميرويس خان نخشې ته وکتل، ويې ويل:

_د بلوڅو او کاکړو ماتې دومره اسانه خبره نه ده. تر دې کليو ور هاخوا مالداره بلوڅ پراته دي، ان ښځې يې هم په ټوپک پوهېږي.

غلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرګین وویل:

_نو ته په څه درد خورې!

میرویس خان وویل:

_ما څلور  زره جنګیالي تیار کړي دي، خو نیمايي يې ټوپک نه لري. که د ټوپکو مرسته راسره وکړې، بريالي به یوو.

ګرګین په خبره کې ور ولوېد:

_د ټوپکو خبره مه راته کوه.

_نو بیا خپل پوځیان ډېر که!

ګرګین په حیرانۍ ورته وکتل.

میرویس خان وویل:

_د پوځیانو شمېره دې شپږو زرو ته ورسوه، توپونه هم باید تر دېرشو کم نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه قوماندان وويل:

_خو مورږ جنګي کلا يوائځې نه شو پرېښودلای!

ميرويس خان وويل:

_جنګي کلا يوائځې نه ده، نيمايي پوځيان پکې پاتې کېږي. شېږ نورې کلاوې هم له عسکرو ډکې دي.

ګرګين لاړ، پر څوکۍ کېناست.

ميرويس خان وويل:

_زه دا خلک پېژنم، بلوڅ او کاکړ غښتلي جنګيالي لري، ماتې به دې صفوي حکومت ته بې اعتباره کړي.

ګرګين خپل سر په دواړو لاسونو کې ونيو، يوه شېبه غلی و، وروسته يې سر پورته کړ:

_شل توپونه او شپږ زره پوځيان تيار کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلیٔ شو، ویې ویل:

_میرویس خانه! خپل کسان راټول که، د هفتې په پیل کې حرکت کوو.

میرویس خان وویل:

_درې زره کسان تیار دي، د نورو غم مې هم خوړلی، ځینې قبیلې په لاره کې پرتې دي، بس له دې خوا پرې ورځم، جنګیالي به یې تیار وي.

ګرګین جام پر سر واړاوه، ویې ویل:

_نو له موږ سره ملګرتیا نه کوې!

میرویس خان وخندل:

_غم مه کوه! غونډیو ته به په یوه ورځ ور رسېږو.

*   *   *

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميرويس خان ماسپښين له جنګي کلا ووت، په هماغه مازديګر يې د بلوڅو او کاکړ و مشرانو ته دوه تکړه سپاره ور ولېږل چې د ګرګين د پوځ له شمېر، امکاناتو ، د تګ له لارې... او د حملې له ځايه يې خبر کړي.

په دوهمه ورځ يې د ځينو قبيلو له مشرانو سره خبرې وکړې، ميرويس خان خوشاله و، تر دې ځايه يې خپله نخشه بريالى ګڼله، له جنګي کلا يې د ګرګين نيمايي پوځ او شل توپونه ايستلي ول.

وروسته يې په پاتې نخشه خبرې وکړې.

*   *   *

تور لوګي تر غونډيو پورته ولاړ ول. ميرويس خان آس ته پونده ورکړه، د غونډۍ سرته وخوت، لاندې په لمنو کې پراته کلي په تورو لوګيو کې پټ ول.

کله کله به د يوه توپ له خولې سره غورنجه را ووته.

ميرويس خان بېرته شاته وګرځېد، پر غونډۍ کښته شو، د خپلو زرګونو کسانو مخې ته ودرېد. په لوړ غږ يې وويل:

_همدلته واړوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيدال خان ناصري مخکې ورغی، سترګې يې له اوښکو ډکې وې.

میرویس خان وخندل:

_مه وارخطا کیږه! تشو کورونو ته يې توپونه نیولي دي.

سيدال خان وویل:

_وخت يې نه دی؟

_نه!

سيدال خان آس ته پونده ورکړه، د لښکر تر سره  لاړ، بېرته راوګرځېد، پر لوړه ودرېد، چيغه يې کړه!

_خیمې ودروئ!

وخت ووت، میدان رنګارنګ خیمو ونیو.

میرویس خان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_راځه!

سیدال خان آس ته چوکه ورکړه، دواړه پرغونډۍ وختل، لاندې د سوځېدلو باروتو بوی ته. پر غونډۍ کښته شول، د ګرګین ځینو پوځیانو خیمې وهلې. نور د ټوپکو په پاکولو بوخت وو، ځینې یوې بلې خواته ګرځېدل. کله کله به یو نیم آس وشنېد.

میرویس خان یوې لویې خیمې ته ور ننوت. ګرګین پر څوکۍ ناست و، مخې ته یې نخشه پرته وه.

ګرګین سر پورته کړ، سترګې یې سرې وې، په غوسه یې وویل:

_په کلیو کې هېڅوک نه وو، چا خبر ورکړی! ان خپل څاروي یې هم ایستلي دي.

میرویس خان پر څوکۍ کېناست، ویې ویل:

_ته باید زموږ تر راتګه ماتله شوی وای.

ګرګین وویل:

_طاقت نه راته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان وخندل:

_او تشو کورونو ته دې توپونه ونیول.

ګرګین په خبره کې ور ولوېد:

_ما قسم کړی، د بلوڅو او کاکړو یو دېوال به هم روغ رانه پاتې نه شي.

غلی شو، ویې ویل:

_جنګیالي دې چېرته دي؟

_تر غونډیو ور هاخوا!

_غواړم چې ویې وینم.

ګرګین له خیمې ووت. پر آس یې پښه واړوله، له میرویس خان او سیدال خان سره پر غونډۍ وخوت. لاندې سلګونه رنګارنګ خیمې ولاړې وې.

ګرګین ښي لور ته ګوته ونیوله، لیرې د غره په لمنه کې ګڼې ژېړې او سرې ونې ښکارېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویې ویل:

_سبا د همدې کلیو وار دی.

میرویس خان وخندل:

_نو دا حملې به میاشتې وخت ونیسي.

ګرګین په حیرانۍ ورته وکتل.

میرویس خان وویل:

_پوهیږې چې کاکړ او بلوڅ دواړه منظم لښکر نه لري چې په یوه ځای یې ور سره مالومه کړو. د دوی جنګیالي په وړو وړو ډلو وېشل شوي دي، دا ډلې په ځینو کلیو کې پټې دي، شاید ځای ځای د ترپ او خرپ جګړه وکړي، په دوی پسې به زموږ د زرګونو کسانو یو ځایي ورتګ د وخت ضایع کېدل وي.

ګرګین وویل:

_نو څه وایې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



_که زما منې لښکر نيم که، نيمايي يې کاکړو ته ولېږه، پاتې به د بلوڅو سيمې جارو کړي. هسې مو هم شمېر ډېر دی، د ترپ او خرپ پر جګړې غښتلي يو. په کم وخت کې به دواړه قبيلې له پښو وغورځوو.

ګرګين غلی و، ده د آس د يال په مړو وېښتو کې ګوتې تېرولې.

يودم يې سر پورته کړ، ويې ويل:

_خبره دې په فکر کولو ارزي.

ميرويس خان د غره په لمنو کې لرو پرتو کليو ته ګوته ونيوله، ويې ويل:

_دا ځل به يې زه ورسره مالومه کړم!

ګرګين غلی و.

ميرويس خان وويل:

_غم مه کوه! اوس زما وار دی چې صفوي حکومت ته خپل صداقت ور وښيم. سبا نه، بل سبا به په هماغه کليو کې زما مېلمستيا وخورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرګین آس ته پونده ورکړه، پر غونډۍ کښته شو.

میرویس خان خپل لښکر ته ور وګرځېد، خیمې ته ننوت، د بلوڅو نویو راغلو مشرانو ته یې غېږ ورکړه، کېناست، ویې ویل:

_څو جنګیالي مو تیار کړي دي؟

یوه په ونه دنګ بلوڅ وویل:

_دوه زره.

میرویس خان وویل:

_سمه ده، اوس شپږ زره کسان لرو، خو که ګرګین خپل لښکر نیمايي کړ، نو دې تعداد ته هم ضرورت نشته.

وروسته یې خپل وراره محمد خان راوغوښت، ورته ویې ویل چې غونډۍ ته وخېژي او په پټه د ګرګین پوځ وڅاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد خان مازدیګر بېرته راغی، خپل تره ته یې وویل چې ګرګین خپل نیمایي پوځ جنوب لور ته ولېږه.

د میرویس خان سترګې وځلېدې، د لښکر د تیارېدو امر یې وکړ، څو زره جنګیالي په شپه کې، د غره په لمنو کې پرتو کلیوته روان شول.

* * *

میرویس خان یوې لوړې ته وخوت، لمر و، له خړو کورونو تور لوګي پورته کېدل.

وړې ډبرې ورغړېدې، میرویس خان ور وکتل، سیدال خان پورته را خوت.

میرویس خان پر یوه لویه تیږه کېناست، سیدال خان وخندل:

_څنګه! څوک به وایي چې دلته جګړه نه ده تېره شوې.

غلی شو، د میرویس خان تر څنګ کېناست، په سوځېدلي سا یې وویل:

_څو کادانو ته مو اور ورته کړ، وینې یې، د پروړې لوګی تر ډېرو وي.

غلی شو، لیرې یې ګوته ونیوله، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_تر هاغه چنارانو ور هاخوا غوته لوګی بیا د وچو پاڼو دی.

میرویس خان وویل:

_ګرګین ته مو څوک ور ولېږه؟

_هو، د غرمې مېلمستیا ته مو را وغوښت.

میرویس خان سوړ اسویلی وایست:

_خو زما زړه درببېږي، ګرګین دومره کم عقل نه دی چې د څو زړو کادانو په سوځېدو دې غلط شي.
دومره خو به وایې چې جګړه بې مړو نه وي.

سیدال خان وخندل:

_خو دا ستا نخشه وه، ودې ویل چې ګرګین باید له لرې دا لوګي ووینې.

میرویس خان ودرېد، سړه سا یې وایسته:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_که مړي نه لرو، اسیران خو تیارولی شو.

سیدال خان په حیرانۍ ورته وکتل.

میرویس خان وویل:

_د یو څو خپلو بلوڅو ملګرو لاسونه ور وتړئ!

ګام یې واخیست، خو بېرته ودرېد، ویې ویل:

_هاغه ځای وینې؟

سیدال خان خپل لاس پر تندي کېښود، سترګوته یې سیورې جوړ کړ، ویې ویل:

_لاندې د توت زړې ونې یادوې؟

هو، هماغه ځای دښتې ته نږدې او له کلیو لیرې دی، شاوخوا تکړه نښه ویشتونکي پټ که!

یوولسمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



*   *   *

میرویس  خان دښتې ته وکتل، لري د تت سیوري غونډۍ تکه توره را  روانه غوټه ښکارېدله.

میرویس خان د سره انګار پر سر پېيلي پسه ته ور وګرځېد، د پسه ورون ته يې چاقو ونیو، وړه ټوټه يې ترې بېله کړه، په ډکه خوله يې وويل:

_هر څه سم دي؟

یوه چاغ بلوخ وويل:

_نه پوهېږم! دوولس پسونه مو  اور ته نیولي دي.

میرویس خان وويل:

_بس دي، ګرګین خو به هم ډوډۍ ته سلامت لښکر نه راولي!

لاړ، د توت سیورې ته له خپلو قوماندانو سره  کېناست.

ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_توپانچې مو ډکې دي؟

يوه ځواب ورکړ!

_هو، مخکې مو باروت او غټه چره ور واچوله!

سيدال خان وويل:

_پنځه سوه ښه ويشتونکي همدلته دي، نور جنګيالي په شاوخوا ونو او لويو بوټو کې پټ شوي.

ميرويس خان دښتې ته وکتل. تور آسونه را روان ول.

ويې ويل:

_د حملې له پاره بيړه مه کوئ! د ګرګين لښکر ستړی دی، خيمې وهي، له ډوډۍ وروسته به يې نيم جنګيالي ويده وي.

د ګرګين لښکر ودرېد، د ميرويس خان تندی تريو شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_لیري یې واړول، فکر نه کوم چې د ټوپک ګولۍ ور ورسیږي.

په بېړه ودرېد، ویې ویل:

_له ما سره راځئ!

پر آس سپور شو، دولس، دیارلس کسان ورپسې ول. دښتي ته ورغلل.

ګرګین مخکې راغی، میرویس خان ته یې کلکه غېږ ورکړه، په خندا یې وویل:

_لوګي مې ولیدل، پوهېږم، د یاغیانو ښخ دې ور ایستلی دی، خو لا هم ډېر کورونه روغ ښکاري.

میرویس خان وخندل.

ګرګین وویل:

_دښمن څومره تلفات لري؟

_سل کسان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګرګین برېتونه وځړېدل.

میرویس خان وخندل:

_نور تښتېدلي دي، هغوی چې جګړه کوله یا مو ووژل او یا مو ژوندي ونیول.

د ګرګین سترګې وځلېدې:

_بیا هم ښه ده.

یودم یې چیغه کړه!

_پسې ورځو. یو_ یو وژنو، نه یې پرېږدو.

میرویس خان شاوخوا وکتل، ویې ویل:

_دا ځای مناسب نه راته ښکاري، لښکر ته دې وwایه چې مخکې لاړ شي، که درېیو زرو کسانو ته ډوډۍ نه شو ورکولای، اوبه خو به نږدې وي.

ګرګین وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_خو تا د مېلمستیا خبره کړې وه.

_اوس هم نه یم پښېمانه، تر هاغه ونو لاندې مې ترتیبات نیولي دي، خو یواځې درېیو سوو کسانو ته ډوډۍ ورکولای شم.

ګرګین په خبره کې ور ولوېد:

_خو غواړم چې اول د دښمن پرې شوي سرونه ووینم.

میرویس خان وویل:

_وبه یې وینې، خو د خولې خوند مه خرابوه! اول ډوډۍ وخوره.

ټول پر آسونو سپاره شول، حرکت یې وکړ، شېبه وروسته د توت زړو ونو ته نږدې د روانو اوبو پر غاړه ودرېدل.

ګرګین درې سوه کسان بېل کړل، له میرویس خان سره پورته وخوت. ټول تر زړو توتانو لاندې پر هوارو شویو لیمڅیو کېناستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرګین شاوخوا وکتل، ویې ویل:

_جګړه خو بې پرې شویوو اندامونو نه وي.

سیدال خان ناصري وویل:

_صېب! جګړه پورته په کلیو کې شوې ده، اوس هم د بلوڅو سرونه پراته دي.

ګرګین پزه کش کړه، په خوند یې وویل:

_د کباب بوی نور هم ورې کړم، خو اول اسیران راولئ.

میرویس خان یوه پوځي ته اشاره وکړه، شېبه وروسته ګڼ لاس تړلي کسان راوستل شول.

ګرګین ودرېد، کتار ولاړو لاس تړلو کسانو ته ورغی، تندې یې تروه شوه:

_ښه نو! تاسو د صفوي حکومت د مالیې مامورین ووژل!

یودم یې یو لاس تړلی ځوان تر څنو ونیو، چیغه یې کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



_احمقه! اور ته دې اچوم.

د ځوان ژامې ته يې سوک ورکړ، د ځوان ورمېږ کوږ شو، له خولې يې وينو داره وکړه. ولوېد.

میرویس خان منډه ور واخیسته، تر ګرګین یې غبرګ لاسونه را وګرځول، ویې ویل:

_مه کوه! زه يې خپله وژنم، خو اوس يې وخت نه دی، ډوډۍ تیاره ده.

ګرګین پر خپل ځای کېناست، یودم يې توپانچه را وایسته، ټک شو، لاس ترلی بلوڅ لاندې ورغړېد.

د ګرګین له خولې لاړې باد شوې!

_ټول اسیران ووژنی!

د ګرګین پوځیانو له خپلو اورږو ټوپکونه کښته کړل.

میرویس خان چیغه کړه!

_حمله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



له نږدې ونو او ډېرو سپينې لوخړې را ووتې، ډزې شوې، د ګرګين څو عسکر ولوېدل.

میرویس خان خپله توپانچه ګرګين ته ونیوله، خو د ګرګين مخې ته د هغه یوه عسکر ځان واچاوه، تر خولې یې تېره کوکه را ووته، لاندې ولوېد.

ګرګين منډه واخيسته، ځررر شو، غشی یې تر غاړې ووت.

د ګرګين درې سوه عسکر یو په بل پسې ولوېدل، میدان د سوځېدلو باروتو بوی ونیو.

میرویس خان ورمېږ کوږ کړ، د ګرګين ګڼ سپاره په چټکی سره را روان ول.

د ټوپکو نلی ور واوښتې. آسونه وشنېدل، د ګرګين څو عسکر یو په بل پسې ولوېدل.

درب شو، د توت د ونو لوی ښاخونه را ولوېدل.

میرویس خان چیغه کړه!

_توپچیان په ښنه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دوهم درب سره  له ځمکې پورته شو، پر ونه ورغی، اوږه یې د ونې له تنې سره ولګېده، ولوېد، سترګو ته یې دوړه ودرېده.

ویې ټوخل، خپلې توپانچې ته ور وښویېد. نږدې چیغې یې واورېدې، یوه ډله جنګیالیو د ګرګین د لښکر خواته منډې ور وهلې!

میرویس خان چیغه کړه!

_په خپلو ځایونو کې پرېوځې.

درب شو، د توپ ګولۍ د جنګیالیو په مینځ کې ولګېده، په ونه کې ځررررررا شوه، له ژېړو پاڼو سره سرې غوښې راولوېدې.

یو غوځ شوی لاس ور باندې راغی، ځنګ ته ولوېد، سره بوټۍ لا پورته پورته غورځېده.

میرویس خان یوه ټوپک ته ور وښویېد. د سره رنګ اغوستي کوټ  سپور یې په نښه کړ، سپور له آسه ولوېد.

ودرېد، د ګرګین توپانچه یې ور واخیسته، منډه یې کړه، څغ شو، له ډبرې سوکې باد شول.

میرویس خان چیغه کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ له همدې لوړو يې په نښه کړئ.

توپانچه يې د ګرګين يوه پوځي ته ونيوله، ماشه يې کش کړه، تشه وه. بېرته شا ته وښويېد. ټوپک يې را واخيست، توت ته ودرېد. ليرې توپچي يې په نښه کړ، دوړه راغله، پر سترګو يې لستوڼی تېر کړ، بېرته يې سترګه پټه کړه، ډز شو، توپچي ولوېد.

په بيړه يې ټوپک ډک کړ، مخامخ را روان پوځي ته يې ونيو، ونه لګېد، پوځي را ورسېد، له آسه يې پر ميرويس خان ور ټوپ کړل، دواړه لاندې ورغړېدل، پوځي يې پر ټټر کېناست، ميرويس خان د هغه لاس ونيو، د تېره خنجر څوکه يې تر سترګو پورته ولاړه وه.

پوځي د خپل بدن ټول زور پر خپل مټ واچاوه، د چاړې څوکه د ميرويس خان پر ټنډه ولګېده، پر ښۍ سترګه يې وينه راغله.

يودم د پوځي لاس مړ شو، د ميرويس خان پر ټټر ولوېد، ميرويس خان پورې واهه، د پوځي تر وليو نيزه ختلې وه.

چيغې شوې، د ميرويس خان جنګيالي له مورچو را ووتل. مخامخ د ګرګين پر لښکر ورغلل.

د ګرګين پوځيانو د دښتې خواته منډې وهلې. يو- يو لوېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپېه وروسته چوپه چوپتیا شوه، دبنته له سرو کوټونو ډکه وه.

میرویس خان له خپل پټکي ریتاړه وابسته، تندی یې پرې وتاړه. ورغی. آسونه او انسانان پراته ول، له ځینو خیمو سرې لمبې پورته کېدلې...

اوبو ته ور وګرځېد، کېناست، لپه یې ډکه کړه، سیوري وربانديې راغلل، د خوشالۍ ناره یې واورېده:

_خان صېب! بریالي شوو.

میرویس خان ور وکتل، سیدال خان او څو نور جنګي قوماندان ولاړ ول. میرویس خان خپل مخ ته اوبه ور واچولې، لستوڼی یې پرې تېر کړ.

سیدال خان وویل:

_د تندي وینه دې لا نه ده درېدلې.

میرویس خان ودرېد، شاوخوا یې وکتل، له ولاړو ژېړو بوټو په وینو لړلې پڼې راوتلې وې.

ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_څومره تلفات لرو؟

سیدال خان وویل:

_نه پوهیږم! خو، اوو، اتو سووو ته رسیږي.

میرویس خان سره سا وایسته، له پورته سپکې سپورې راغلې، میرویس خان ور وکتل، دوو کسانو د ګرګین مړی له پښو نیولی و، په تیږو کې یې کشاوه.

میرویس خان وویل:

_ورته ووایاست چې د مړو بې احترامي ښه نه ده.

یو کس ورغی، له دوو کسانو سره ودرېد، خو هغوی پورې واهه. بېرته یې د ګرګین مړی تر پښو ونیو، کش یې کړ، د ګرګین سلامته پایڅه راوخته.

میرویس خان ګړندي ګامونه واخیستل، د یوه ژامي ته یې سوک ورکړ، ولوېد. میرویس خان چیغه کړه!

_په مونږ کې د مړو سپکاوی نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوېدلی سړی ودرېد، په وینو سرې لاړې یې تو کړې، سترګې یې رډې راوختې:

_خو  ده زما ورور را زندئ کړ!

میرویس خان وویل:

_سمه ده، سزا یې ولیده، بس، نور څه پرې کوې!

سړی روان شو.

میرویس خان کېناست. ګرګین ته یې وکتل، د ګرګین سترګې سپینې راختلې وې، له غاړې یې تازه وینه راتله.

ولاړ شو، په خاورو کې پروت څادر یې را واخیست، د ګرګین پر لوڅ ورون یې واچاوه. دښتې ته یې وکتل، د مړو پر سر تېوسان ګرځېدل.

ویې ویل:

_د ګرګین عسکرو ته قبرونه وکېندئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ږغ یې واورېد:

_صېب! سخته ده، دوه، درې زره کسان دي.

میرویس خان وویل:

_دا سمه ده چې دښمن دی، خو انسانیت یې هم ویلی، لېوانو او ټپوسانو ته یې نه پرېږدم.

غلی شو، سره سا یې واېسته:

_د خپلو کسانو مړي باید د هغوی کورنیو ته وسپارو.

سیدال خان وویل:

_صېب! نه کېږي! د اوو، اتو سووو جنازو انتقال اسانه خبره نه ده.

میرویس خان په خبره کې ور ولوېد:

_نو دلته یې ټپوسانو ته پرېږدې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیدال خان وویل:

_ګوره! موږ بیره لرو، د ګرګین په زرګونو عسکر لا په جنګي کلا او نورو کلاوو کې پاتې دي، که د خپل مشر له مړیني خبر شي، ښار ته به اور ور واچوي. موږ باید د دوی تر خبرېدو مخکې پر جنګي کلا حمله ور وړو.

میرویس خان وویل:

_د ګرګین درې زره کسان کاکړو ته ورغلل، زر نښه ویشتونکي سپاره د کاکړو د مرستې له پاره ور ولېږئ.

یوه له رنګه تور سړي وویل:

_صېب! کاکړ په خپله په زرګونو غښتلي ځوانان لري، مخکې خبر ول، جګړې ته تیار دي.

میرویس خان وویل:

_زما خبره ومنئ! همدا اوس زر غښتلي ځوانان تیار کئ!

له رنګه تور سړي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_په سترګو!

روان شو.

میرویس خان پر یوه هواره تیږه کېناست. ویې ویل:

_پر جنګي کلا حمله اسانه خبره نه ده!

یوه چاغ سړي وویل:

_یو خو دا د وېرې خبرې بنې نه راباندې لګېږي، موږ خو څه ټکري نه پر سر وو، غیرت مو ټولو ته مالوم دی، مخامخ پې ورځو، هر څه چې خدای پېښ کړل.

میرویس خان چیغه کړه!

_د خدای روی ومنئ، همدې لویو لویو  باټو غرق کړو، بس دی نور ، همدا صفویان سل کاله پاچاهي درباندې کوي. یواځې غیرت مهمه نه ده، عقل یې هم ویلی. پوهېږم چې د جنګي کلا نیول مهم کار دی، خو په کمو تلفاتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی شو. دښتي ته یې وکتل، یوه جنګیالي یې د ګرګین د عسکر سور کوټ اغوستی و، اوسپنیزه خولۍ یې لمر ته ځلېدله. څو نورو کسانو ورته خندل.

د میرویس خان سترګې وځلېدې، په بېړه یې وویل:

_د ګرګین د عسکرو زرې، خولۍ، روغ کوټونه او بیرغونه را ټول کړئ.

ولاړو کسانو په حیرانۍ ورته وکتل.

* * *

میرویس خان په خاورو کې کښلو لیکو ته وکتل. ویې ویل:

_د جنګي کلا لمر ختو خوا ته بازار پروت دی. که له دې خوا حمله وکو، نو عام خلک تاواني کېږي، دلته باید یو ډز هم ونه شي. شمال ته یې غر دی او جنوب ته یې څو کلي او کروندې پرتې دي.

غلی شو، خپلو قوماندانانو او د قبیلو مشرانو ته یې وکتل، د لښتي څوکه یې یو ځای کښېنوده. ویې ویل:

_دا کلي تر نورو نږدې دی، د توپ ګولۍ یې خوري. باید له خلکو تش شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر یې پورته کړ:

_بابو جانه! د لته د لښتي پر ژۍ کتار ونې ولاړې دي، ته به څو تکړه نښه ویشتونکي درسره کړې، په بل څه کار مه لرئ! بس د جګړې له پیل کېدو سره یواځې د کلا پر دېوالونو ولاړ توپچیان سر پورته کولو ته مه پرېږدئ!

غلی شو، لیکو ته یې وکتل، ویې ویل:

_بهادرخانه! دا ځای وینې؟

په ونه لوړ ځوان ور مخکې شو، د لښتي څوکې ته یې وکتل.

میرویس خان وویل:

_دلته څه دي؟

_زړې ګندوالې!

میرویس خان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ته به له دریېو سوو جنګیالیو سره په همدې کنډوالو کې پټېږي. له اول ډز سره به ځانونه د کلا عمومي دروازې ته را رسوئ.

پاتې شوه د جنګي کلا جنوبي برخه. دلته د انګورو باغونه دي، پاڼې به يې ژېړې وي، خو که احتیاط وکو، سلګونه کسان پکې پټېدای شي.

سیدال خان وویل:

_خو دا خوا هواره ده، له کلا هم ښه ګلالۍ فاصله لري، جنګیالي مجبور دي چې پر کلا د حملې پر وخت له باغونو ور ووځي، تلفات به يې ډېر وي.

میرویس خان وویل:

_بله چاره لرو؟

ټول غلي ول.

ملا پیرمحمد میاجي وویل:

_دا خوا ماته پرېږدئ! دوولس سوه کسان لرم، لومړۍ به د توپچیانو غم وخورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان وویل:

_دې خواته پنځه توپونه ولاړ ول، خو دوه یې ګرګین پر بلوڅو او کاکړو د حملې له پاره را کښته کړل. که یې بل نه وي ور خېژولی، له درېیو توپونو سره چاره کېږي.

غلی شو، لښته یې ور واخیسته، ویې ویل:

_پاتې شوه د کلا لوېدیځ لور ته عمومي دروازه. دلته د پټېدو ځای نشته، له یو څو دېوالونو پرته یې ټوله مخه د ورغوي غوندې صافه ده. د لښکر ډېره برخه باید په همدې هوار میدان کې وجنګېږي، خو که مې فکر سم وخوت، تلفات به مو کم وي.

داوود خان هوتک وویل:

_د ګرګین له لښکره څو توپونه را پاتې شول؟

سیدال خان وویل:

_ګرګین له جنګي کلا شل توپونه را وایستل، خو اته یې کاکړو ته له تلونکي لښکر سره ولېږل. موږ ته دوولس توپونه په لاس راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوود خان هوتک په خبره کې ور ولوېد:

_نو له دې توپونو استفاده نه شوی کولای؟

میرویس خان وخندل:

_د همدې توپونو په مټ خو زړور یو. پوهېږې! ځلور توپونه د جنګي کلا د عمومي دروازې پر سر ولاړ دي، شېږ نور هم په هغو برجونو کې اېښودل شوي چې د کلا تر مخ پرته میداني یې تر خولو لاندې ده. دا توپونه باید د توپونو په واسطه له مینځه لاړ شي.

غلی شو، د لیکو تر څنګ یې یوه بله لیکه وایسته، ویې ویل:

_دلته د اوبو ځا ده. که زموږ له نخشې سره سم، د کلا ساتونکو دروازه راته خلاصه کړه او تر دې ځایه ور ورسېدو، نو بیا د جګړې ګټل اسانه دي، د کلا د توپونو خولې دومره نه شي را ټېټېدای چې دا ځای وولي.

بابو جان وویل:

_نو څه ته ماتله یو! نه پرې ورځو؟

میرویس خان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_تر اوسه لا وخت شته.

_خو لښکر په جوش کې دی، ټول حملې ته تیار دي، له دوو ورځو مزل وروسته هم د ستړیا نښه نه پکې ښکاري.

میرویس خان وخندل:

_بېړه مه کوه. د حملې مناسب وخت مازدیګر دی، لمر باید یوه نیزه پورته وي.

ټولو په حیرانۍ ورته وکتل.

میرویس خان وویل:

_خو له ورړو څخه د غنمو د ایستلو څو څېرې مې هم پکار دی.

غلۍ شو، یودم یې وویل:

_ پام مو وي، په کلا کې د نارنج مانۍ ده، د لته د ګرګین د ځینو قوماندانانو کورونه، ښځې او ماشومان هم شته. موږ یواځې د ګرګین له عسکرو سره جنګیږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*   *   *

د روان لښکر پر سر د صفوي حکومت بيرغونه رپېدل. مخکې روانو سلګونو سپرو سره کوټونه اغوستي ول، په اوسپنيزو خوليو کې يې د مازديګرني لمر ژېړه رڼا پرته وه.

ميرويس خان، ځينې قوماندانان او د قبيلو مشران د لښکر مخې ته روان ول.

سيدال خان آس ته پونده ورکړه، تر لښکر مخکې شو، ودرېد، لښکر ته يې وکتل. د لښکر تر مخې پر څو آسانو پسې تړلو څېرو له ځمکې مړه دوړه پورته کوله... لمر د سپرو وليو ته سيخ و، د سپرو پر مخونو سيوري پراته ول. دوړو او سيورو له پېژندلو ايستلي ول.

سيدال خان بېرته لښکر ته ور وګرځېد. په خوند يې وويل:

_ميرويس خانه! اوس د څېرو راز را مالوم شو، په دې هم وپوهېدم  چې ولې دې دا وخت حملې ته مناسب ګاڼه.

ميرويس خان وويل:

_خو لا مې زړه پر ځای نه دی، نه پوهېږم! ساتونکي به د کلا دروازه راته خلاصه کړي که نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیدال خان وخندل:

_د ګرګین په دې سره کوټ، زرې او خولۍ کې به نو څوک وایې چې ګرګین نه یې!

لښکر ورو، ورو د کلا عمومي دروازې ته ور نیږدې کېده. د میرویس خان د زړه دربا ډېره شوې وه، شاته لښکر ګوته پر ماشه روان و.

یو ناڅاپه د دروازې غنجا وخته، میرویس خان تر څا تېر شو، خو د لویې دروازې پر سر، په برج کې ولاړ عسکر یودم چیغه کړه!

_دورازه وتړئ! دښمن دی!

د ټوپک ډز شو، د میرویس خان ښی لاس ته سپور ولوېد.

میرویس خان چیغه کړه!

_دروازه بندېدا ته مه پرېږدئ!

ډزې شوې، له پورته یو پوځې را ولوېد. توپونه وغرمبېدل. د لښکر په شاته پاتې وروستۍ برخه کې سرې لمبې راوګرځېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دروازې دوې پلې ببرته سره ولګېدې، څو کسانو آسونو ته پونده ورکړه، آسونه پر دروازه ولګېدله، یوه پله خلاصه شوه. آسونه یو په بل پسې ولوېدل، د دروازې پله پورې شوه، خو ځای ته نه ورتله، د یوه پراته آس نیمايي تنه د دروازې تر لیخک وتلې وه.

شاته توپونه وغړمبېدل، د کلا تر یوه برج سرې لمبې را وګرځېدې...د توپ بله ګولۍ د دروازې له سره تېرې تیرږې را بېلې کړې.

چیغې شوې، د کلا جنوب ته له پرتو باغونو ګڼو کسانو منډې را وهلې. د توپ ګولۍ پکې ولګېده، په ونیو لړلي پټکي او ټادرونه باد باد شول.

د دروازې دواړه پلې خلاصې ولاړې وې، پلي او سپاره کلا ته د روانو اوبو غوندې ور ننوتل.

میرویس خان د کلا په مینځ کې یوه دېوال ته کېناست، لومړۍ یې یوه توپچي ته ټوپک ونیو، ماشه یې کش کړه، توپچي پر توپ پرېووت. لاسونه یې یوې بلې خواته ځړېدلي پاتې شول.

دزې وې، چیغې وې، لمبې وې.... د دېوالونو له سره د ګرګین یو یو عسکر را لوېده.

شېبه وروسته خبره لاس او ګرېوان ته ورسېده، تورې او چړې په وینو سرې شوې. د کلا په مینځ کې څو دوکانونو اور واخیست، له برجونو، کورونو او زندانه تورې لوخړې پورته کېدلې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړه تر ناوخته توده وه، نيمه شپه خال خال ډزو ته ورسېده، سپېده چاود  ته يوازې مړه  لوګي پاتې ول.

دولسمه برخه

*   *   *

ميرويس خان تيټ شو،  له خاورو يې يو  ماشوم ور پورته کړ، د هغه پر سپېره مخ يې د خپلې لونګۍ څنډه تېره کړه، د ماشوم سترګې پټې وې، پر تټر يې د توري سور پرار ښکارېده.

د ميرويس خان سترګې  ډکې شوې، د ماشوم پر سپيره مخ اوښکه ولوېده، ورغړېده، د هغه تر سپېرې زنې پورې يې توره ليکه جوړه کړه.

ميرويس خان ماشوم  پر خپل تټر پورې ولګاوه. سلګۍ يې شوې. ځان يې کابو کړ.

کينې لور ته  يې وکتل، د نارنج د مانۍ سپين دېوالونه  تورو لوګيو نيولي ول.

مخ يې واړاوه، د ده ځيني جنګيالي په کنډوالو کې ګرځېدل، څو نورو د ګرګين د مړو شويو پوځيانو جېبونه لټول…

ميرويس خان ماشوم پرې ايست، خپل څادر  يې پرې هوار کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځګيروی يې واورېد. په بېړه ولاړ شو، د چت را لوېدلي لرګي يې ليرې کړل، له خاورو يې د ګرګين ټېپي عسکر  را وايست. د عسکر کولمې را وتلې وې.

د عسکر په وينو سرې شونډې وخوځېدې:

_اوبه! اوبه!

ميرويس خان منډه واخيسته، د يوه مړه عسکر له تشي يې د اوبو پتک را خلاص کړ، بېرته راغی، سترګې يې رډې را وختې، د تږي، ټپي پوځي غاړه پرې وه، ولاړ قومي مشر پر سره کوټ خپله سره توره پاکوله.

ميرويس خان چيغه کړه!

_ولې؟

قومي مشر يوائې وخندل، روان شو.

له کنډوالو څو په ټوپکو بار کچرې را ووتې. ميرويس خان منډه ور واخيسته، په بيړه يې وويل:

_څه کوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه له ونې ټیټ مول وهلي کس څواب ورکړ!

_د وسلو ډیپو مو مات کړ، ولجه ده.

میرویس خان چیغه کړه!

_دا وسلې په بیت المال پورې اړه لري.

ورغی، بار ته یې اوړه ورکړه، ترلې ټوپکې لاندې ولوېدې.

منده یې واخیسته، له مړو جسدونو یې ټوپ کړل. ځان یې په یوه سا د کلا تر عمومي دروازې پورې ورساوه. چیغه یې کړه!

_دروازه وتړئ!

_درنې پلې وغنجېدې.

د دروازې پر سر برج ته وخوت، تر کلا د باندې یې وکتل، د باغونو خواته پر غالیو، مېزونو، الماریو... بار خرې رواني وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميرويس خان د خپل يوه جنګيالي له لاسه ټوپک و ايست، له ډز سره د يوې خرې پښو ته مړه دوړه پورته شوه.

خرې ودرېدې.

ميرويس خان وويل:

_هلئ! غله راوګرځوئ!

لاندې د کلا د دروازې تر مخ ولاړ پوځي ناره کړه!

_صېب!زموږ خپل کسان دي.

ميرويس خان چيغه کړه!

_را ويې ګرځوئ!

څو پوځيانو منډه ور واخيسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان بېرته له برجه کښته شو، د ګرګین د غونډو سالون ته ننوت، غالۍ ټولې شوې وې، څوکۍ او مېزونه مات پراته  ول.

د باندې ووت، یوه جنګیالي ته یې وویل:

_هله! سیدال خان ته ووایه چې قوماندانان، د قبیلو مشران او ټول لښکر د کلا میدانۍ ته را ټول کړي. یواځې په برجونو کې څو کسان پرېږدئ.

غرمې ته د کلا لویه میداني له جنګیالیو ډکه وه، میرویس خان یوه بام ته وخوت. د ښځو، ماشومانو او اسیرانو  په وژلو یې خواشیني وښوده، ویې ویل چې موږ یواځې د خپلواکۍ له پاره جنګېږو، که ظلم وکړو، نو زموږ او د ګرګین فرق څه دی.

 وروسته یې د چور کیسې را واخیستې، بار  کچرو او خرو ته یې اشاره وکړه، ویې ویل چې د ګرګین په وژلو به صفوي حکومت ضرور خپل غچ اخلي، همدا ټوپکې او توپونه به یې په درد خوري.... د اتحاد او اتفاق په اړه وغږېد، د جګړې اخلاق یې تشریح کړل، د ښځو، ماشومانو او اسیرانو وژنه یې بې غیرتي وبلله....

میرویس خان اوږدې خبرې وکړې،  لمر ته د ولاړو زرګونو کسانو سرونه ځړېدلي وو.

د میرویس خان له غږېدا وروسته یو چاغ،  په ونه لوړ قومي مشر را مخته شو، د بار کچرو درول یې د ځان سپکاوی وګاڼه، ویې ویل چې په دې جګړه کې ده  او د ده اتو سوو  جنګیالیو برخه واخیسته، نږدې دوه سوه  شهیدان یې ورکړل، حق یې دی چې له جنګي کلا څو ټوپکې وباسي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان ناره کړه!

_که د وطن د ازادۍ له پاره راغلي یاست، پاتې شئ. که نه نو د کلا دروازه خلاصه ده.

چاغ په ونه لوړ قومي مشر چیغه کړه!

_زما کسان دې راووځي!

له لښکره شل، پنځه ویشت جنګیالي ور ووتل.

د قومي مشر تندې تروه شوه.

_زما خبره مو وانه ورېده!

یو ځوان مخکې ورغی، ویې ویل:

_ خپل قوم دې سپک کړ، موږ په وطن مین خلک یو. نه دې غواړو.

قومي مشر خپلې تورې ته لاس کړ، بېرته یې ګوتې مړې شوې، له شل، پنځه ویشتو کسانو سره د کلا د لویې دروازې خواته روان شو، خو پنځه کسه بېرته ترې را وګرځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لښکره یوه چیغه راغله!

_خو دلته نورې ناروا وې هم شوې دي. د جګړې پر مهال دوو سیاسرو ته لاس ور لوېدلی.

د میرویس خان سترګې رډې راوختې! په بېړه یې سیدال خان ته وکتل.

سیدال خان وویل:

_خبره یې سمه ده.

_جنایتکاران معلوم دي؟

_هو، څلور کسه!

میرویس خان وویل:

_زندۍ یې کړئ!

د سیدال خان سر وځړېد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_صېب! خو یو یې ستا ترورزی دی!

میرویس خان چیغه کړه!

_زندی یې کړئ!

*   *   *

د جنګي کلا د نیولو  په څلورم مازدیګر ملا پیرمحمد میاجي  په بېړه کوټې ته راغی، میرویس خان ته یې وویل چې کاکړو ته د ګرګین د تللي لښکر پاتې برخه  را روانه ده.

میرویس خان  د کلا برج ته وخوت، لیري په تور لښکر پسې دوړه پورته کېدله.

د میرویس خان په امر توپونه ډک شول، د صفوي حکومت بیرغونه ودرېدل،  په زرګونو جنګیالي د کلا دېوالونو ته وختل.

بهادر خان ته یې وویل چې د کلا په میدانۍ کې زر  تکړه سپاره ودروي. کله چې د دېوال پر سر لومړنۍ توپ تش شو، له کلا به ور وځي او پر دښمن به حمله ور وړي.

میرویس خان له خپلو ځینو قوماندانانو سره په یوه برج کې ودرېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا پيرمحمد مياجي وويل:

_دا اووه، اته سوه كسان ناخبره راته ښكاري.

داوود خان هوتک سوړ اسويلی وايست.

_خو د دروازې پر سر ړنګ برجونه به يې وپوهوي چې دلته جګړه تېره شوې ده.

ميرويس خان وويل:

_كار مه وربانديږ لرئ! پرېږده چې نږدې راشي.

د ملا پيرمحمد مياجي شونډې وخوځېدې:

_د ګرګين مړينه پټه نه پاتې كيږي، خو كه په دې عسكرو كې كوم يو وتښتي، تاوان به مو لند وي.

ميرويس خان پر زينو كښته شو، د لښكر تر مخ ودرېد، ويې ويل:

_نه غواړم چې په دې اوو، اتو سوو كسان كې يو هم وتښتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پورته یې وارخطا ناره واورېده:

_خانه! د ګرګین لښکر ودرېد.

میرویس خان په بېړه پر زینو وخوت. آسونه ځای پر ځای ولاړ ول.

میرویس خان وویل:

_شک یې واخیست!

له لښکره څو کسان مخې ته راغلل.

میرویس خان ته نږدې د ټوپک ډز شو.

میرویس خان منډه واخیسته. د کلا پر دېوال ولاړ پوځي یې پورې واهه!

چیغه یې کړه!

_ما نه وو درته ویلي چې ډزې مه کوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



عسکر په ماته ګوډه ژبه وویل:

_صېب! پام مې نه و، ماشه رانه کش شوه.

میرویس خان په بیره د ګرګین لښکر ته وکتل، مخکې راغلي آسونه بېرته ګرځېدلي وو.

داوود خان هوتک وویل:

_اوس څه وکو؟

میرویس خان وویل:

_د توپک ګولۍ ور رسېږي؟

_فکر نه کوم.

چیغه یې کړه!

_توپونه تیار دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یوه برجه غږ راغی:

_هو، ستاسو امر ته ماتله یو.

ملا میاجي وویل:

_ورته وګورئ! لښکر شاته وګرځېد.

میرویس خان چیغه کړه!

_اور!!!!!!

دېوال ولړزېد، څو پرله پسې توپونه تش شول.

د ګرګین په لښکر کې سرې لمبې را وګرځېدې. د کلا دروازه خلاصه شوه. بهادر خان او زر سپاره له کلا ور ووتل. چیغې یې وهلې، د ټوپکو له خولو خړ لوګي را وتل.

وخت ووت، تورې له تېکو را ووتې، تن په تن جګړه ونښته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوود خان هوتک چیغه کړه!

_هلته وګورئ! د ګرګین یوه ډله پوځیان تښتي.

میرویس خان ور وکتل، لمر لوېدو خواته په څو تورو آسونو پسې نرۍ دوړه پورته کېدله.

میرویس خان سړه سا وایسته!

_د صفوي دربار دومره ژر خبرېدا به مو تاواني کړي.

* * *

میرویس خان د جنګي کلا له نیولو وروسته د ښار په شپږو نورو کلاوو یرغل ور ووړ. څلور کلاوي له جګړې پرته تسلیم شوې، خو د چهل زینو او قیتول کلاوو مقاومت وکړ.

جګړه ونښته، د دې کلاوو دېوالونه له ګرګینه نیولو توپونو وخوړل. څه عسکر ووژل شول، نورو لاسونه پورته کړل.

له جګړې وروسته د میرویس خان لومړی کار صفوي شاه حسین ته د یوه لیک لیږل و. په لیک کې یې پاچا په درونډ نوم یاد کړ، ویې لیکل چې اوس هم صفوي حکومت ته صادق او وفاداره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته يې د ګرګين ظلمونه را واخيستل، يادونه يې وکړه چې ځيني خلک د ګرګين د وحشت پر وړاندې راپورته شول، خو ټولې قبيلې لا اوس هم صفوي دربار ته درناوی لري، تاسو خپل مشر ګڼي او د ماليې ورکړې ته تيار دي.…

دا يې هم وليکل چې د اندېښنې وړ کومه خبره نشته، ورو، ورو به حالات کابو کړي.…

ميرويس خان پوهېده چې صفوي دربار دومره ناپوه نه دی، خو دې ليک لږ تر لږه د دښمن په حمله کې ځنډ راوستی شو.

وروسته يې د ټولو قبيلو مشران را وغوښتل، لويه جرګه يې جوړه کړه، سلګونو کسانوته يې وويل چې کندهار سل کاله وروسته ازاد شو، خو صفوي حکومت کرار نه کېني، دوی بايد تيار اوسي.

بيا يې د مکې د علماوو فتوا ور وښوده، د صفوي حکومت پر وړاندې جګړه يې جهاد وباله. ټول قومونه يې يوالي او اتحاد ته را وبلل، ويې ويل چې په يوالي کې مو بقا او په بې اتفاقۍ کې مو ورکه ده.…

ميرويس خان اوږدې خبرې وکړې، ټولې خبرې يې د خلکو د يوالي او وطندوستي په اړه وې.…

د ميرويس خان له خبرو وروسته د جرګې ټولو غړو پاچا غوښت. دوی په دې سلا شول چې ميرويس خان خپل پاچا وټاکي، خو ميرويس خان په دې وخت کې پاچاهي ښه ونه ګڼله، ويې ويل چې له ډېر وخت وروسته ټولې قبيلې سره راټولې شوې دي، نه غواړي چې يو ځل بيا د واک او قدرت خبره په قومونو کې نفاق پيدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناسته اوږده شوه، اخېر يې پرېکړه وکړه چې ميرويس خان د ټولو قبيلو مشر کړي. ميرويس خان ومنله، خو شرط يې دا و چې له ده سره به د هر قوم يو نماينده هم موجود وي او ده ته به په کارونو کې سلا ورکوي.

يوه چيغه راغله!

_ته زموږ نيکه يې! ميرويس نيکه!

له هرې خوا د خوشالۍ نارې راپورته شوې:

_ميرويس نيکه، ميرويس نيکه، ميرويس نيکه....

* * *

ميرويس نيکه پوهېده چې د کندهار ازادي به د کابل مغولي حکومت په وېره کې کړي، دی په دوو جبهو کې نه شواى جنګېدلى، ده د خپل ورور يحيى خان په لاس مغولي دربار ته احوال ور ولېږه چې د کندهار لخوا به مغولي حکومت ته کومه ستونزه نه پېښېږي.

بيا يې له مختلفو قومونو شتمن کسان را ټول کړل، له دوى يې د جنګي کلا او نورو شپږو کلاوو د ترميم له پاره مرسته وغوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ړنګو شویو برجونو ته تیري پورته شوې، لوېدلي دېوالونه ترمیم شول، د کلاوو په مینځ کې ړنګې شوې کوټې بېرته ودرېدې.

وروسته یې توپخانه منظمه کړه. په خرابو ټوپکو یې لاس وواهه. له هر قومه یې زړور جنګیالي وغوښتل، لس زره منظم لښکر یې جوړ کړ.

بیا یې د ښار مشهور کوتر بازان را وغوښتل، هغوی ته یې وظیفه ورکړه چې د پیغامونو  د رسولو له پاره کوترې تربیه کړي.

دوی کوترې سره ووېشلې، سهار به یې په یوه کلا کې دانه ور اچوله، غرمه به یې په بله کلا کې له غنمو ډک شکورونه ورته کېښودل، مازدیګر یې له ښاره د باندې څو ځایونه ورته ټاکلي ول.···

کوترې په لنډ وخت کې تربیه شوې. سهار به یې یو ځای ګېډې مړې کړې، غرمې ته به بل ځای په دانې پسې تلې.···

*   *   *

دوې میاشتې ووتې، خو د صفوي حکومت کوم درک ونه لګېد. یوه ورځ میرویس نیکه د چهل زینو په کلا کې د خوراکي موادو د ذخیره کولو ګدام کوت چې یو جنګیالی راغی، نیکه  ته یې وویل چې له اصفهانه د شاه حسین خاص استازی محمد جامي راغلی دی.

میرویس نیکه  جنګي کلا ته ورغی. محمد جامي له عمره پوخ سړی و، سپینه پسته ږیره یې درلوده،  له څېرې تازه ښکارېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس نیکه ټینګه غېږ ورکړه، محمد جامي يې د نارنج د ماڼۍ لوی صالون ته بوت. دواړه پر څوکیو کېناستل، محمد جامي شاوخوا وکتل، ویې ویل:

_موږ خبر شوو چې د نارنج ماڼۍ سوځېدلې ده، خو اوس د خرابي کومه نښه نه پکې ښکاري.

میرویس خان وخندل:

_ بېرته مو جوړه کړه!

محمد جامي میرویس نیکه ته وکتل، ویې خندل:

_ پر همدې څوکۍ به ګرګین ناست و.

میرویس نیکه وخندل:

_نیت دې سم ونیسه، خیر دی چې د یو څو ورځو له پاره پر دې څوکۍ زه هم کېنم. څه خبره ده، موږ اوس هم صفوي حکومت ته وفاداره یو، تمه ده چې شاه حسین بېرته خپل حاکم راولېږي.…

محمد جامي په خبره کې ور ولوېد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_خو په جنګي کلا کې مې ستا لښکر او تیاری ولید، ماته خو داسې ښکاره شوه چې پر دې څوکۍ دې پاخه اړولي دي.

میرویس نیکه وخندل:

_هوښیار سړی یې! نه غلطیږې، فکر وکه چې همداسې ده.

محمد جامي پیاله ورپورته کړه، له چایو یې غوړپ وکړ، ویې خندل:

_تاوان به وکې!

میرویس نیکه وویل:

_تر اوسه هم چندان په ګټه کې نه وو، یو ځل به همدا تاوان هم وازمایو.

_خو ته کمزوری یې، په دې څو وړو قبیلو له شاه حسین سره دړغرې نه شې وهلی، ملا به درماته کړي.

میرویس نیکه وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_موږ په سلو کلونو کې د خپلواکۍ څکه نه وه کړې، اوس یې په خوند وپوهېدو، همدې خوند زړور کړو.

محمد جامي وټوخل، ویې ویل:

_خوښه دې، زه شاه حسین را ولېږلم، راته ویې ویل چې ستاسو له نیت نه خبر شم او بېرته احوال ور وړم.

میرویس نیکه وخندل:

_نو اوس به زموږ په نیت پوهېدلی یې؟

محمد جامي وویل:

_هو! د وینو بوی مې حس کړ.

میرویس خان وخندل، ولاړ شو، کړکۍ ته و درېد، ویې ویل:

_موږ په وینو تویولو پسې نه ګرځو، خو که نور زموږ د وینو تږي وي او زموږ په وژلو پسې دلته راځي، روغې پښې به رانه یونه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد جامي ودرېد،ويې ويل:

_دا دې وروستۍ پرېکړه ده؟

میرویس نیکه لاسونه سره وجنګول، دوه کسان راغلل. میرویس نیکه وویل:

_محمد جامي په جنګي کلا کې تر ټولو پاکې او سوتره کوټې ته رهنمایي کړئ! د ده خپګان زما خپګان دی، عزت يې وکئ او د یوه دروند میلمه غوندې يې وساتئ!

محمد جامي په حیرانۍ ورته وکتل، ويې ویل:

_ څه مانا؟

_مانا دا چې ته به تر یو څه وخته زموږ مېلمه يې.

محمد جامي چیغه کړه!

_خو زه غواړم چې سبا ببرته د اصفهان خواته حرکت وکم.

میرویس نیکه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_خو زه نه غواړم چې اصفهان ته ژر ورسېږي. یو دوې میاشتې ګذاره وکه. ستا په څنډ کې زموږ خیر دی.

میاشت وروسته  په هرات کې د صفوي حکومت حاکم محمد خان  کندهار ته ورغی، میرویس نیکه ته یې وویل چې کندهار بېرته صفوي حکومت ته ور وسپاري، خو د میرویس نیکه خبره یوه وه، ویې ویل چې نور نو د غلامی له ژونده ستړی شوی دی.

میرویس نیکه د هرات حاکم ته هم له ښاره د وتلو اجازه ورنه کړه، ده او ملګرو ته یې د نارنج په مانۍ کې د اوسېدو ځای برابر کړ.

میرویس نیکه ته وخت مهم و. ده د وخت په سپما کې خپل بریالیتوب لید.

میرویس نیکه څو توپونه له کلاوو  واېستل، ځینو ته یې د چهل زینو د غره لوړې څوکې وټاکلې، یو شمېر نور یې د ښار په څنډو کې ځای پر ځای کړل.

ده قومي مشرانو ته امر وکړ چې تر دوو میاشتو پورې  پنځه زره نور جنګیالي هم برابر کړي.

د مني په لومړیو کې خبر ور ورسېد چې د هرات نوي والی پر کندهار د یرغل له پاره له خپلو دریو زرو جنګیالیو سره  را روان دی. میرویس نیکه ملا پیرمحمد میاجي  را وغوښت، ورته ویې ویل چې دښمن باید تر کندهاره راونه رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاجي  له پنځو زرو جنګیالیو سره له ښاره ووت، د هرات د نوي والي پر لښکر ورغی، څه یې ووژل، څه بېرته دهرات خواته وتښتېدل.

صفوي حکومت غلی کېنه ناست، په یو نیم کال کې یې  څلور نورې حملې هم وکړې، خو مات شول.

اخیر د میرویس نیکه جنګیالي دومره زړور شول چې  د تبریز د حاکم محمد خان پنځه زره کسیز لښکر یې یوائې په پنځو سوو جنګیالیو له پښو وغورځاوه. د فراه تر دلارامه پورې مخکې لاړل، محمد خان یې ژوندی ونیو او په زرګونو ټوپکې، آسونه، اوښان، زغرې...او څو توپونه یې کندهار ته راوړل.

*   *   *

سارایي مرېې له غاره خپل سر را وایست، ځمکه ودربېده، د غار په خوله کې را ټولې خاورې بېرته غار ته ور ورغړېدې، مرېه په غار کې ننوته، په زرګونو تورې، سپیني او خړې نرۍ پښې تېرې شوې...ځمکه درببده... آسونه شنېدل، په ګاډیو پسې د درنو ترلو توپونو غنجا خته.... دېرش زره کسیز سور لښکر په مرو دوړو  کې پټ و.

شپېه وروسته د هلمند د سیند پر غاړه  سلګونه سپیني خیمې ودرېدې. د خیمو په مینځ کې یوائېنی سره خیمه تر نورو لویه او هسکه وه.

په دې خیمه کې یو پنځه دېرش کلن غښتلی ځوان  ناست و، ده د خپل تره د انتقام فکرونه وهل، تنده یې تروه وه،  په ذهن کې یې د کندهار ښار په سرو لمبو کې لید. ځوان خسرو خان نومېده، همدا دېرش زره ګرجي پیاوړي عسکر یې تر امر لاندې ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خسرو خان مازديګر له خيمې ووت، درې کسان د لرګي په پايو پورې تړلي ول.

يوه عسکر په وېرېدلي غږ وويل:

_صېب! کوچيان دي، د سيند پر غاړه مو له سلامتې رمې سره ونيول.

خسرو خان د اوبو غاړې ته ورغی، پوځې جامې يې وايستې، اوبو ته ور ګډ شو، څو عسکرو مخامخ ګټو لوخو ته ټوپکونه ونيول.

خسرو خان تر لوخو لامبو ووهله، بېرته را وګرځېد، پښې يې پر ځمکه ولګېدې، په اوبو کې ودرېد، د ټټر ببر لانده وېښته يې سره نښتي ول.

ويې ويل:

_کوچيان راولئ!

په لنډ وخت کې درې لاس تړلي کسان راوستل شول.

خسرو خان وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_اوس یې نو اوبو ته ور واچوئ.

کوچیان له لاسونو- پښو ونیول شول، اوبه باد شوې، شپېه وروسته د ابو سر ته واړه ډومبکونه را وختل.

یوه پوځي په بېړه تولیا ورته ونیوله، خسرو خان ځان وچ کړ، جامې یې واغوستې، خیمې ته ننوت. سترګې یې پټې کړې، نیمه شپه د باندې را ووت. پیره دار ویده و.

خسرو خان چیغه کړه، پیره دار په بیړه ودرېد، ګڼ پوځیان له خیمو را ووتل. خسروخان وویل:

_زه ویده جنګیالي نه غواړم! اعدام یې کړئ!

پیره دار ته لاسونه ور ولوېدل، هغه چیغې وهلې، بخښنه یې غوښته... خو د دار ګردې حلقې یې ورمېږ مات او چیغې یې غلې کړې.

سهار ته یې د لښکر مهم قوماندانان را وغوښتل، امر یې وکړ چې خپل څو کسان د جاسوسانو په جامه کې کندهار ته ولېږي او د میرویس خان د جنګیالیو د شمېر او جنګي امکاناتو په اړه معلومات راوړي.

خسرو خان هوښیار سړی و، مخکې تر حملې یې د قومونو په اړه معلومات ټول کړي ول، پوهېده چې په دې خلکو کې د غلجي او ابدالي کیسه توده ده، ده د قومونو په بې اتفاقی کې خپل بریالیتوب لید. ځکه یې وار له واره پر کندهار د حملې پر ځای د ابدالیو مشر عبدالله خان د هرات والي مقرر کړ، خو عبدالله خان ډېر ژر د خسرو خان په هدف پوه شو او ولایت یې پرېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خسرو خان نهیلی نه شو، ده هڅه کوله چې ځینې وړې قبیلې د ځان ملګرې کړي، خو میرویس نیکه هم غلی نه و ناست. د ده په امر ټولې کروندې ورېبل شوې او حاصلات یې کلاوو ته یووړل.

میرویس خان پوهېده چې ښار محاصره کېږي، ځکه یې د دوو کالو غله ــ دانه او نور ضروري مواد ذخیره کړل.

ده ځینې قومي مشران نورو قبیلو ته ور ولېږل، هغوی ته یې پیغام ورووړ چې په یوالې کې مو برې دی او که دا ځل دښمن ته تسلیم شوئ، نو بیا د پیړیو له پاره د ازادۍ خوبونه مه وینی.

د میرویس نیکه په امر له عمومي دروازو پرته د اوو کلاوو نورې ټولې دروازې په تیږو بندې شوې. ده د ټولو جنګي کلاوو دېوالونو ته اضافه توپونه وخېژول، تر ښار ګرد چاپېره سرپټې مظبوط سنګرونه جوړ شول.

ده د ښار اوسیدونکو ته ډاډ ور کړ چې تر خپله وسه به د دوی دفاع کوي، خو ځینې کسان نه قانع کېدل، د دوی په زړونو کې وېره ننوتې وه، له ښاره به هره ورځ څو کډې وتلې.

میرویس نیکه خپله کورنۍ راوسته او په یوه جنګي کلا کې یې واړول. ده د ښار اوسیدونکو ته وویل چې خسرو خان د ګرګین وراره دی او د خپل تره په انتقام پسې راوتلی. که ښار وساتئ، خسروخان ماتې خورې او که ښار پرېږدئ، بل ځای هم نه شی ترې خلاصېدی.

کډې ودرېدې، ځینې تللي کسان هم بېرته راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس نیکه ټولو نارینه وو ته امر وکړ چې د خپلو کورنیو ښځې، پیغلې او تنکي ځوانان په ټوپک وپوهوي او د ضرورت پر مهال دې له ځانه دفاع وکړي.

وروسته یې هرې کلا ته یو،یو قوماندان وټاکه، جنګي کلا یې سیدال خان ناصري ته ورسپارله، د نورو کلاوو مسوولیت یې بابو جان، بهادر خان، ملا پیرمحمد میاجي، عزیزخان نورزی، نصروخان الکوزی،... او د نورو قوماندانانو پر غاړه ور واچاوه.

بیا یې له خپلو پنځلسو زرو جنګیالیو څخه درې زره سپاره بېل کړل، د د دوی مشرې یې داوود خان هوتک ته ورکړه چې فراه، سیستان او ګلستان ته لاړ شي او له خلکو مرسته وغواړي.

په خپله له دوو زرو کسانو سره له ښاره ووت او د هلمند د بست کلا په زړو کنډوالو کې پټ شو.

دیارلسمه ( ورستۍ) برخه

* * *

سپېدې چاودلې وې، خو لا هم پورته څو رانه ستورې ځلېدل.... کله کله به یو آس وشنېد، یو ټوخی به راغی، په غونډیو کې به یوه لېوه وانګولل...

داوود خان هوتک له خپل لښکر سره بېرته را روان و، په لښکر کې یې زر سپاره جنګیالي اضافه شوي ول، اوس یې شمېر څلورو زرو ته رسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د شګلنو غونډېو په پیڅکو کې روان ول. کله کله به یوه آس ټوده ووهله، مخکینۍ پښې به یې تر زنګنو په شګو کې ننوتې.

هوا ولاړه وه، شګې پر خپلو ځایونو پرتې وې.

یو ناڅاپه ځررر شو، د داوود خان هوتک یوه جنګیالې چیغه کړه، لاندې ولوېد.

مخامخ شګې باد شوې، له شګو په سلګونو کسان را ووتل، غشې وورېدې، د داوودخان څو سپاره یو په بل پسې ولوېدل.

داوود خان چیغه کړه!

_کمین دی!

آسونه وشنېدل، د داوود خان جنګیالیو خپلې ټوپکې تشې کړې، له شګو راوتلې څو جنګیالي یو په بل پسې ولوېدل.

داوود خان چیغه کړه!

_شاته وګرځئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آسونو مخې را وګرځېدې، د داوود خان لښکر شاته لاړ. لیرې په دښته کې ودرېد، وارخطا جنګیالیو مخامخ غونډیو ته کتل، هېڅ هم نه و.

داوود خان ناره کړه!

_تش شوي ټوپکونه ډک کړئ!

ټوپکونو ته باروت، چرې او پلتې ور ولوېدې.

واړه قوماندان راغلل، له داوود  خان سره ودرېدل، ټولو مخامخ غونډیو ته کتل...لیرې د یوې غونډۍ پر سر یو تور ټکی ښکاره شو، ټکی ورو، ورو غټېده. د غونډۍ پر سر یو سپور ودرېد.

ورپسې پر یوه اوږده لکړه پیېلی بیرغ ښکاره شو، شېبه وروسته د غونډیو سرونو زرګونو سپرو واخیست.

داوود خان وویل:

_د خسرو خان لښکر دی.

غلی شو. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_څه کوو؟

يوه قوماندان وويل:

_پرې ورځو!

بل په خبره کې ور ولوېد:

_نه، تباهي ده! ورته وګورئ!

ټولو غونډيو ته کتل، خړې غونډۍ تکې تورې ښکارېدلې.

داوود خان وويل:

_تاواني کېږو. څلور زره کسان له دېرشو زرو جنګياليو سره نه دي برابر.

د يوه قوماندان ټنده تروه شوه:

_نو وتښتو؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوود خان وویل:

_هو!

_خو دا بې غیرتي ده.

_خو زه په ځان وژنه کې غیرت نه وینم!

لښکر ته یې مخ ور واړاوه! چیغه یې کړه!

_شاته ګرځو!

قوماندانانو ته یې وکتل، ویې ویل:

_جګړه کوو، خو دلته نه! دا دښته مو په ګټه نه ده. موږ باید د بست د کلا تر کنډوالو پورې ځانونه ورسوو.

غلی شو، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_د خسرو خان له لښکره دومره فاصله ونیسئ چې د توپ ګولۍ مو ونه خوري.

یوه وویل:

_خو که هغوی راپسې را چټک شول، بیا؟

_په دې شګو کې آسونه دومره تېز نه شي تلای، بل دا چې خسرو خان په لسګونو درانه توپونه لري، سلګونه بګۍ یې له خوراکي او نورو موادو ډکې دي، تېز نه شي تلای!

_خو ټوله دښته شګه نه ده، که کلکې ته ورسېدو بیا؟

داوود خان وویل:

_بیا به یې هغه وخت ګورو، اوس حرکت کوو.

لښکر حرکت وکړ، دوی د خسرو خان له دېرشو زرو سپرو شخه په ګلالۍ فاصله کې مخکې روان ول.

دوه درې ځله توپونه وغرمبېدل، خو ګولۍ یې لیرې لګېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرمې ته شګې کمې شوې، پسته ځمکه ورو ورو کلکېدله....آسونه ګړندي شول، خو لا هم د دواړو لښکرو تر منځ ډېره فاصله پرته وه.

ماسپښین سپېره دوړه راغله. سترګې نه رڼې کېدې، خو د داوود خان جنګیالي ونه درېدل.

مازدیګر دوړه کېناسته، د خسرو خان لښکر نه ښکارېده. آسونه ستړي ول، داوود خان له دمې پرته بله چاره نه لیده، خو خپلو دوو سپرو ته يې امر وکړ چې په چټکۍ سره د بست د کلا تر کنډوالو لاړ شي او میرویس نیکه ته احوال ور وړي چې د دښمن لوی لښکر در روان دی.

له تیارې سره لیرې په دښته کې سرې رڼاوې بلې شوې. د داوود خان جنګیالیو حرکت وکړ، دوی تر هغو مخکې لاړل چې رڼاوې ورکې شوې.

د شپې يې په دښته کې واړول، پیرې ودرېدې، ستړي لښکر سترګې پټې کړې.

نیمه شپه یو پیره دار پر ځمکه پرېووت، پر سپېرو خاور يې غوږ و لګاوه، ځمکه نرۍ نرۍ درببېدله.

شپېه وروسته ټول لښکر ویښ شو، په شپه کې يې حرکت وکړ، سپېده چاود روانو اوبو ته ورسېدل، جنګیالي د اوداسه له پاره له آسونو کښته شول، ډزې شوې...څو کسان اوبو ته ولوېدل، نورو آسونو ته ور منډه کړه، پر زینونو پورې تړلې ټوپکې يې را واخیستې.

توره غوټه را راوانه وه. دوه ، دوه نیم زره کسان ښکارېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د داود خان جنګياليو ګونډې ووهلې، د ټوپکو له نليو سپينې لوخړې را ووتې، د دښمن لسګونه کسان ولوېدل.…

تورې را وختې، لاس په لاس جګړه ونښته، رواني اوبه سرې شوې....د خسرو خان عسکر يو په بل پسې لوېدل، د شاته تګ چيغې پورته شوې، پاتې عسکر بېرته شاته  وتښتېدل.

داوود خان چيغه کړه!

_هلئ! وخت مه ضايع کوئ! د خسرو خان سلامت لښکر را روان دی، خپل ټپيان را ټول کړی، له دې ځايه ځو.

درب شو، د توپ ګولی ولګېده، د داوود خان تنده سره شوه، لاس يې ور ووړ، تورې ختې وې.

داوود خان چيغه کړه!

_د بست  د کلا کنډوالو ته نږدې يو! هلئ!

*   *   *

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوا توده وه، د ستړو آسونو له خولو سپين ځګونه بهېدل... د سپرو مخونه سپېره ښکارېدل.

میرویس نیکه وویل:

_څومره تلفات لرې؟

داوود خان سړه سا وایسته:

_نه پوهېږم، درې- درې نیم سوه ته رسیږي.

میرویس نیکه د بست دروازې ته نږدې ټيټې غونډۍ ته وخوت. چيغه يې کړه!

_سل کسه له ټپیانو سره لاړ شئ. نور په ړنګو دېوالونو کې مورچې ونيسئ!

يوه آس هم حرکت ونه کړ.

د لښکر له مینځه يوه چيغه راغله!

_موږ جګړه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس نیکه وویل:

_پوهېږم، خو موږ دلته تر ډېره مقاومت نه شو کولی، د تګ په وخت کې به د ټیپانو انتقال اسانه نه وي. هلئ نو، سل سترې کسان را مخته شئ.

ټول غلي ول.

میرویس نیکه چیغه کړه!

_دا یو امر دی!

څو کسان را مخته شول او له ټیپانو سره یې د کندهار د ښار په لور حرکت وکړ.

د میرویس نیکه په امر څه کم شپږ زره جنګیالي په کنډوالو کې پټ شول. میرویس نیکه آس ته پونده ورکړه، په دښته کې مخکې لاړ، ودرېد، له لیرې یې ړنګو دېوالونو ته وکتل، له سپېرو کنډوالو پرته هېڅ نه هم ښکارېدل.

بېرته غونډۍ ته وخوت، د یوه دېوال سیوري ته کېناست، دښتې ته یې وکتل، لیرې مړه دوړه ولاړه وه.

شېبه وروسته توره غوټه ښکاره شوه، سراب و، غوټه په هوا کې لړزېدله، تر ځمکې پورته ولاړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت ووت. د زرګونو آسونو پښې پر ځمکه لګېدلې.

میرویس نیکه وویل:

_یو وار کوو، خو پوخ وار.

غلی شو، داوود خان ته یې وکتل، ویې ویل:

_په جنګیالیو باندې وګرځه، د د ښمن د توپ له لومړۍ ګولۍ سره شاته ګرځو.

داوود خان ورو ولاړ شو، تر یو څه ځایه پر ملا کړوپ ته، وروسته تر دېوال پټ شو.

وخت ووت، داوود خان بېرته راغی، پرېووت، ویې ویل:

_توپک ور رسېږي!

میرویس نیکه وویل:

_مه کوه! یو څه نور هم باید ماتل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت ووت، د آسونو د پښو دربا او د درنو توپونو غنجا راتله. میرویس خان خپله کینه سترګه پټه کړه، د مخې سپور یې د ټوپک په زخه کې راووست، ورو یې وویل:

_اوس یې وخت دی.

ماشه یې کش کړه، ډز شو، سپور لاندې ولوېد.

له کنډوالو په زرګونو ټوپکې تشې شوې، په دښته کې آسونه وشنېدل، میدان تېرو چیغو پر سر واخیست، د خسرو خان لښکر شاته لاړ. ګڼ مړي او ټپیان ترې پاتې شول.

میرویس خان وویل:

_اوس نو ټوپک نه ور رسېږي، مخکې تر دې چې د دښمن توپونه وغړمبېږي، باید دا ځای پرېږدو.

* * *

سور لښکر د کندهار ښار ته نږدې واړول. خیمې ودرېدې، درانه توپونه په اوږده کتار کې منظم شول، د پسونو غاړو ته چړې سیخې شوې، تور دېګونه بار شول...

(c) ketabton.com: The Digital Library



خسرو خان خپله کینه سترګه پټه کړه، نیم ګز اوږد دوربین یې ښی سترګې ته ور نږدې کړ، مخامخ یې وکتل، ویې ویل:

_مازدیګر ته حمله کوو.

یوه پوځي په خواره خوله وویل:

_صېب! لښکر ستړی دی!

خسرو خان چیغه کړه!

_احمقه! دومره صبر نه شم کولی، دا کوچیني ښار څه ستړیا غواړي، پرې ورشئ،ښار ته اور ورته کئ، غواړم چې د ماښام ډوډۍ د لمبو رڼا ته وخورم.

خسرو خان سرې خیمې ته ننوت. اوږد وغځېد. شېبه وروسته څو تنه قوماندانان ورغلل، پر مېز یې یو کاغذ وپېر کړ.

خسرو خان وویل:

_څه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



_صېب! د ښار نخشه، له کومې خوا پرې ورشو؟

خسرو خان وخندل، کېناست، نخشې ته يې وکتل، ويې ويل:

_ډېر وارخطا یاست؟

یوه قوماندان وویل:

_صېب! میرویس خان په زرګونو جنګیالي لري، زموږ د معلوماتو له مخې د هرې کلا دېوالونو ته توپونه خېژول شوي دي.

موږ...

خسرو خان چیغه کړه!

_د وېرې خبرې مه کوئ! څه کم، دېرش زره کسان یو وړوکی ښار نه شئ نیولی!

غلی شو، نخشه يې ور واخیسه، ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_جنګي کلا تر ټولو را نیږدې ده! له همدې خوا پرې ورځو، توپونه ور مخکې کړئ! حمله به تر لمر لوېدو مخکې کوو.

نخشه یې سره ټوله کړه، تر څنګ ولاړ په ونه لوړ ځوان ته یې وکتل، ویې ویل:

_قلي بېګه! لومړی به ستا تر قوماندې لاندې اووه زره جنیګالي پر ښار ورځي!

عباس قلي بېګ وویل:

_په سترګو!

په تا پسې به لس زره نور سپاره در روان وي، قومانده یې زه په خپله غاړه اخلم، اوس اوولس زره کسان بس دي.

ټول غلي ول....

خسرو خان نخشه ور ټوله کړه، و یې ویل:

_د حملې له پاره تیاری ونیسئ! خو ګورئ! ان ولاړه لوټه به هم تر پښو لاندې کوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

درب شو، میرویس نیکه منډه واخیسته، د چهل زینو د غره پر لوړه ودرېد، د توپ د ګولۍ دوړه جنګي کلا ته نږدې ولاړه وه.

څو پرله پسې توپونه ودربېدل، د ښار څنډې له دوړو ډکې شوې. له کلاوو د ښځو او ماشومانوچیغې راتلې.…

میرویس نیکه د یوه توپ تر څنګ ودرېد.

توپچي وویل:

_صېب! د دښمن د خیمو تر مخ توري غوټې ښکارې، فکر کوم چې توپونه ښار ته را نږدې کوي. ستا امر ته ماتله یو.

میرویس  نیکه وویل:

_موږ په لوړه کې یو، له دې ځایه د  توپ ګولۍ ور رسېږي، خو مه کوه! یو څه باید نور هم را نېږدې شي.

وخت ووت، میرویس نیکه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_اوس يې وخت دی!

د چهل زینو د غره پر لوړو اېښودل شوي لس توپونه یو په بل پسې وغړمبېدل. د دښمن په لیکه کتار توپونو کې دوړې پورته شوې.

له هاخوا هم د توپونو له خولو سپین لوګي را ووتل، ځیني ګولۍ د جنګي کلا پر دېوالونو ولګېدې، نورې تر کلا واوښتې، په ښار کې څو ځایه سرې لمبې را وګرځېدې...

توپونه غلي شول، د دښمن د خیمو تر مخ زرګونه سپاره ودرېدل. مخکې راغلل، بېرته ودرېدل. د لومړي لښکر تر شاپه لنډه فاصله کې بل لښکر ودرېد، دوهم لښکر لوی و.

میرویس خان چیغه کړه!

_توپونه تیار کړئ!

د عباس قلي بېګ په مشری اووه زره کسیز لښکر حرکت وکړ، آسونه تېز شول، چیغې راتلې...

میرویس نیکه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_اوس!

ځمکه ولړزېده، لس توپونه په یو بل پسې تش شول. د جنګي کلا د دېوالونو پر سر ایښي توپونه هم ودربېدل. د عباس قلي په لښکر کې سرې لمبې را وګرځېدې، دوړې پورته شوې... آسونه ولوېدل، له درده ډکې تېرې چیغې اورېدل کېدې، خو لښکر ونه درېد، هماغسې مخکې روان و.

شېبه وروسته له دواړو خواوو زرګونه ټوپکې تشې شوې...د جنګي کلا له دېوالونو ګڼ جنګیالي ولوېدل.

د خسرو خان تر قوماندې لاندې لس زره کسان هم د کلا تر دېوالونو ور ورسېدل.

د توپونو او ټوپکو له خولو اورونه بادېدل، ښار د ښځو او ماشومان له چیغو ډک وو.

میرویس نیکه چیغه کړه!

_د بهادر خان د حملې وار دی!هینداري تیارې کړئ!

څو لویو آینو ته د مازدیګرني لمر ژېړې وړانګې سیخې شوې.

ناڅاپه د قیتول د کلا عمومي دروازه خلاصه شوه، د بهادر خان تر مشرۍ لاندې څلور زره جنګیالي له کلا را ووتل، د خسرو خان پر لښکر ورغلل...څلور زره ټوپکې یو ځای تشې شوې، د خسرو خان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلګونو جنګیالي ولوېدل. د خسرو خان لښکر شاته لاړ، د عباس قلي او خسرو خان د لښکرو تر مینځ فاصله ډېره شوه.

له کلاوو، کورونو، ونو، کوڅو... ډزې کېدې، د حسن قلي جنګیالي یو په بل پسې لوېدل...

د دښمن په لښکر کې وېره او وحشت ګډ شو، د شاته تګ نارې پورته شوې. ماښام په خپلو خیمو کې ول.

خسروخان په غوسه ښکارېده، ده په لومړۍ حمله کې یو نیم زر تلفات درلودل.

په یوه میاشت کې یې پر ښار درې نورې حملې هم وکړې، خو له تلفاتو پرته یې کومه ګټه ونه لیده، دا ځل د جنګي کلا تر څنډو پورې هم ونه رسېد.

خسرو خان وپوهېد چې د ښار نیول اسانه خبره نه ده، ده یو بل فکر وکړ، خپلو قوماندانانو ته یې امر وکړ چې د ښار د محاصرې تیاری ونیسي.

ده د ښار په محاصره کې بریالیتوب لید.

خپلو قوماندانانو ته یې وویل:

_د ښار اوسیدونکي بله لاره نه لري. درې، څلور میاشتې وروسته به یا له لوږې مري، یا به تسلیمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

میرویس نیکه له اوله پوهېده چې ښار تر محاصرې لاندې راځي، ده خپل قوماندان را وغوښتل، اوږدې محاصرې ته د تیاري په اړه وغږېدل، ویې ویل چې د دوو کلونو له پاره خواړه لري، خو بیا دې هم له خوراکي موادو سره احتیاط کوي.

وروسته یې وویل چې د ښار د باندې هم باید یو څوک ولرو چې د قبیلو له مشرانو سره خبرې وکړي، لښکر جوړ کړي او راتلونکي ته تیاری ولري. ده دا مسوولیت سیدال خان ته ور وسپاره، خو سیدال خان او نورو قوماندانانو وویل چې د دې کار له پاره تر ټولو میرویس نیکه ښه دی، دی د قبیلو له مشرانو سره په ژبه پوهېږي، له ټولو قومونوسره نېک راوبط لري، باوري کس دی او ډېر خلک پرې را ټولېدای شي.

میرویس نیکه نه منله، ویل یې چې خپل اولس یواځې نه شي پرېښودلای، خو د نورو ټینګار دې ته اړ کړ چې د هغوی خبره ومني.

قوماندانانو وویل چې دا محاصره اوږده ده، میرویس نیکه دې خپله کورنۍ هم له ښاره وباسي، خو میرویس نیکه وویل چې ټول ښار د ده کورنۍ ده. که ښار مرې که پایي، د ده کورنۍ به هم ورسره وي.

میرویس نیکه په دوهمه ورځ یواځې له سلو جنګیالیو سره له ښاره ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه اوونۍ وروسته تر ټول ښار پردي عسکر راوګرځېدل،خسرو خان خپلو جنګياليو ته امر وکړ چې د هوا مرغان به هم ښار ته له ننوتو او راوتو راګرځوئ!

ميرويس نيکه لومړی کلات ته لاړ، له مختلفو قومونو سره وغږېد، ټولو د مرستې ژمنه ورکړه. مياشت وروسته يې د چمن او بوري خواته حرکت وکړ، له بلوڅو، کاکړو او د نورو قومونو له مشرانو سره يې خبرې وکړې، بيا د ابداليو ځينو پاتې مشرانو ته ورغی، ټولو قبيلو د خپل ګډ کور د خلاصون له پاره د مرستې تړونونه ووهل.

ميرويس نېکه له مختلفو قومونو درې زره جنګيالي برابر کړل، مانجې ته لاړ، همالته يې واړول، کله کله به له ښاره د کوترو په واسطه پيغامونه ور ته را رسېدل. تر دې دمه د ټولو قوماندانانو روحيه قوي وه.

محاصره اوږده شوه، کله کله به دواړو غاړو ته توپونه وغړمبېدل، خو د خسرو خان لښکر له خپلو مورچو مخکې نه ورتلل.

د مني په يوه سړه شپه کې د سيدال خان زر تکړه سپاره له ښاره راووتل، د ښار په لويديځه برخه کې يې د خسرو خان پر عسکرو يرغل ور ووړ، خو ګټه يې ونه کړه، له راغلو زرو جنګياليو ايله څلورو سوو کسانو بېرته روغې پښې يووړې.

ميرويس نيکه يو کوچينی کاغذ د کوترې پر پښه ور وتاړه، سيدال خان ته يې ليکلي و چې د خسرو خان د لښکر خوراکي مواد په خلاصېدو دي، ډېر وخت مقاومت نه شي کولای. اوس يوازې ښار وساتئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میرویس نیکه خبره سمه وه، د خسرو خان د عسکرو خوراکه اپله پنځه میاشتې بس شوه. زرګونو آسونو هم وابنه غوښتل، خوار او ناروغ آسونه به چړو ته سیخېدل. وږو عسکرو به د آسونو غوښې خوړلې.

خو د پسرلي په پیل کې بېرته ښه شول، ښار ته نږدې یې له هلمنده د راتلونکو کوچیانو په سلګونو مېږي، پسونه او اوښان را وګرځول او وږی لښکر د یو څه وخت له پاره بېرته موړ شو.

آسونه هم بېرته یو څه په غوښه پټ شول، شنه باغونه، د ونو پاڼې او راشنه شوي وابنه ورته ښه ول.

میرویس نیکه د کوچیانو د تګ لاره بدله کړه. ده د کندهار لویدیځو او شمالي برخو ته خپل کسان ولېږل چې پر دښتو یې پام وي.

د جوزا د میاشتې په لومړیو کې یې، هغه سلګونه په خوراکي موادو بار اوښان را وګرځول چې له هراته د خسروخان مرستې ته راتلل.

د خسرو خان په لښکر کې بیا لوږه ډېره شوه، دوی به د روغو آسونو پر ستونو چاړې ور تېرولې.

خو د هوا په ګرمېدو سره د میرویس نیکه زړه ولوېد. سیدال خان ورته لیکلي و چې د غنمو په ذخیرو کې تورې وړې حشرې پیدا شوې او تر نیمایي ډېر غنم یې له خوراکه ایستلي دي.

د اوړي په لومړیو کې د میرویس نیکه جنګیالي ډېر شول. له غزني، کلات، هلمند او نورو سیمو ګڼ کسان راغلل. د میرویس نیکه د جنګیالیو شمېر شپږو زرو ته ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ښاره خواشینوونکي پیغامونه را رسېدل، یواځې ماشومانو درې وخته وچه ډوډۍ خوړلی شوای. نورو به په دوه وخته گوزاره کوله.

میرویس نیکه یو ځل د محاصرې پر لیکې حمله ور وړه، نه کېده، د خسرو خان جنگیالیو سخت مقاومت وکړ، بېرته را وگرځېد.

میرویس نیکه فکر وکړ، ده باید د دښمن ځینې عسکر له مورچو را ولاړ کړي وای. یوه شپه یې د محاصرې لیکې ته نېژدې څو پسونه پرېښودل. له سپېده چاود سره د خسرو خان دوه، دوه نیم سوه وږي جنگیالي له خپلو مورچو منډه ور واخیسته، خو په ونو او کنډوالو کې د میرویس نیکه ناستو جنگیالیو د ټوپکو نلۍ ور واړولې، دوه، دوه نیم سوه کسان یو په بل پسې ولوېدل، خو دا چل بیا نه شوای تکرارېدی.

په ښار کې هم لوږه ډېره وه، د ماشومانو درې وخته ډوډۍ، دوه وخته شوې وه، لویانو ته به یواځې یو وخت ډوډۍ ورکول کېدله.

میرویس نیکه خواشینی و، نه یې خوراک ته زړه کېده او نه یې هم پوره خوب درلود. ډېر وخت به په فکرونو کې ډوب و. ده باید د ښار محاصره ماته کړې وای.

سردردې ورته پیدا شوه، کله کله به یې له پزې وینه راتله. طبیبانو د استراحت مشوره ورکړه، خو میرویس نیکه کرار نه کېناسته، دی به سره لمر ته ټوله ورځ پر آس سپور و، تر محاصرې به را گرځېده، د دښمن کمزوري ټکي به یې مالومول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله کله به يې آس ليرې ودراوه، سلګونه ګزه به پر سينه وښويېد، د انګورو په وچو جووو او لښتيو کې به مخکې لاړ، د محاصرې ليکې ته به نږدې ورغی، په ساعتونو ساعتونو به د اوړي سره لمر ته پروت و او د دښمن جنګياليو ته به يې په ځير ځير کتل.…

يوه غرمه د نورو خيمو په مينځ کې ولاړې يوې لويې خيمې ته بګی ودرېدې، ميرويس نيکه ورته ځير شو، ځو ځله يې پر سترګو لاغلې خوله پاکه کړه، بګيو ته د لرګي درانه صندوقونه ور پورته کېدل.

بګی ډکې شوې، حرکت يې وکړ، د محاصرې له خط سره سمې تلې، خو چېرته چې به توپ و، وبه درېدې، هر توپ ته به ځو صندوقونه کښته کېدل.

ميرويس نيکه وپوهيد چې دا لويه خيمه د توپ له ګوليو ډکه ده.

بله شپه يې درې سوه جنګيالي ور سره کړل، له ټولو سره يوائې غشي او ليندۍ وې، خو د غشوځوکو ته په تېلو لړلې ټوټې ور اغوستل شوې وې. دوی په تياره کې مخکې لاړل. وچو باغونو ته ورسېدل، د اوږده ړنګ دېوال شاته کېناستل، ځو ځايه يې له ځان سره وړو وچو ځوځو ته خوله ورکړه، د غشو پر سر تړلو غوړو ټوټو اور واخيست، په يوه ځل درې سوه بلې غشې پر لويه خيمه ورغلې.

په خط کې چيغې شوې، ټوپکې وډزېدې، له دېواله مړې لوټې راولوېدې. ميرويس نيکه له خپلو ملګرو سره شاته منډه واخيسته، ځو کسان ولوېدل، نورو ليرې د باغونو په ړنګو دېوالونو کې سا ونيوله.

ټولو خيمې ته کتل، چيغې وې، اور ته د اوبو ډک سطلونه ور وړل کېدل.…

(c) ketabton.com: The Digital Library



یودم درب شو، ځمکه ولړزېده، میرویس نیکه پر دېوال لاس ونیو، غوږونه یې ډب شول.

په لویه خیمه کې د توپ سلګونه ګولۍ چاودلې وې. لویې خیمې ته نږدې خیمو هم اور اخیستی و.

میرویس نیکه سهار وختي پر آس پښه واړوله، له لیرې یې د چاودنې ځای ته وکتل، پراخه ساحه تکه توره ښکارېدله. په هدیره کې د خسرو خان وژل شویو پوځیانو ته سلګونه نوي قبرونه کیندل کېدل.

د خسرو خان په لښکر کې وېره خپره شوه، یوولس میاشتې محاصرې له لوږې او نا امیدي پرته بل څه نه لرل.

یوه ورځ خسرو خان ته خپل څو قوماندان ورغلل، وړاندیز یې دا و چې محاصره ماته او بېرته د هرات خواته حرکت وکړي.

د خسرو خان له خولې لاړې باد شوې، ورغلي قوماندان یې توپ ته وتړل.

دې کار د ډېرو جنګیالیو روحیه لا پسې کمزورې کړه، په ستړي او وږي لښکر کې ګډوډي ډېره شوه، ډېرو پوځیانو دا محاصره بې فایدې ګڼله...په سر تېرو کې به برالا چیغې اورېدل کېدې چې موږ خپلو کورونو ته ځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خسرو خان سره مخالفتونه ډېر شول، مجبور و، محاصره یې ماته کړه، درویشت زره ورپاتې پوځيان یې د ښار جنوبي څنډو ته ورټول کړل.

* * *

میرویس نیکه له خپلو پنځو زرو جنګیالیو او له خوراکي موادو ډک کاروان سره ښار ته ننوت. کاروان ته په زرګونو تور، خیرن او ډنګر لاسونه ور وغځېدل. سپرو په پاستو کې پيچلي پخې غوښې ورکولې.

کورونه ړنګ ول، دېوالونه تور ښکارېدل، د زرګونو وږو_ زږو، ښځو او ماشومانو د غومبرو هډوکې را ختلي ول.

میرویس نیکه له آسه کښته شو، په ړنګو دېوالونو کې سره لمر ته پرتې ماشومې ته ور وګرځېد.
کېناست، یوه شېبه یې د ماشومې ببرو وېښتو، شکېدلو جامو او په ډنګر، سپېره مخ کې تر پټو سترګو را ګرځېدلو تورو حلقو ته وکتل. غاړې ته یې لاس ور ووړ، سړه وه.

یودم یې ماشومه له ځمکې را پورته کړل، د هغې سر یې پر خپل تټر پورې ولګاوه. غریو واخیست.

ماشومه یې د یوه ړنګ دېوال سیوري ته پرې ایښته. ودرېد، شاو خوا یې وکتل، په خاورو کې ښځې او ماشومان ناست ول، له چاودو، خیرنو ، ډنګرو ګوتو یې غوړ څڅېدل، پر پخو غوښو یې بې واره خولې لګولې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس نیکه یوه بام ته وخوت، د بازار او کورونو ړنګ دېوالونه لوګو وهلي ول…

له بامه کښته شو، آس ته ور وګرځېد، پر اوږه یې لاس ولګېد، په بېړه یې مخ ور واړاوه. څلور هډوکي، ډنګره پېغله ولاړه وه.

میرویس نیکه په ځیر ځیر ورته وکتل.

نجلۍ په غریو کې وویل:

_ابا! زه یم، زینبه!

میرویس نیکه یو دم خپله لور په غېږ کې ونیوله، زینبې په چیغو چیغو وژړل…

د میرویس نیکه په سترګو کې اوښکې ډنډ وې، یوه شېبه یې خپله لور په غېږ کې ونیوله، بیا یې پر ککرۍ ښکل کړه، په غریو کې یې وویل:

_نور چېرته دي؟

یو غږ یې واورېد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ابا!

ور ویې کتل. محمـود او حسین دواړه ولاړ ول. په لاسونو کې یې ټوپکې ښکارېدلې.

میرویس نیکه تر دریېو واړو اولادونو یو ځای لاسونه را وګرځول. ټولو یوه شېبه اوښکې تویې کړې، بیا یې یو یو پر ټنډه ښکل کړل. پر خپلو لندو سترګو یې لستونی تېر کړ، ویې ویل:

_مور مو ښه ده؟

زینبې وویل:

_هو، د نارنج په مانۍ کې د ناروغو ښځو او ماشومانو خدمت کوي.

میرویس نیکه یو ځل بیا خپلو اولادونو ته وکتل، له اوښکو ډکې سترګې یې وځلېدې، یودم یې وخندل:

_حسینه! ته ډېر نه یې خراب شوی، تر زینبې او محموده یو څه په غوښه پېټ یې، د نورو حق خو به دې نه وي خوړلئ!

زینبه په ژړا کې خندا واخیسته: :

(c) ketabton.com: The Digital Library



_نه ابا! مور او محمود ورور مې موږ دواړه په ګېډه ماړه ساتلو، خپله برخه وچه ډوډۍ به يې راسره نيموله.

میرویس نیکه یو ځل بیا خپل اولادونه په غېږ کې ونیول. ویې ویل:

_وروسته به په کراره کیسې سره کوو، هلئ! اوس ورږي ماشومان ماړه کړئ!

درې واړو د خپل پلار لاسونه ښکل کړل.

میرویس نیکه پر ټولو کلاوو را وګرځېد، نیمايي ښار ړنګ و، د کلاوو برجونه اودېوالونه توپونو خوړلي ول. د څهل زینو د غره په لمنه کې د ښار عمومي هدېره څو ځله لویه شوې وه.

میرویس نیکه د جنګي کلا زېرزمیني ته ور کښته شو، په سلګونو ناروغان پراته ول، طبیبانو نوي راوړي درمل ورکول...په دوهمه ورځ يې د نارنج د ماڼۍ په لوی سالون کې قوماندانان او د قبیلو مشران را ټول کړل. د ټولو زړونو ته لوېدلې وه چې خسرو خان پر ښار وروستۍ حملې ته تیاری نیسي.

دوی پوهېدل چې دا جګړه برخلیک ټاکونکې ده. ماته خوا به له ربښو راخېژي.

میرویس نیکه له ټولو قوماندانانو راپور وغوښت. یو ساعت وروسته وپوهېد چې شپاړس زره جنیګالي لري او د توپونو ګولۍ هم د یوې زوروري حملې له پاره کفایت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده غوښتل چې دا ځل له ښاره د باندې پر دښمن حمله وکړي. میرویس نیکه پوهېده چې د خسرو خان جنګیالیو ته کال مخکې جنګي روحیه نه ده ور پاتې. وږي او نهیلي دي. ده په لومړي او ناڅاپي برید کې خپله ګټه لیده.

میرویس نیکه خپلو قوماندانانو ته د جګړې د تیاري امر وکړ. هغوی ته یې وویل، مخکې تر دې چې خسرو خان خپل لښکر تیار او پر ښار راشي، موږ له ښاره ور وځو.

دوی تر نیمې شپې د جګړې پر نخشه وغږېدل. په سبا یې د څهل زینو او جنګي کلا پرته نور توپونه د ښار مینځ ته راوړل، د ماښام په تیاره کې له پلان سره سم، عزیز خان نورزی له څلورو زرو جنګیالیو سره له ښاره ووت.

ماخستن ټول ښار د ډولونو غږ پر سر واخیست. هر توپ پر دو قوي آسانو پسې وتړل شو. د توپونو د ارابو غنجا د ډولونو په غږ کې ورکه وه.

تر نیمې شپې له ښاره پنځوس توپونه ووتل او په داسي کندوالو او هوارو ځایونو کې ودرول شول چې ګولۍ یې د خسروخان سلګونو خیمو ته ور رسېدای شوای.

له هرې کلا په زرګونو جنګیالي را ووتل، تر سپیدو مخکې د جنګي کلا تر مخ اته زره آسونه ولاړ ول. چوپه چوپتیا وه، په اتو زرو جنګیالیو کې ټوخی هم نه اورېدل کېده، کله کله به یو _نیم ځای اغوستې زرې وشرنګېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اوږدې چوپتیا وروسته میرویس نیکه وویل:

_اوس یې وخت دی.

د جنګي کلا په یوه برج کې مشعل بل شو، ناڅاپه د پنځوسو توپونو له خولو سرې لمبې را ووتې، ځمکه ولړزېده، د خسرو خان په ویده لښکر کې اورونه بل شول.

میرویس خان خپل آس ته پونده ورکړه، زوروره چیغه یې له خولې راووته!

_حمله!

اتو زرو آسونو مخامخ منډه واخیسته، تر خپلو توپونو تېر شول، له مقابل لورې یواځې د توپونو دوې ګولۍ راغلې، د عزیز خان نورزي څلورو زرو جنګیالیو د دښمن توپچیان سر پورته کولو ته نه پرېښودل.

له رڼا سره تن په تن جګړه ونښته. چیغې وې، توري شرنګېدې...وینو دارې وهلې.…

د خسرو خان د جنګیالیو تلفات ډېر و، دې ناڅاپي حملې خوبولو وارخطا عسکرو ته دومره وخت نه و ورکړي چې ان خپلې زرې واغوندي. توپچیان یې هم توپونو ته نه شوای ور ولاړېدای.

لمر را وخوت، له مړو دوړو چیغې او د تورو شرنګا راتله.…

(c) ketabton.com: The Digital Library



خسرو خان پر آس سپور و، دی زړور جنګېده.

میرویس نیکه ځان ور ورساوه، د دواړو تورې سره وجنګېدې، تر مینځ یې یو سپور تېر شو، خسرو خان توپانچه را وایسته، یو غشی د میرویس خان د آس تر غاړې ووت،خسرو خان ماشه کش کړه، آس ولوېد، ګولۍ تشه تېره شوه.

میرویس خان ټوپک ته ور وښوېد، تش و. خسرو خان ته یې وکتل، توره یې په لاس کې وه، په تیزی سره راته. میرویس خان شاوخوا وکتل، هېڅ هم نه و. خسرو خان ته یې سترګې ور واړولې، په خاورو کې پروت و، نېزه یې تر زړه ختلې وه.

د دښمن په لښکر کې وارخطا چیغې پورته شوې:

_خسرو خان یې وواژه! خسروخان یې وواژه، خسرو…

د دښمن په لښکر کې ماته ګډه شوه، پلو او سپرو منډې وهلې…

شېبه وروسته ټوله دښته د انسانانو او آسونو جسدونو نیولې وه. د اورو لمبې لا نه وې ناستې. ځای ځای تور لوګي پورته کېدل.

د خسرو خان نیمایي عسکر وژل شوي وو. نور د هرات خواته په تېښته بریالي شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

غمونه هېر شول، خلکو له سلو کلنو وروسته د آزادۍاحساس کاوه. ټول خوشاله ول. د میرویس نیکه په امر جنګي کلاوي ببرته ورغول شوې، بازار او کورونه جوړ شول، په خلکو کې د خوشاله ژوند هیلې را وټوکېدې.

مېرویس نیکه شپه او ورځ کار کاوه، ټول پوځیان یې منظم کړل، پوځي چوکاټونه یې ورته جوړ کړل. د ده په لښکر کې له ټولو قومونو را ټول، شل زره منظم پوځیان موجود ول.

ده د هند مغولي حکومت ته خپل استازي ور ولېږل، له هغوی سره یې تجارتي روابط پیاوړي کړل.

د خسرو خان له ماتې وروسته یو ځل بیا صفوي حکومت یو لښکر جوړ کړ او د رستم خان تر قوماندې لاندې یې حملې ته را ولېږه، خو د کندهار تر څنډو هم نه را ورسېدل. مات شول او صفوي حکومت بلې حملې ته زړه ښه نه کړ.

میرویس نیکه شپه او ورځ د خپلو خلکو د هوساینې له پاره کار کاوه. سر دردي یې ډېره شوې وه، ډېر وخت به یې له پزې وینه راتله. طبیبانو داستراحت خبره ورته کوله، خو میرویس نیکه به ټوله ورځ د خلکو ستونزو ته د حل لارې لټولې، تر نیمې شپې به د قومونو له مشرانو سره ناست و. ټول یې یووالي او اتفاق ته رابلل...

اخیر ناروغۍ غلبه پرې وکړه، په دوه څلوېښت کلنۍ کې له پښو وغورځېد او په بستره کې پرېووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښار له خواشينی ډک و، وړو _زړو ژړل، دوی د خپل مشر د روغتیا له پاره دعاوې کولې...

*   *   *

وړه مرغۍ په هوا کې وچونېده، وزرونه يې خلاص کړل، پر شنه پټي ور کښته شوه، دهقان کولبه وهله، د ونې سيورې ته ناستې ځوانې ښځې ور غږ کړل:

_راځه! سا سمه که! نوين ( تازه ) کوچ مې له تاوده پاستې سره در ته راوړي دي.

مرغۍ پورته شوه، په دښته کې لوی تجارتي کاروان بې غمه روان و، يو مسلح کس هم نه ورسره ښکارېده.

مرغۍ د يوه ښار څنډو ته ورغله، څو ماشومانو په يوې سپينې جنت کوکۍ ( پتنګ ) پسې منډې وهلې... خندل يې، پايڅې يې ګنو وښو شنې کړې وې....ور هاخوا څو پېغلو له روانو اوبو منګې ډکول...

مرغۍ د ښار پر سر تېره شوه، ښار ژوندی و، دوکانونه له مختلفو خوراکي موادو ډک ول.

د ډول غږ راغی، په يوه کور کې واده و، ګڼو ځوانانو د اتڼ ګرده دايره جوړه کړې وه.

مرغۍ پورته وخته، د اوو کلاوو پر دېوالونو منظم پوځيان ولاړ ول، خپلواک بيرغونه رپېدل...د توپونو خولې تيتې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغۍ لاره چپه کړه، تر کروندو تېره شوه، لنډه دښته يې په مخه ورکړه، د يوه قبر پر سر پر را شنه شوې ترخه کېناسته.

د قبر په مرمرينه شناخته ليکل شوي ول:

_د ستر غازي او خپلواکي اخيستونکي الحاج ميرويس نيکه مقبره.

د زېږيدو نيټه ۱۰۸٤ ه ق کال _وفات ۱۱۲۸ ه ق کال

لاندې يې د ميرويس نيکه مشهوره وينا ليکلې وه:

))که سره يو نه شئ، له خپلو اوږو دپرديو جغ نه شی لري کولای.((

(پای)

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library